# دمبارزی زرغونه خلقی الفبأ

**د افغانی تولنی د نوی انقلابی مبارزینو لپاره د علمی نړی لید د اصولو او قانونمندیو پر اساس د لمړنی زده کړې لاربښود کتاب**
**الفباء خلقی زرغونه د مبارزی**
کابل افغانستان

کال: ۱۱ مرغومی (جدی) ۱۳۴۵ هـ ش کال
کابل – افغانستان
د رسالی نوم:................................. د مبارزی زرغونه خلقی الفبأ
مؤلف:......................................... شهید داکتر عبدالکریم «زرغون»
لمړی ځل په لیکلی توګه، مرتب او لیکونکی ...................... (هـ - پ ) ۱۳۵۲ هـ ش کال د جدی ۱۱ نیټه
دوهم ځل په لیکلی توګه، مرتب او لیکونکی .......................(هـ - پ ) ۱۳۵۸ هـ ش کال د دلوی ۱۶ نیټه

وانه – پشتونستان
دریم ځل په لیکلی توګه مرتب او لیکونکی ...................... (هـ پ) ۱۳۸۲ هـ ش کال د زمری ۲۸ نیټه

ننګرهار – جلال آباد
ترتیب کونکی او کمپیوتری چاپ ............................. (آګاه) ۱۳۸۷ هـ ش کال د اسد ۲۸ نیټه
کمپیوتر کار: ............................. «F.O.C.C»

یادونه: په دې رساله کی که ځینی ګرامری تیروتنی شوی وی زمونږ معذرت و منی.
« دترتیب کونکی لخوا»

**دمبارزي زرغونه خلقی الفباء**

« ملګرو: راځی زیار وباسو چی په واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک انقلابی چوکات کښی د کارل مارکس، فریدریک انګلس، ولادمیر ایلیچ لینین او آی. یوسیف ویساری اونوویچ استالین بهترین او وفادارترین شاګردان او پیروان و اوسو»
( ترک جان و ترک مال و ترک سر در راه کمونیزم اول منزل است)
۲۸ / ۵ / ۱۳۸۲

**سریزه**

مونږ واقعی زرغونصفته خلقیان، اصلاً او ماهیتاً مارکسیستان – لینینستان، غواړو چی ( د مبارزی زرغونه خلقی الفبأ ) په نامه د رسالی په باب په لاندنی توګه سره یو څو مهم او عمده سر ټکی وړاندی کړو

۱ – دا د «مبارزی زرغونه خلقی الفبأ» په نامه د رسالی عمده مطالب زمونږ د ګران او محبوب هیواد افغانستان په پنځه زره کلن تاریخ کی د لمړی ځل لپاره د هیواد د لمړنی علمی کمونستی شخصیت یعنی زمونږ د خورا کارګران، ستر او محبوب ملګری مؤسس او رهبر **شهید داکتر عبدالکریم زرغون** لخوا د ۱۳۴۵ هـ ش کال د جدی د میاشتی یوولسمی نیټی څخه یعنی زمونږ د سازمان له تأسیسیدو څخه را هیسی زمونږ د انقلابی سازمان په حوزو کښی په شفاهی او په پټه توګه سره تر تدریس لاندی ونیول شول.

۲ – په نوموړی رساله کی په واقعی زرغونصفته خلقی دموکراتیک انقلابی چوکات کښی د ک. مارکس، ف. انګلس، و.ای. لنین او آی یوسیف ویساری اونویچ استالین انقلابی زده کړی او ښوونی نغښتی دی.

۳ – په نوموړی رساله کی تول مطالب زمونږ د هیواد د تولنیز سیاسی شعوری سطح په نظر کی نیولو سره له تاریخ دیالکتیکی تکاتلی قانون سره سم تیتو څخه لوړو پوړیو او له ساده څخه پیچلی لوری ته مارپیچاً د حرکت په توګه درج شوی دی.

۴ - وروسته بیا هم دده او دده د شاګردانو لخوا نوموړی رساله زمونږ د انقلابی سازمان په حوزو کی تدریسیدله.

۵ – د دی نوموړی رسالی عمده مطالب تر اوسه پوری په خپل حال پاتی دی خو فرعی مطالبو ئی د تولنیزو شرایطو له بدلیدو سره سم بدلون موندلی دی.

۶ – د ۱۳۵۲ه ش کال په وروستیو میاشتو کی، زمونږ د ګران او محبوب ملګری، مؤسس او رهبر شهید داکتر عبدالکریم زرغون له پیشنهاد سره سم د شهید زرغون تر مشری لاندی د سازمان مرکزی کمیتی داسی پریکړه کړه چی، نور دی نوموړی رساله له شفاهی حالت څخه لیکلی حالت ته واوړی، پدی اساس شهید زرغون خپل یوه واقعاً وفادار شاګرد ته د هغی د ترتیبولو او لیکلو لاربښوونه وکړه او نوموړی ملګری هغه ترتیب او و لیکله او د **۱۳۵۲**ه ش کال د جدی دمیاشتی په **۱۱** نیټه ئی **شهید** داکتر **زرغون** ته وړاندی کړه او هغه منظور کړه، نو: د **۱۳۵۲** ه ش کال د جدی دمیاشتی د **۱۱** نیتی څخه را هیسی تر اوسه پوری زمونږ د سازمانی ملګرو په منځ کی په لیکلی توګه سره پخش او تدریس کیږی.

۷ – دا « د مبارزی زرغونه خلقی الفبأ» باید مونږ په خپلو سازمانی حوزو کی له مارکسیستی فلسفی، سیاسی مارکسیستی اقتصاد او علمی کمونیزم څخه مخکی تدریس کړو، که چیری مونږ همدغه کار تر سره نه کړو یعنی: د نوموړی رسالی له تدریسولو څخه مخکی مونږ په خپلو سازمانی حوزو کی: مارکسیستی فلسفه، سیاسی مارکسیستی اقتصاد او علمی کمونیزم تر تدریس لاندی ونیسو، نو زمونږ لخوا به د همدغه نوموړی کار تر سره کول په ډیرو کی د غنمو د شنو کولو او زرغونولو معنی ولری.

۸ – مونږ په خپل تو مادی او معنوی توان او قدرت سره دا کلک هوډ کړی دی او دا مو کلک تصمیم نیولی دی چی همدغه «دبارزی زرغونه خلقی الفبأ» په کښی په هر دول شرایطو کی په یوه شکل نه یو شکل په نه سټریکیدونکی، نه ډاریدونکی، نه پخلاکیدونکی او نه تسلیمیدونکی توګه سره د پخوا او اوس په شان په راتلونکو کی هم د خپل ژوندانه تر وروستی پولی او سرحده پوری په خپل وخت او زمان سره لکه څرنګه چی ده او لکه څرنګه چی ښیی هم هغه سی په خپلو سازمانی حوزو کی تر تدریس لاندی ونیسو. او په عموم کښی باید په نوموړی رساله کی د تولو جملو، کلیمو، اصطلاحاتو او لغتونو پر ځای داسی جملی، کلیمی، اصطلاحات او لغتونو استعمال کړو چی د هغو اصلی ماهیت او مفهوم ارائه کړی او هغه له منځه یونسی او داسی نور......

تل به وی زمونږ په مغزو کی د خپل خورا ستر، ګران او محبوب ملګری، مؤسس
او رهبر شهید داکتر عبدالکریم زرغون نیک یاد او هیڅ دول تطمیع ګانی او تهدیدونه
نشی کولای او نه به وکولای شی چه د ده انقلابی ښونی او زده کړی زمونږ له مغزو
څخه وباسی او یا مو د هغو له پرمخ بیولو څخه منع کړی

---

# (د مبارزی زرغونه خلقی الفباء)

## ۱ :- زیار ایستونکی او تر سم لاندی خلک د کومو شرایطو پر اساس کولای شی چی خپل اعظمی ګټی په لاس راوړی؟

علمی او تاریخی تجربو به اثبات رسولی ده چی زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک د دریو لاندینیو شرایطو په درلودلو سره کولای شی چی خپلی اعظمی ګټی په لاس راوړی:

۱ :- دوی باید منظم او مستحکم تشکیلات ولری او دا تشکیلات باید آګاهانه انظباط او دسپلین ولری.

۲ :- دوی باید ټاکلی تعلیمات ولری.

۳ :- د دوی هر فعالیت باید په ټاکلی نقشه او پلان ولاړ او متکی وی.

## تشریح:

الف: زیار ایستونکی: هغه څوک دی چی تر استثمار لاندی وی، لکه کارګران، بزګران او داسی نور.

ب: ترستم لاندی خلک: هغه څوک دی چی تر استثمار لاندی نه وی خو دهغوی مشروع حقوق نه ورکول کیږی.

ت: ګټی:هر هغه څه ته وائی چی د انسانانو احتیاج رفع کوی.

ث: اعظمی ګټی: مثبت لایتناهی ګټو ته وائی.

ج: تشکیلات: په لغت کی له شکل څخه اخیستل شوی دی چی تولی څوکی ئی یو پر بل پوری مربوطی وی او په اصطلاح کی له تشکیلاتو څخه مطلب د سازمان او یا ګوند درلودل دی.

ح: منظم: داسی سازمان او یا ګوند ولری چی ګډ وډ نه وی بلکی په ترتیب سره وی.

خ: مستحکم: داسی تینګ سازمان او یا ګوند ولری چی هیڅ دول تطمیع ګانی او تهدیدونه ونه شی کولای چی هغه سست، متزلزل او یا مات کاندی.

د: آګاهانه انظباط او دسپلین: داسی سازمان او یا ګوند ولری چی هغه آګاهانه انظباط او دسپلین یعنی باخبره او د خپلی خوښی انظباط او دسپلین ولری چی د سازمان او یا ګوند په تولو غړو باندی له سر څخه تر پایه پوری له استثنأ څخه پرته یو شان د تطبیق وړ وی.

ذ: ټاکلی تعلیمات: زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک باید په خپل ځان پوری مربوط او ټرلی تعلیمات ولری چی : زمونږ په هیواد کی په واقعی زرغونصفته خلقی دموکراتیک انقلابی چوکات کی هغه یوازی د کارل مارک، ف. انګلس، و.ای. لینین او آی یوسیف ویساری اونو ویچ استالین انقلابی زده کړی او ښونی دی بس او بس.

ر: ټاکلی نقشه او پلان: د زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلکو هر فعالیت باید په هغو پوری په ټرلی نقشه (تقسیم اوقات) د ځای، ساعت او ورځی تعیین او پلان یعنی پروګرام باندی ولاړ او متکی وی.

خاطره: « زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک د خپل انقلابی له درلودلو څخه پرته، هیڅکله او هیڅکله نه شی کولای او نه به وکولای شی چی خپل اعظمی ګټي پلاس راوړی» تیت او پرک کارګران هیڅ او سره ننوتلی او متشکل کارګران هر څه دی، پرولتاربا له سازمان څخه پرته بله وسله نه لری . لینین وایی: « ماته د انقلابیونو یو سازمان راکړی، مونږ به تزاری رږسیه په بله خوا واړووو» انتظام قوت لس چنده کوی او داسی نور ......

## ۲ :- « مونږ د یوه وړوکی ګروپ په شکل له سختیو او ربړونو څخه په ډکه لاره کی د یوه او بل لاسونه ټینګ سره نیولی او په وړاندی ځو، دښمنانو له هری خوا محاصره کړی یو او تقریباً همیشه باید د هغوی د اور لاندی تیر شو. زمونږ اتحاد پر آزادانه تصمیم باندی ولاړ دی، هغه تصمیم چی مونږ نیولی دی دا دی چی: له دښمنانو سره مبارزه مکړو»

(لینین منتخبات، لومړی جلد، اول قسمت، ۲۴۸ مخ ، شهید داکتر زرغون، مستربل، ۴ مخ)

( مونږ واقعی زرغونصفته خلقیان، ماهیتاً مارکسستان – لنینستان) هم په واقعی زرغونصفته خلقی دموکراتیک انقلابی چوکاټ کښی د ک. مارکس، ف. انګلس، و.ای. لنین او آی. یوسیف ویسارو اونوویچ استالین د انقلابی زده کړو او ښوونو په پیروی د یوه سره ننوتلی واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک مرکزی سراسری (دهیواد د کارګری طبقی او نورو تولو زیار ایستونکو او تر ستم لاندی خلکو د مخکښ او ماهیتاً مارکسیتی – لنینستی) انقلابی سازمان په شکل له سختیو او ربړونو څخه په ډکه لاره کی د یوه او بل لاسونه ټینګ سره نیولی مخ په وړاندی ځو، ډول ډول دښمنانو مونږ له هری خوا څخه محاصره کړی یو او تقریباً همیشه باید د هغوی تر اور لاندی تیر شو. زمونږ اتحاد پر آګاهانه، آزادانه او داوطلبانه تصمیم باندی ولاړ دی، هغه تصمیم چی مونږ نیولی دی، <u>دا دی چی</u>: په پرلپسی، نه ستړی کیدونکی، نه داریدونکی، نه پخلاکیدونکی او نه تسلیمیدونکی توګه له دښمنانو سره په یوه ډول نه یوه ډول او په یوه شکل نه یوه شکل سره مبارزه وکړو).

همدا رنګه: ( لکه څرنګه چی ک. مارکس او ف. انګلس او د دوی پیروان چی: د آلمان عدالت لیک په نامه ګوند چی « د نړی انسانانو سره یوشی» شعار یی درلود، د خپل پټ کمونستی لیګ سازمان په واسطه چی: « د نړی کارګرانو سره یوشی » شعار یی درلوډ په کمونست لیګ باندی واړوه او: و.ای.لینین او آی یوسیف ویساری او نوویچ استالین او د دوی پیروان د روسی سوسیال دموکرات کارګری ګوند د خپل پټ یعنی « دمبارزی لپاره اتحادیی» د سازمان په واسطه د روسیی په بلشویک ګوند باندي واړوه، مونږ هم غواړو چی: د خپل ګران او محبوب ملګری، مؤسس او رهبر شهید داکتر عبدالکریم زرغون له انقلابی زده کړو ښوونو او کړو وړو سره سم د نړی د پرولتاریاوو د رهبرانو یعنی: ک. مارکس، ف. انګلس، وی. ای. لنین او آی یوسیف ویساری اونو ویچ استالین د انقلابی زده کړو او ښوونو په پیروی د خپل پت او مخفی واقعی زرغونصفه خلقی دموکراتیک مرکزی او سراسری انقلابی سازمان په واسطه د افغانستان د سولی غوځنګ (عمومی خلقیان او نور په یوه واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک (ما هیتاً مارکسیستی – لنینستی) مرکزی او سراسری انقلابی ګوند باندی واړوو.

## ۳ – د ځینی اصطلاحات تعریفونه:

<u>۱ : افغان:</u> هغه چاته وایی چی د افغانستان د حکومت تبعیت ولری. هر زیارکښ پښتو ژبی، دری ژبی، تاجک، هزاره، ازبک، بلوڅ، ترکمن، پشه یی، نورستانی، پامیری او د هیواد د نورو میشتو ملیتونو هریو زیارکښ اوسیدونکی چی د افغانستان زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو ته واقعاً خدمت کوی، افغان بلل کیږی.

<u>۲ : افغانستان</u>: د افغانانو د اوسیدلو ځای ته افغانستان وایېږ.

۳ : تاریخ: دوه نعریفونه لری: **الف**: په طبقاتی تولنو کی تعریف: یعنی په بردګی، فیودالی او سرمایه داری تولنو کی – د دوو دښمنو طبقو تر منځ جګړی تشریح کول ته تاریخ وایی.

**ب**: په غیر طبقاتی تولنو کی یعنی: په کمون اولیه او کمونیزم کی د انسانانو د تیرو کړو وړو تشریح کولو ته تاریخ وایی.

<u>۴ : بادار</u>: هغه چاته وایی چی غلامان ولری، د هغوی مرګ او ژوند د ده په لاس کی وی او تر استثمار لاندی ئی نیولی وی.

<u>۵ : غلام</u> : هغه چاته وایی چی د ده مرګ او ژوند د خپل بادار په لاس کی وی او د بادار لخوا استثماریږیږ.

<u>۶ : فیودال</u>: هغه چاته وایی چی د زیاتو ځمکو خاوند وی او دهقانان ولری او هغوی ئی تر استثمار لاندی نیولی وی.

<u>۷ : دهقان</u> : هغه چاته وایی چی د تولید په ساده وسایلو سره په ځمکه کی کار کوی او د ځمکی د مالک لخوا استثماریږی.

<u>۸ : سرمایه دار</u>: هغه چاته وایی چی د کارخانو خاوند وی او کارګران ولری او هغوی ئی تر استثمار لاندی نیولی وی.

<u>۹ : کارګر</u> : هغه چاته وایی چی له ماشین سره سر و کار ولری او د سرمایه دار لخوا استثماریږی او په دوه دوله دی: صنعتی کارګر او زراعتی کارګر.

<u>۱۰ : هدف</u> : هغه څه ته وایی چی مونږ د هغه د په لاس راوړلو یا د هغه د تخریبولو او یا د هغه د له مینځه وړلو آرزو لرو او په دوه دوله دی: ساه لرونکی او بی ساه.

## ۴ – د نړی د پرولتاریاوؤ رهبران څو او کوم کوم دی؟

د نړۍ د پرولتاریاوؤ هبران څلور او په لاندې دول سره دي:
١ : کارل مارکس له: ( ١٨١٨ – ١٨٨٣ ) د آلمان اوسيدونکی وه
٢ : فریدیک انګلس : له (١٨٢٠ – ١٨٩٥) د آلمان اوسیدونکی وه
٣ : ولاد میر ایلییچ لنین: له ( ١٨٧٠ – ١٩٢٤ ) د روسيي اوسيدونکی وه..... او
۴ : آی یوسیف ویساری اونوویچ استالین: له ( ١٨٧۴ – ١٩٥٣ ) د ګرجستان اوسیدونکی وه.

## ٥ – د ځینو اصطلاحاتو تعریفونه:

١ : **طبقه**: هغه دله خلک او یا وګړی دی چی په یوه معینه تاریخی مرحله کی د تولید د وسایلو سره یو شان مستقیمه رابطه ولری لکه: سرمایه داره طبقه، کارګره طبقه او داسی نور.

٢ : **قشر**: هغه دله خلک او یا وګړی دی چی په یوه معینه او تاریخی مرحله کی د تولید وسایلو سره یو شان غیر مستقیمه رابطه ولری او یا به بل عبارت : له طبقاتو څخه څخیذلی ډلی ته قشر وایی لکه: د روشنفکرانو قشر، د روحانیونو قشر او داسی نور.

٣ : **مبارزه**: مبارزه دوه تعریفه لری، طبیعی او اجتماعی! **الف** : طبیعی تعریف: د دوو متضادو قطبونو د برخورد نقطی ته مبارزه وایی. **ب**: اجتماعی تعریف: د انسانانو هغه تلاش او کوښښ ته وای چی مقصد ئی د ژوند آرامی وی.

۴ : **سیاست**: په لغت کی چل او نیرنګ او مخالف لوری ته بازی ورکولو ته وایی! او په اصطلاح کی **اولاْ**: هغه هدفونه دی چی یوه اجتماعی طبقه ئی د خپلو ګټو د لاسته راوړلو په خاطر په مبارزه کی تعقیبوی او **ثانیاً**: د هغو اسلوبونو، میتودونو، طریقو او لارو چارو په کار اچول دی چه هماغه لاسته راوړلی شوی ګټی پری وساتلی شي او یا په بل عبارت: د اقتصاد متبلور او یا زبیبنل شوی شکل ته سیاست وایې.

## ۶ – تاریخی دوری څو او کومی کومی دی؟

تاریخی دوری پنځه او په لاندی دول سره دی:
١ **:** کمون اولیه (لومړی اشتراکی دوره)، **٢ :** برده داری (برده ګی دوره)، **٣ :** خان خانی یا (فیودالی دوره)، **۴ :**سرمایه داری (کاپیتالیستی دوره) او **٥ :** کمونستی دوره.

### ١ – کمون اولیه (لومړی اشتراکی دوره):

په کمون اولیه کی انسانان په مغارو کی په دیر ابتدائی او ساده دول په ګډه سره ژوند کاوه، تولیدی وسایل په دیره ټیټه وده ئیزه سطح کی وو فلهذا: - اجتماعی شعور هم دیر ټیټ وه، انسانان به په ورځنی کار کی چی څه پیدا کول هغه به ئی خوړل ، یعنی ښکار به ئی کاوه، د ونو میوی به ئی شو کولی او په ګډه سره به ئی خوړلی، په خپلو ورځنی کارونو کی به ئی دومره څه چی پیدا کول په هم هغه ورځ به ئی خوړل او سبا ورځ ته به څه نه ورته پاتی کیدل. په کمون اولیه کښی: **الف**: اضافی ارزش موجود نه وه **ب**: خصوصی مالکیت او استثمار وجود نه درلود **ت**: دولت وجود نه درلود **ث**: دیکتاتوری موجوده نه وه **ج:** دموکراسی وجود نه درلود **ح**: طبقی موجودی نه وی **خ**: طبقاتی مبارزی وجود نه درلود. برده ګی دوره د کمون اولیه په ګیډه کی د نطفی په شکل منځ ته راغله، په دی ترتیب سره چی په کمون اولیه کی یو شمیر تیز فکره انسانان د پهلوانانو په توګه پیدا شول او داسی عقیده ئی درلوده چی مونږ باید غلامان ولرو، ځمکه زمونږ ده او زمونږ باید وی. همدا وجه وه چی برده ګی دوره پیل شوه او داسی نور.

**٢ – برده ګی دوره** : برده ګی دوره په انقلابی ټوپ او جهشی شکل سره نه بلکی په تدریجی شکل سره د کمون اولیه له ګیډی څخه وزیږیده. په دی دوره کی باداران او غلامان منځته راغلل، یوه تن بادار به په سلهاوو او زرهاوو تنه غلامان لرل. په دی دوره کی د تولید وسایلو په نسبی توګه سره وده وکړه او په دی دوره کی **الف** : اضافی ارزش منځ ته راغی. **ب** : خصوصی مالکیت او استثمار منځ ته راغلل. **ت :** دولت منځته راغی، **ث** : دیکتاتوری منځ ته راغله **ج :** دموکراسی منځ ته راغله **ح :** طبقات منځ ته راغلل. **خ:** طبقاتی مبارزه منځ ته راغله. په دی دوره کی اصلی طبقی باداران او غلامان وو. په دی دوره کی په یونان کی د اسپارتاکوس نومی غلام له خوا د بادارانو پر ضد لمړنی جګړه پیل شوه . که څه هم اسپارتاکوس مړ شو، خو د ده د بادارانو پر ضد جګړی بی تأثیره او بی نتیجی پاتی نشوی. دا هم وایو چی: زمونږ په ګران او محبوب هیواد افغانستان کی هم یو شمیر غلامانو د برده دارانو پر ضد یوه سلسله قیامونه او پاڅونونه کړی دی، په دی دوره کی له ځمکی سره یو ځای غلامان خرڅیدل او تبادله کیدل. د دی دوری په ګیډه کی خانان او دهقانان د نطفی او د فرعی طبقو په شکل منځ ته راغلل او بردګی دوره له دوو مرحلو (پدر سالاری او مادر سالاری) څخه مرکبه وه او په تدریج سره په فیودالیزم واوښتله او داسی نور.

مالکیت چی خصوصی شکل پیدا کړ　　　له هغی ورځی تر ننه دا جـــګړه ده
دا مظلوم دی له ظالم سره جـنګیږی　　　کله ګـرمه شي او کله هم ســـړه ده
ولـی کله چی علمی تکامل ګـــورو
د مظلوم جنده ظالم باندی تـکړه ده

### ٣ – فیودالی دوره:

فیودالی دوره په انقلابی، جهشی او توپ په توګه سره نه بلکی په تدریجی توګه سره د برده ګی دوری له ګیډی څخه زیږیدلی ده. د فیودالی تولنی شعار دا دی چی: « هر هغه څوک چی زمونږ په ځمکه کی کار کوی زمونږ دهقانی هم باید وکړی» چی په دی ترتیب سره غلامان د دهقانانو په لباس کی د خانانو تر استثمار لاندی ښکیل شول ځکه چی دهقانان بی له ځمکی بی له ځمکی چیری لاړ شی؟ او کوم کارونه ځانو ته پیدا کړی؟ د دی تولنی بل خاصیت دا دی چی: په دی دوره کی دهقانانو څه نا څه نسبی آزادی تر لاسه کړه، هغه دا چی په دی دوره کی دهقانان له ځمکی سره نه خرڅیده او نه تبادله کیده، په دی دوره کی اصلی طبقی د خانانو او دهقانانو دی او د استثمار بڼه د پخوا په نسبت څه نا څه شدیده شوه، په دی دوری کی فرعی طبقی د سرمایه دارانو او کارګرانو طبقی دی او آزاد کسبګر، روحانیون او روشنفکران د دی دوری فرعی قشرونه دی او فیودالی مرحله له دریو مرحلو څخه مرکبه ده: الف: ماقبل فیودالی. ب: نیمه فیودالی او ج: مسلطه فیودالی. زمونږ هیواد افغانستان په نیمه فیودالی دوره کی واقع دی، د فیودالیزم په ګیډه کی سرمایه داران او کارګران منځ ته راځی او د فیودالیزم پر ضد انقلابونه انجاموی او داسی نور.

## ۴ – سرمایه داری دوره (کاپیتالستی دوره)

سرمایه داری دوره د فیودالیزم په ګیده کی پیدا شوه او د فیودالیزم ضد سرمایه داری انقلاب په واسطه سره منځ ته راځی، په سرمایه داری دوره کی اصلی طبقی د سرمایه دارانو او د کارګرانو طبقی دی او فرعی طبقی د خانانو او دهقانانو طبقی دی، په دی دوره کی آزاد کسبګر، روحانیون او روشنفکران فرعی قشرونه دی. په سرمایه داری دوره کی استثمار د فیودالیزم په نسبت شدیده بڼه ځانته نیسی. او سرمایه داری دوره له دریو مرحلو څخه مرکبه ده.<u>**الف:**</u> د آزاد رقابت مرحله، <u>**ب :**</u> د انحصار مرحله، <u>**ج :**</u> امپریالستی مرحله.

**امپریالیزم په لغت کی:-** په لغت کی له امپراطوری څخه اخیستل شوی دی او په اصطلاح کی د حکومت هغه طرز ته وایی چی مستعمری ولری، د امپریالیزم خواص او یا قوانین د ستر لنین له خوا کشف شول او په لاندی دول سره دی:

<u>**الف :**</u> د سرمایی تجمع، <u>**ب :**</u> له کالا څخه سرمایه، <u>**ج :**</u> د بانکی سرمایی تبدیلول په صنعتی سرمایه باندی، <u>**ډ :**</u> د لویو لویو سرمایه دارانو په منځ کی اتحادیی هـ : د کوچنیو ملکونو ویش د سرمایه داری هیوادونو په منځوکی.

**۵ – کمونستی دوره:** کمونستی دوره له دوو مرحلو څخه مرکبه ده. <u>**الف :**</u>سویالستی مرحله، <u>**ب :**</u> خاصه کمونستی مرحله:

<u>الف: سوسیالستی مرحله</u> : دا د کمونستی مرحلی لمړی مرحله ده، دا مرحله د سرمایه داری نظام ضد سوسیالستی انقلاب په واسطه سره منځ ته راځی، په دی مرحله کی د دوهمی کمونستی خاصی مرحلی تر استقرار او جوړښته پوری په یوه شکل نه یوه شکل سره د پرولتاریا دیکتاتوری قایمیږی او د تولید پر عمده وسایلو باندی اجتماعی مالکیت برقراریږی او د سوسیالیزم نوری تولی قانونمندی دعمل جامه اغوندی، تولیدی وسایل د پخوا په نسبت ښه کیږی او د تولنی هر فرد ته د استعداد او توان په اندازه کار او د کار په اندازه معاش ورکول کیږی. په دی مرحله کی هر هغه څوک چی کار کوی، خوراک، څښاک او پوشاک هم کولای شی او چی کار نه کوی مری به! په دی تولنه کی استثمارګر طبقات په سیاسی او اقتصادی لحاظ له منځه ځی خو آیدیولوژیکتاً تر څو چی نړیوال امپریالیزم موجود وی، د کمونیزم د خاصی مرحلی تر استقراره پوری پاتی کیږی. په دی تولنه کی پخلاکیدونکی طبقات لکه کارګران، بزګران او همدا رنګه پخلاکیدونکی اقشار وجود لری. د کمونستی دوری همدا مرحله د کمونیزم په دوهمه خاصه مرحله باندی بی له انقلابه بدلیږی او داسی نور .........

ب : کمونستی خاصه مرحله : په دی مرحله کی تولیدی وسایل له حد او اندازی څخه زیاته وده او تکامل کوی، له هغی سره جخت اجتماعی شعور هم وده او تکامل مومی، مادی نعمتونه په دیره زیاته پیمانه سره تولیدیږی. لنډه دا چی په دی مرحله کی طبقات له منځه ځی، طبقاتی مبارزه له منځه ځی او په تولنه کی دا شعار د تل له پاره عملی کیږی: (هرچاته د توان او استعداد په اندازه کار او د احتیاج په اندازه معاش ورکول کیږی او داسی نودر.........

<u>**خاطره:-**</u> ۱ – تاریخی تولنر په دوو بخشو ویشل شوی دی: **الف:** طبقاتی ټولنی. **ب:** غیر طبقاتی ټولنی.

**الف:** طبقاتی ټولنی: هغو ټولنو ته وایی چی، په هغو کی نه پخلاکیدونکی دښمنی طبقی موجودی وی لکه (برده ګی تولنه، فیودالی تولنه او سرمایه داری تولنه).

**ب :** غیر طبقاتی ټولنی: هغو ټلنو ته وایی چی، په هغو کی نه پخلاکیدونکی طبقی وجود نه لری لکه (کمون اولیه او کمونیزم).

**۲ :** نوری تولی وروستی دوری د خپلو خاصو قوانینو او خصوصیاتو له مخی د مخکنیو دورو په ګیدو کی پیدا شوی دی یوازی کمونستی دوره د سرمایه داری دوری په ګیده کی نه پیدا شوی او د نوموړی دوری په ګیده کی صرف د هغی مقدمات پیدا شوی دی بس او بس.

**۳ :** نوری ټولی وروستی دوری د خپلو خاصو خصوصیاتو له مخی د پخوانیو دورو له ګیډو څخه زیږیدلی دی، یوازی کمونستی دوره د سرمایه دوری له ګیډو څخه نه دی زیږیدلی.

**۴ :** برده ګی دوره د کمون اولیه او فیودالی دورخ د بردګی له ګیډو څخه په تدریجی توګه سره زیږیدلی او سرمایه داری دوره له فیودالیزم څخه په تدریجی توګه سره نه بلکی د توپ په شکل او انقلابی توګه سره زیږیدلی ده.

**۵ :** د بردګی په نسبت د فیودالیزم او د فیودالیزم په نسبت د سرمایه داری دوری د استثمار بڼه شدید ده.

**۶ :** تولی وروستی دوری د پخوانیو دورو په نسبت مترقی دی، یعنی د ژوند سطح پکی ښه او یو قدم مخ په وړاندی دی.

**۷ :** که څه هم په کمون اولیه کی استثمار وجود نه لری خو بردګی، فیودالی او سرمایه داری د هغی په نسبت مترقی دی یعنی د ژوند سطح په کی ښه، اجتماعی شعورئی نسبتاً لوړ او یو قدم مخ په وړاندی دی.

۸ **:** که څه هم ټولنې تاريخي دورې له يوې او له بلې څخه په کيفي لحاظ جدا او بيلې دي خو په وروستيو دورو کې د ځينو پخوانيو دورو ځينې نښې او علامې کميتاً موجودې دي.

۹ **:** تاريخي ټولنې د خپلو ځانګړو خصوصياتو پر اساس په ميتافزيکي او دايروي شکل سره نه بلکې په مارپيچي او کيفي شکل سره له ټيټ څخه پيچلي لورته حرکت، وده او تکامل مومي. يعنې له پنځمې دورې څخه وروسته بله هيڅ کومه دوره نه راځي او نه بيا تاريخي دورې بيرته له سره پيل کيږي، ځکه: يو داچې تکامل بيرته په شا نه ځي او بل دا چې: تکامل دی ته وايي چې نوی له زاړه سره مبارزه کوي او په دې مبارزه کې په زاړه باندې حتماً او حتماً بريالی کيږي. او همدا رنګه داچې د پنځمې دورې په وروستي خاصه مرحله کې زوړ نه شته، يواځې نوی موجود دی نو زوړ چې نه وي، نوی له څه شي سره مبارزه وکړي؟ فلهذا د پنځمې دورې وروستی کمونستی خاصه مرحله به په خپل چوکات کې دننه له ټيټو حالتو څخه لوړو حالتو ته درومي خو تو له مرحله به د تل لپاره موجوده او پای به ونه لري او داسې نور ..........

## ۷ :- د افغانستان د خلکو د دموکراتيک ګوند تشريح:

۱ **: خلک څوک دي؟** خلک **(خلق)** په طبقاتي ټولنو لکه برده ګی، فيودالي او سرمايه داری کې يعنې: په هغو ټولنو کې چې په هغو کې نه پخلاکيدونکی دښمني طبقې موجودې وي هغه چاته وايي چې تر استثمار او يا ستم لاندې وي نه د هيواد تولو اوسيدونکي چې د هيواد د نفوسو ۹۵ – ۹۸ فيصده تشکيلوي او هغه څوک چې د خلکو په مقابل کې واقع دي د خلکو دښمنان بلل کيږي لکه فيودالان، بورژوازان او د دوی شعوری نماينده ګان. او په غير طبقاتي ټولنو يعنې کمون اوليه او کمونيزم کې د هيواد تول اوسيدونکي خلک بلل کيږي او پاتې دې نه وي چې په طبقاتي ټولنو کې د هيواد تولو اوسيدونکو ته وګړي او يا مردم او وائيږ.

**خاطره**: ستر لنين ويلي دي چې: « د خلکو او د خلکو د دښمنانو تر منځ يو سور نه پخلاکيدونکی طبقاتي خط ايستل شوی دی چې تر خط پورته لوړ او يا استثمارګر طبقات او تر خط لاندې ټيټ او يا استثمار کيدونکی طبقات قرار لری او دا هم وايو چې: نه پخلاکيدونکی دا معنی لری چې هيڅکله او هيڅکله به استثمارګر طبقات استثمار کيدونکو طبقاتو ته په خپلو خوښو سره د دوی حقوق ور نه کړي او د دوی له استثمار څخه به لاس وا نه خلي» او داسې نور .......

۲ **: خلقي چاته وايي؟**: خلقي هغه چاته وايي چې**الف:** تر استثمار او يا ستم لاندې وي، **ب:** له خلکو څخه زيږيدلی وي، **ج:** د خلکو په منځ کې واقع وي، **د:** خلک په څان باندې را ټول کړي، **هـ:** د خلکو د يوه انقلابي سازمان او يا ګوند غړيتوب ولري، **و:** او خلک لکه څرنګه چې ښائي هم هغه سې په منظمه توګه سره رهبري کړي او داسې نور ...............

**خاطره:-** خلک داسې مثال لری لکه اوبه او خلقي داسې مثال لری لکه ماهی! نو لکه څرنګه چې ماهي بی له اوبو څخه ژوند نشي کولای، همدا رنګه يو خلقي انقلابي هم د خلکو له منظم او مستحکم پيوند او ارتباط څخه پرته هيڅکله او هيڅکله ژوند نشي کولای، چيرته چې خلک وي هلته بايد خلقيان کار وکړي، خلک او يا تُودې داسې دی لکه اوسپنه او خلقي داسې وی لکه مقناطيس! نو لکه څنګه چې مقناطيس اسپنه ځانته جذب او کشوي، يو خلقي انقلابي هم بايد همداسې خلک ځانته جذب او کش کړي. د ليوه زوی ليوه کيږي، له وزو او ميږو څخه وزې او ميږې او له ليوانو څخه ليوان زيږي، ګندم از ګندم بروید، جو زجو. پردی زوی نه زوی کيږي.

عاقبت ګرګ زاده، ګرګ شود　　　ګرچه با آدمی بزرګ شود

ټيټي لــوړی طــبقې هيــڅکله نــه سـره جوړيږی　　　دا د خلکو ستر متل دی چې پردی زوی نه خپليږی
که هــر څـو له سترو سترو انسانانو سـره لوی شی　　　پـوه شی پوه شی آخر بيا هم د ليوه زوی ليوه کيږی
که هــر څو وکړی ريښی، پانې، تنونه او شاخونه
لـه زرغون خــلــقي شماله به زړې ونـې رنګيږی

۳ **: دموکراتيک څه معنی لری؟**: په لغت کې دموکراسی (دمو، خلک او کراسی، قدرت، يعنی د خلکو قدرت) څخه اخيستل شوی دی او په اصطلاح کې: په دوه دوله دی: **الف :** خلقي دموکراتيک. **ب:** ملی دموکراتيک.

**الف:** خلقي دومکراتيک دوی مرحلی لری: **الف:** لمړی يا دموکراتيکه مرحله، **ب:** وروستی او بشپړه مرحله.

**الف : لومړی يا دموکراتيکه مرحله**: د توری په تيره څوکی سره د امپرياليزم او فيوداليزم له وهلو او د توری په پخه څوکه سره د ملی بورژوازی له وهلو ، يعنی د هيواد د کارګری طبقې تر رهبری لاندی د خلقي دموکراتيک انقلاب له انجامولو (دخلقي دموکراتيک دولت، د خلقي دموکراتيک ديکتاتوری او د خلقي دموکراسی له برقرارولو او د خلقي دموکراتيکی ټولنی له جوړولو څخه عبارت ده).

**ب : وروستی او يا بشپړه مرحله**: د توری په تيره څوکی سره د ملی بورژوازی له وهلو او تکاملاً سرمايه داری دوری ته د رشد د نه ورکولو او د هغی له تيرولو څخه پرته د کمونستی ټولنی د لومړی مرحلی او د کمونيزم له بشپړ برياليتوب يعنی د کمونيزم له دوهمی خاصی مرحلی يعنی د خاصی، بی طبقاتي ټولنی له جوړولو څخه عبارت دی.

او دا هم وايو چې: د توری په تيره څوکه سره د فيوداليزم وهل دا معنی لری چې د ځمکی ژور اصلاحات انجام شی او د ځمکی ژور اصلاحات دا معنی لری چې: استثمار له منځه يوړل شی يعنی په وړيا توګه سره له خانانو څخه ځمکه واخيستله شی او بی له عوضه او په وړيا توګه سره دهقانانو ته ورکړی شی. او دا شعار عملی شی چې: «ځمکه د هغه چا ده چې کار پکی کوی».

**خاطره**: زمونږ خورا ستر او محبوب ملګری، مؤسس او رهبر **شهيد** داکتر عبدالکريم **زرغون** داسی فرمايلی دی چی: « د دموکراسی کليمه ديره ښه کليمه ده خو دا بايد ووايو چی د چا دموکراسی؟، آيا د خلقی دموکراسی، سوسيالستی دموکراسی او که فيودالی دموکراسی، ملی دموکراسی او بورژوازی دموکراسی؟» چی دا هره يوه دموکراسی ځانته ځانته معنی وی، تعريفونه او مفاهيم لری. «دموکراسی او ديکتاتوری د يوی سکی دوه مخونه دی».

**۴ : زمونږ په ګران او محبوب هيواد افغانستان کی د کومو کومو قوتونو تر منځ مبارزه او جګړه روانه ده؟:**

زمونږ په هيواد کی د لاندنيو قوتونو تر منځ مبارزه او جګړه روانه ده:

**اول:** زمونږ يعنی د افغانستان د کارګرانو، بزګرانو او نورو زيارايستونکو او تر ستم لاندی خلکو د واقعی زرغون صفته خلقی انقلابی نمايندګانو او دفيوداليزم تر منځ مبارزه او جګړه.

**دوهم:** زمونږ او د امپرياليزم تر منځ مبارزه او جګړه

**دريم:** زمونږ او د ملی بورژوازی تر منځ مبارزه او جګړه

**څلورم:** د ملی بورژوازی او د فيوداليزم تر منځ مبارزه او جګړه

**پنځم:** د ملی بورژوازی او د امپرياليزم تر منځ مبارزه او جګړه

**شپږم:** امپرياليزم او سوسياليزم تر منځ مبارزه او جګړه

**اووم:** د فيوداليزم او سوسياليزم تر منځ مبارزه او جګړه

**اتم:** د امپرياليزم او سوسياليزم تر منځ مبارزه او جګړه

## اول: زمونږ او د فيوداليزم تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي باندی روانه ده؟

زمونږ او د فيوداليزم تر منځ مبارزه او جګړه پر ځمکه باندی روانه ده، په دی ترتيب سره چی دوی وايی چی: «ځمکه زمونږ ده او تل تر تله بايد زمونږ وی او په ټولو سياسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحوکی د فيوداليزم اصول او قوانين بايد جاری وساتل شی» او مونږ داسی وايو چی: د دموکراتيکو او ژورو انقلابی اصلاحاتو له مخی ځمکه بايد په وړيا توګه سره له خانانو څخه واخيستله شی او په وړيا توګه سره دهقانانو ته و سپارله شی او په ټولنه کی دا شعار عملی شی چی: «ځمکه د هغه چا ده چی کار پکی کوی»، او بل دا وايو چی: زمونږ د هيواد په ټولو سياسی، اقتصادی، فرهنګی، آيديولوژيکی او نورو ساحو کی په واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتيک انقلابی چوکات کی مارکسيستی، لنينستی اصلاحات اصول او قوانين جاری و اوسی او داسی نور .............

## دوهم: زمونږ او د امپرياليزم تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي باندی روانه ده؟:

زمونږ او د امپريالزم تر منځ مبارزه او جګړه پر اموالو او اجناسو باندی روانه ده! دوی وايی چی:
« په اول قدم کی افغانستان بايد زمونږ د اموالو او اجناسو د خريد و فروش بازار وی، يعنی که زمونږ اموال او اجناس په افغانستان کی خرڅ نشی نو فابريکی مو سقوط کيږی او په اقتصاد مو ضربه وارديږی». او که نوموړی کار ئی له لاسه پوره نشی نو په دوهم قدم کی دوی دا غواړی چی خپل فابريکی زمونږ هيواد ته راوړی او زمونږ کارګران تر سخت استثمار لاندی و نيسی او زمونږ خام مواد او ډول ډول طبيعی زيرمی منابع او شتمنی په وړيا او يا ديره ارزانه بيه سره تر لاسه کړی او په دی ترتيب سره په افغانستان کی په خپل ځان پوری وابسته او تړلی سرمايه داری نظام منځته راولی. او بل دا وائی چی: په افغانستان کی په ټولو سياسی ، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی امپريالستی آيديولوژی ، اصول او قوانين حکمفرما سی.
او مونږ داسی وايو چی: زمونږ هيواد ته د امپريالستی هيوادونو د اموالو، اجناسو او فابريکو پر ځای بايد د سوسيالستی او نورو مترقی او صلح دوستو هيوادونو اموال، اجناس او فابريکی را وارد کړل شی او په مرور زمان سره مونږ په خپله د خپل ضرورت او اړتيا وړ اموال او اجناس توليد کړو چی دا کار به مونږ ته په دير ارزانه توګه تمام شی او داهم بايد ووايو چی: حتی که امپرياليزم مونږ ته په وړيا توګه سره هم فابريکی راکوی، مونږ ئی بايد ور څخه وانه خلو او بل دا وايو چی: زمونږ د هيواد په ټولو سياسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی په واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتيک انقلابی چوکات کی مارکسيستی – لنينستی آيديولوژی اصلاحات، اصول او قوانين جاری و اوسی او داسی نور....

## دريم: زمونږ او ملی بورژوازی تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي باندی روانه ده؟:

زمونږ او د ملی بورژوازی تر منځ مبارزه او جګړه پر لاندينيو مسائلو باندی روانه ده: په داسی حال کی چی زمونږ په هيواد افغانستان کی انقلاب حتماً او حتماً راتلونکی دی ، دوی وائی چی: انقلاب بايد دملی بورژوازی طبقی تر رهبری لاندی سرته ورسيږی، په افغانستان کی ملی دموکراتيک انقلاب، ملی دموکراتيک دولت، ملی دموکراتيکه ديکتاتوری، ملی دموکراسی او بالآخره يوه سرمايه داری ټولنه منځته راشی او د هيواد په ټولو سياسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی د ملی بورژوازی آيديولوژی، اصول او قوانين پخش او مسلط شی او داسی نور.......
او مونږ داسی وايو چی: زمونږ په ګران او محبوب هيواد افغانستان کی د ملی انقلابی يا ملی متحدی دموکراتيکی جبهی په چوکات کښی انقلاب بايد د هيواد د کارګری طبقی تر رهبری لاندی و څرخيږی، خلقی دموکراتيک انقلاب، خلقی دموکراتيک دولت، خلقی دموکراتيکه ديکتاتوری او خلقی دموکراسی او په دی ترتيب سره تکاملاً سرمايه داری دوری ته د رشد د نه ورکولو او د هغی له تيرولو څخه برته سوسيالستی او د کمونيزم دوهمه مرحله يعنی کمونستی خاصه بی طبقاتو ټولنه منځ ته راشی.

بل ملي بورژوازی داسی وایی چې: ( که چیری مونږ ته په وړیا توګه سره د امپریالستی دولتونو له خوا فابریکی، اموال او اجناس راکول کیږی، مونږ ئی باید ورڅخه واخلو. او مونږ په دی بای داسی وایو چې: حتی که امپریالیزم مونږ ته په وړیا توګه سره هم فابریکی، اموال او اجناس راکوی، مونږ ئی باید ور څخه وانه خلو او بل دا هم وایو چې: په واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک انقلابی چوکات کی د هیواد په تولو سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی مارکسیستی – لنینستی آیدیولوژی، اصلاحات، اصول او قوانین جاری او مسلط شی او داسی نور.........

## څلورم: د ملي بورژوازی او فیودالیزم تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي باندی روانه ده؟:

د ملی بوژوازی او فیودالیزم تر منځ مبارزه او جګړه بر څمکه باندی ده. په دی ترتیب سره چې فیودالان دا وئی چې څمکه زمونږ ده او تل تر تله زمونږ باید وی، او د هیواد په ټولو سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی فیودالی آیدیولوژی، اصول او قوانین جاری وساتل شی. او ملي بورژوازان دا وائی چې: د څمکی د ژورو اصلاحاتو له مخی څخه نه بلکی، د بورژوازی په ګټه د څمکی سطحی اصلاحاتو له مخی څمکه باید په سطحی یعنی داسی توګه سره له خانانو څخه واخیستله شی او دهقانانو ته ورکړ شی چې استثمار پکی له مینځه یونه وړل شی او په دی دول سره فیودالیزم په بورژوازی باندی واړوی اوبل داهم وائی چې: د هیواد په تولو سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی د ملی بورژوازی آیدیولوژی، اصول او قوانی حکمفرما اوسی.

## پنځم: د ملي بورژوازی او امپریالیزم تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي باندی روانه ده؟:

د ملی بورژوازی او امپریالیزم تر منځ مبارزه او جګړه هم پر اموالو او اجناسو باندی روانه ده، امپریالستان وائی چې: په اول قدم کی افغانستان باید د دوی د اموالو او اجناسو د خرید و فروش بازار وی او که نوموړی کار ئی تر لاسه نه کړ نو په دوهم قدم دوی دا غواړی چې خپلی فابریکی او خپلی پانګی زمونږ هیواد ته راوړی او زمونږ په هیواد کی ئی په کار واچوی او زمونږ کارګران تر سخت استثمار لاندی ونیسی او زمونږ خام مواد او ډول ډول طبیعی زیرمی منابع او شتمنی په وړیا او یا په دیره ارزانه توګه سره تر لاسه کړی او په دی تر تیب سره په افغانستان کی په خپل ځان پوری یوه وابسته او ټړلی سرمایه داری تولنه منځ ته راوړی. او بل دا وائی چې: د افغانستان په تولو سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی، امپریالستی آیدیولوژی، اصول او قوانین حکمفرما و اوسی او داسی نور...

او ملي بورژوازی داسی وائی چې: افغانستان ته د امپریالستی هیوادونو د اموالو، اجناسو او فابریکو پر ځای باید له سوسیالستی او نورو مترقی صلح دوستو هیوادونو څخه اموال، اجناس او فابریکی راړل شی او په مرور زمان سره افغانان په خپله د خپل ضرورت او اړتیا وړ مواد، اموال او اجناس تولید کړی. او بل دا وائی چې: د افغانستان په تولو سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی د ملی بورژوازی آیدیولوژی، اصول او قوانین جاری و اوسی او داسی نور..........

## شپږم: د ملي بورژوازی او سوسیالیزم تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي باندی روانه ده؟:

د ملی بورژوازی او سوسیالیزم تر منځ مبارزه او جګړه په دی باندی روانه ده چې: سوسیالستی او خلقی دموکراتیک هیوادونه غواړی چې د پرولتاری انترناسیونالیزم د اصولو او قانونمندیو له مخی د فیودالیزم او امپریالیزم د ارتجاعی ځواکونو او د هغوی د آیدیولوژی، اصولو او قوانین په وړاندی زمونږ له خلقی او ملی دموکراتیکو ځواکونه او همدا رنګه زمونږ د خلقی او ملی دموکراتیکو انقلابی ځواکونو له آیدیولوژی، اصولو او قوانینو څخه دفاع او ملاتړ وکړی.

او همدا دول: د ملی دموکراتیکو ځواکونواو د هغوی د آیدیولوژی، اصولو او قوانینو په وړاندی زمونږ له واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیکی (ماهیتاً مارکسیستی – لنینستی آیدیولوژی) اصولو او قوانینو څخه دفاع او ملاتړ کوی، او همدا رنګه ملي بورژوازي قوتونه غواړی چې په افغانستان کی ملی بورژوازی او بالآخره سرمایه داری ټولنه منځ تع راشی او سوسیالستی هیوادونه غواړی چې زمونږ د هیواد د خاصو شرایطو د په نظر کی نیولو سره سم د مارکسیزم – لنینزم د اصولو پر اساس خلقی دموکراتیکه ټولنه، سوسیالستی ټولنه او بالآخره علمی خاصه بی طبقاتو ټولنه منځ ته راشی او داسی نور....

## اووم: د فیودالیزم او سوسیالیزم تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي بانډی روانه ده؟:

د سوسیالیزم او امپریالیزم تر منځ مبارزه او جګړه پدی باندی روانه ده چې: فیودالان دا وائی چې: څمکه زمونږ ده او تل تر تله زمونږ باید وی او په ټولنه کی د فیودالیزم آیدیولوژی، اصول او قوانین حکمفرما و اوسی او داسی نور.. او سوسیالیستی هیوادونه زمونږ د خلقی او ملی دموکراتیکو قوتونو په پلوی دا وائی چې، څمکه باید له خانانو څخه په اول قدم کی په ژوره ټوګه سره او که دا کار و نشی، بیا په سطحی توګه سره واخیستله شی او دهقانانو ته ورکړل شی او د هیواد په تولو سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او نورو ساحو کی واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک (ماهیتاً مارکسیستی – لنینستی) انقلابی آیدیولوژی اصول او قوانین مسلط شی او علمی کمونستی ټولنه منځ ته راشی او که دا کار نه تر سره کیده، په دوهم قدم کی ملی دموکراتیکه انقلابی آیدیولوژی، اصول او قوانین مسلط شی او یوه سرمایه داری ټولنه منځ ته راشی....

## اتم: دامپریالیزم او سوسیالیزم تر منځ مبارزه او جګړه په څه شي باندی روانه ده؟:

د امپریالیزم او سوسیالیزم تر منځ مبارزه او جګړه په اموالو، اجناسو، فابریکو او آیدیولوژی باندی روانه ده.امپریالیستان وائی چې: افغانستان باید د دوی د اموالو، اجناسو خرید او فروش بازار و اوسی او د دوی پانګی او فابریکی په افغانستان کی په کار ولویږی او د افغانستان کارګران تر استثمار لاندی ونیسی او همدا رنکه غواړی چې د افغانستان په تولو سیاسی، اقتصادی،

فرهنگی او نورو ساحو کی امپریالستی آیدیولوژی، اصول او قوانین مسلط و اوسی او دا هم وایی چی: زمونږ د هیواد له لاری د هند بحر ته د سوسیالستی هیوادونو د ورتلو او د ور رسیدو مخه د یو څه مؤقتی مودی له پاره ونیسی او داسی نور .......او

سوسیالستی هیوادونه دا وائی چی: د پرولتاری انترناسیونالیزم د اصولو او قانونمندیو پر اساس، افغانستان ته د دوی اموال، اجناس او فابریکی په وړیا او یا دیره ارزانه توگه سره صادر شی، خپلی پانگه اچونی نه پکی کوی او فابریکی هم د دوی شخثی نه وی او زمونږ د هیواد په واک کی وی یعنی د دوی له خوا زمونږ کارگران تر استثمار لاندی نه نیول کیږی، او همدا رنگه زمونږ خام مواد په خپل قیمت سره اخلی او زمونږ طبیعی زیرمی او منابع زمونږ لپاره فعالوی چی دا کار زمونږ د افغانستان د خلکو لپاره دیره گټه لری او همدا رنگه دا هم غواړی چی: زمونږ د خلقی او ملی خصوصیاتو د له په نظر کی نیولو سره سم زمونږ د هیواد په تولو سیاسی، اقتصادی، فرهنگی او نورو ساحو کی مارکسیستی – لنینستی آیدیولوژی، اصول او قوانین جاری کړلی شی او دا هم وائی چی: زمونږ د هیواد له لاری د هند بحر ته د سوسیالستی هیوادونو د ورتگ او ور رسیدو لپاره لاره خلاصه شی چی دا کار هم د سوسیالستی هیوادونو زمونږ د هیواد، سیمی او ټولی نړی د زیارایستونکو خلکو او ټول مترقی بشریت په گټه دی او داسی نور .......

## خاطره: مونږ، یعنی خلقی دموکراتیک انقلابی قوتونه او ملی دموکراتیک انقلابی قوتونه ولی له خانانو څخه ځمکه اخلو؟

په دی خاطر ئی ور څخه اخلو چی: مونږ د نوموړو ځمکو یوه برخه دهقانانو ته ورکوو، په یوه برخه کی ئی فابریکی جوړوو او په بله برخه کی ئی دولتی فارمونه او مؤسسات جوړوو، په دی ترتیب سره دهقانان د دوی له استثمار څخه خلاصیږی، خانان بی وسلی کیږی او دهقانان په مونږ پسی راځی او زمونږ تر آیدیولوژیکی تأثیراتو لاندی واقع کیږی، د دهقانانو یو شمیر په ځمکو کی کار کوی او دیر شمیر ئی فابریکی فعالوی او که مونږ همدا نوموړی کار تر لاسه نه کړو، نو مونږ فابریکی او دولتی فارمونه او مؤسسات په څه شی کی جوړ کړو او په چا باندی ئی فعال کړو او دهقانان څرنگه له استثمار څخه خلاص کړو او زراعتی حاصلات له کومه کړو او کارگران له کومه ځایه راوړو؟ او داسی نور........

## ۸ : د گوند سیاسی او اجتماعی اصطلاح:

« گوند یو سیاسی سازمان دی چی په هغه کی همفکران او د یوه آرمان طرفداران په داوطلبانه توگه سره را غونډیږی او علی القاعده د یوی طبقی یا اجتماعی متحدالمنافعو قشرونو خورا با خبره او آگاه عناصر را غونډیږی او د هغی طبقی او قشرونو د گټو بیانوونکی وی او هغو ته په اجتماعی مبارزو کی لارښونه کوی.

دسرمایه داری تکامل په جریان کی پرولتاریا او بورژوازی د سرمایه داری ټولنی د اساسی طبقاتو سیاسی سازمانونه او د نورو طبقاتو سازمانونه اکثراً تشکیلیږی. په ځینی سرمایه داری هیوادونو کښی د بورژوازی گوندونو د زیاتوالی اساسی علت په سرمایه داره طبقه کی د مختلفو دلو او قشرونو وجود او د حاکمه قدرت د په لاس راولو لپاره د هغوی داخلی مبارزه ده. بر سیره پر دی بورژوازی د څو گوندونو له مختلفو ځیرو او نقابونو سره د پرگنو د غولولو لپاره استفاده کوی تر څو چی هغوی له روښانه او ښکاره طبقاتی مبارزی څخه منحرف کړی.

د امپریالیزم په مرحله کی انحصار گران او زمامداران د پرگنو د نهضت په مقابل کی دیکتاتوری او اختناق تع لاس اچوی او فاشیستی گوندونه مینځ ته راوړی، فاشیستی گوندونه د پاکوالی ضربتی دلی دی. بورژوازی همدا راز له کارگری ارسطوکراسی څخه په گټه اخیستلو سره هڅه کوی چی ریفورمیستی سازمانونه د کارگرانو د غولولو لپاره تربیت کړی. پرولتاریی گوند، مارکسیستی – لنینستی گوند د کارگری طبقی سیاسی سازمان د ټولو زیارایستونکو پرگنو د گټو ملاتړ او بیانوونکی دی.

د کارگری طبقی گوند دی چی کولای شی د زیارایستونکو د طبقاتی مبارزی سمه لارښونه وکړی، د مبارزی له ټولو ډولونو څخه استفاده او دهغی د ټولو شکلونو سم ترکیب تأمین کړی، د امپریالیزم په دوران کی لکه چی سوسیالستی انقلاب د علمی او بلا واسطی طبقی شکل ځانته نیسی، د گوند رول دیر اهمیت لری.

پرولتاری گوندونه په خپل فعالیت کی د مارکسیزم لنینیزم زده کړه د اجتماعی انقلابونو او د نوی ټولنی د بنسټ علم د خپل ځان لارښود گرځوی او متقابلاً په خپله تجربه هغه غنی کوی داسی گوندونه کمونست گوندونه دی په دی چی د معاصری ټولنی په خورا انقلابی او علمی تیوری او کلکو سازمانی موازینو مجهز دی، نوی طراز گوندونه تشکیلوی چی له زړو کارگری گوندونو سره چی په دوهم انترناسیونال کی ئی گډون درلود کیفی توپیر لری. د نوی طرز کمونستی گوند بنسټ اینودنکی او آموزگار و.ای.لنین دی، د ده نوم او تعلیمات په ژوره توگه له پرولتاری گوندونو سره تړلی دی، د ده زده کړی را ښیی چی:

**اول:** مارکسیستی گوند د پرولتاریا مترقی انقلابی گردان او د پرولتاریا سرغندوی (پیشآهنگ) دی، مارکسیستی گوند چی د پرولتاریا عالیترین سازمانی شکل دی د پرولتاریا ټول نور سازمانونه لکه اتحادیی کووپراتیفونه او نورو ته یو له بله سره پیوند ور کوی، هغوی ته دسیاسی لحاظ لارښونه کوی او دهغوی فعالیت د واحد هدف یعنی د سرمایه داری نسکورول او د سوسیالستی ټولنی د هستولو لورته سموی، کارگری گوند د پرولتاریا پیشآهنگ دی داسی پیشآهنگ چی توان لری قدرت پلاس کی واخلی، ټول خلک د سوسیالیزم خواته بوزی. د اجتماعی ژوند جوړښت بی له بورژوازی او د بورژوازی پرضد لارښونه وکړی د ټولو استثمار کیدونکو او زیار ایستونکو آموزگار مشر او پیشوا وی.

**دوهم:** مارکسیستی گوند په دی صوب کولای شی چی د کارگری طبقی پیشآهنگ او مترقی گُردان او د تولو خلکو د مشر رول ولوبوی چی په مارکسیستی – لنینستی تیوری د اجتماعی تکامل د پیژندگلوی په قوانینو مجهز دی او عملاً مولای شی له دغو قوانینو ځخه د ټولنی د انقلابی تحول په گټه استفاده وکړی.

**دریم:** مارکسستی گوند چی د پرولتاریا مترقی او آگاه گُردان دی په کارگری پرگنو کی سوسیالستی خبرتیا و آگاهی ته پرلپسی وده او پرورش ورکوی، کارگره طبقه د بورژوازی د فاسدی آیدیولوژی له نفوذ ځخه ساتی، له هر ډول هغی هڅی سره چی د مارکسیزم د قلبیدو او تحریف کولو په لار کی وشی په نه پخلاکیدونکی توگه مبارزه کوی او مارکسیزم ته د علم د خورا نویو موفقیتونو او اجتماعی فعالیت پر اساس وده او روزنه ورکوی.

**څلورم:** مارکسیستی گوند نه یوازی د کارگری طبقی مترقی او آگاه گُردان دی بلکی د کارگری طبقی متشکل گُردان هم دی، داسی گُردان چی د مارکسیسم – لنینزم د انقلابی افکارو د تحقق مشترکه غوښتنه د هغه افراد سره یوځای کوی، په گوند کی د فرکسیونیزم او گروهبندی د ښی او کین اپورتونیزم لپاره چی غواړی د گوند د صفوفو وحدت له مینځه یوسی، هغه دی له ننه تیت او پرک کړی او له دی لیاری د پرولتاریا د طبقاتی مبارزی د مشرتوب قدرت له هغه ځخه سلب کړی ځای نه پریږدی.

**پنځم:** مارکسیستی گوند، د خلکو واقعی گوند او د خلکو د بهترینو نماینده گانو یو ځای کیدو ځای دی او د زیارایستونکو له پراخو برگنو سره په زرگونو ریښو کی رابطه لری. ځرنگه چی گوند د خلکو د غوښتنو او تمایلاتو مظهر او د مبرمو ضروری گټو پیگیر ملاتړ دی، د خلکو د پرگنو د باور او ملاتړ ځخه گټمن دی. د مارکسیستی گوند دنه مغلوبیدو قوت له خلکو سره په ارتباط او د خلکو په ملاتړ او پاملرنه کی د نوی طرز گوند باید د مختلفو ارتباطی تسمو په توگه د خلکو له پراخو پرگنو سره پراخ ارتباط ولری.

**شپږم:** د گوندی ژوند لنینی موازین د دموکراتیک سانترلیزم په بنسټ ولاړ دی، د دغه لنینی اصل کلک مراعات د کمونستی گوندونو د فعالیت نه انکار کیدونکی قانون دی. دغه موازین د گوند د وحدت ساتنه ، د پرولتری د آیدیولوژی ټینگوالی، د گوند دموکراسی او جمعی مشترتوب د اصل اجرأ، د گوند له رهبری سره د غړیو او له زیارایستونکو سره د گوند د ارتباط په تأمین او ساتنه کی هڅه، د شخصیت له کیش ځخه چی د کمونستانو د خلاف فکر او ابتکار د لاری ځند دی مخ اړول او د گوند په صفونو کی د انتقاد او له ځانه د انتقاد غوښتنه کوی.

**اووم:** د کمونستی گوند آیدیولوژیک او سیاسی بنسټ له رویژیونیزم او اپورتونیزم سره له یوی خوا او له دگماتیزم او سکتاریزم سره له بلی خوا په مبارزه کی تیگیږی. اولنی انحراف د مارکسیزم انقلابی روح قلبوی په تیوری او عمل کی د بورژوازی آیدیولوژی مروجوی، د امپریالیزم ، استثمار او استبداد او استثمار پرضد د مبارزی قدرت له کارگرانو او زیارایستونکو پر گټو ځخه سلبوی. دوهم انحراف کمونستان د زیارایستونکو له پراخو قشرونو ځخه جلا کوی کار د کین لاس او ماجراجویانه عملیاتو ته کاږی. انقلابی گوندونه د علمی تحلیل پر اساس د ماکسیزم له غنی کولو او په تاکلیو شرایطو کښی د هغه له خلاق عملی کولو ځخه محروموی د نویو تجربو او آیدیولوژیکی اوضاع او احوال د سمی ارزیابی خند گرځی» سیاسی او اجتماعی اصطلاحا، ۱۵۲ – ۱۵۸ مخونه.

**نتیجه:** دا یو تولنیز واقعیت دی چی، زمونږ واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک مرکزی او سراسری پټ او مخفی انقلابی سازمان یو نوی طرز کمونستی سازمان دی او دا دهیواد د کارگری طبقی او نورو تولو زیارایستونکو انقلابی گُردان پیشاهنگ او سرغندوی دی. او مونږ په همدی خپل واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک انقلابی چوکات کی د کارل مارکس، فریدریک انگلس، ولاد میر ایلییچ لنین او آی یوسیف ویساری اونوویچ استالین د انقلابی زده کړو او ښوونو په پیروی نوموړی دول کمونستی کړه وړه په یوه ډول نه یوه ډول او په یوه شکل نه یوه شکل په نه داریدونکی، نه سترېکیدونکی، نه تسلیمیدونکی او نه پخلاکیدونکی توگه سره سرته رسولی دی. د فیودالیزم، امپریالیزم او د هغوی د شعوری نماینده گانو، ښی او کین رویژیونیزم یعنی کارملیزم، امینیزم، ماهوئیزم، کارگری ارسطوکراتیزم او هر دول اپورتونیزم په وړاندی په کلکه او نه ماتیدونکی او سپنیزه او پولادیزه توگه سره لکه ځرنگه چی ښیی هم هغسی جنگیدلی یو او په دی لاره کی نظراً او عملاً په دیره میړانه سره له خپلو سرونو، مالونو، فامیلونو، رتبو، څوکیو او مقامونو ځخه تیر شوی یو او اوس هم په یوه دول نه یوه دول او یوه شکل نه یوه شکل سره د خپلی توری په تیره څوکی سره په اول قدم کی د نړیوال امپریالیزم او د هغه په سر کی د داړه مار، بد معاش او الکاپونی، هټلری او موسیلینی صفته امریکائی او انگریزی امپریالیزم او د هغوی د گوداگیانو یعنی: زمونږ په هیواد کی د حامد کرزی (شاه شجاع ثانی) تر مشری لاندی د هیواد پلوری او گوداگی اتقالی دولتی اداری او د هغی د پلویانو او په دوهم قدم کی د فیودالیزم او د هغه د شعوری نماینده گانو یعنی: شعوری اخوان الشیاطینو او توری په بخه څوکه سره : د ملی بورژوازی او د هغی د شعوری نماینده گانو یعنی: ښیو او کینو رویژیونستانو (کارملیانو، امینیانو او ماهوئیستانو) او هر رنگ اپورتونستانو په وړاندی خپله عادلانه، روا او بر حقه طبقاتی سازمانی مبارزه مخ په وړاندی بیایو او خپل همدا کار به د خپل تهائی هدف د تر لاسه کولو یعنی د کمونیزم تر بشپړ بریالیتوبه پوری مخ په وړاندی بوزو.

## ۹ : پیشآهنگ یا مخکښ څه معنی لری؟

مخکښ دری و لری: الف:- مخ ته تلونکی، ب: مخ ته لیدونکی، ج: مخ ته کشوونکی.

**لف: مخ ته تلونکی:** دوی معنی ولری: **اول:** دا چی د تولو کارگرانو، بزگرانو او نورو زیار ایستونکو او تر ستم لاندی خلکو مخ ته درومی. **دوهم:** دا چی په یوه ځای نه دریږی ښی او کینی خوا ته نه ځی، راساً مخامخ، مخ ته درومی.

**ب: مخ ته لیدونکی:** دوی معنی وی لری. **اول:** دا چی د تولو کارگرانو، بزگرانو او نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو مخی ته لیدل کیږی، **دوهم:** دا چی مخی ته وینی یعنی پیشبین دی.

**ج: مخ ته کشونکی:** یعنی دا چی : ارتجاع تول کارگران، بزگران او نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلک شا ته کوی، ښی رویژیونیزم ئی ښی خوا ته، کین رویژیونیزم ئی کین خوا ته او کمونیست گوند ئی مخامخ مخی ته کشوی او مخی ته ئی رهبری کوی.

## ولی کارگران د بزگرانو په نسبت زیات انقلابی دی؟ ځکه زیات انقلابی دی چی:

**الف:** کارگران یو ځای او بزگران تیټ او پرک دی. **ب:** د کارگرانو تولید او محصول زیات دی او د بزگرانو کم،**ج:** کارگران له ماشین سره، سرو کار لری او بزگران له ځمکی او د تولید له ساده وسایلو سره، **د:** کارگران زر فکر اخلی او بزگران ورو ورو، **ح:** کارگران په مسلسله توگه استثمار په سترگو وینی او بزگران کله کله وینی او داسی نور .........

**خاطره:-** دا یو خوب او خیال ندی بلکی دا یو عینی تولنیز واقعیت دی چی: **اول:** له فیودالیزم څخه کمونیزم ته په تللو کی انقلاب حتمی دی. **دوهم:** په انقلاب کی رهبری د کارگری طبقی په غاړه ده. **دریم:** کمونست گوند د کارگری طبقی د رهبری د تأمین لپاره د یوه فعال لارښونکی ارگان رول لری. **څلورم:** په انقلاب کی د کارگری طبقی د رهبری لپاره په ستراتیژیکه او نهائی مرحله کی مبارزه حتمی ده. **پنځم:** کارگران د بزگرانو له یووالی څخه پرته انقلاب بریالیتوب ته نه شی رسولای. **شپږم:** بزگران د کارگرانو له یووالی څخه پرته انقلاب بریالیتوب ته نشی رسوالای. **اووم:** کارگران او بزگران د نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو له یووالی څخه پرته انقلاب بریالیتوب ته نشی رسولای. **اتم:** کارگران، بزگران او نور زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک د خپل یو داسی انقلابی گوند چی هغه د مارکسیزم – لنینیزم د انقلابی تیوری له درلودلو څخه پرته انقلاب بریالیتوب ته نشی رسولای. **نهم:** د مارکسیزم – لنینیزم د انقلابی تیوری له درلودلو څخه پرته، کمونست گوند هیڅ وجود نشی درلودلای. **لسم:** په انقلاب کی د کارگرانو، بزگرانو او نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو په رأس کی د منظم کونکی او لارښونکی قوت په حیث د هغوی آگاه، مخکښ او انقلابی کمونست گوند قرار لری. **یوولسم:**بورژوازان د کارگرانو تولی لاری نه بلکی د نیمی لاری ملگری دی. **دوولسم:** د کارگرانو د تولی لاری او دایمی ملگری بزگران دی نه بورژوازان. **دیارلسم:** گوند د نه داریدونکو، نه ستړی کیدونکو، نه پخلاکیدونکو او نه تسلیمیدونکو رهبرانو له درلودلو څخه پرته انقلاب بریالیتوب ته نشی رسولای. **څوارلسم:** د کمونیزم بشپړ بریالیتوب د پرولتاریا د دیکتاتوری له استقرار څخه پرته هم نا ممکن دی او نا ممکن به وی. **پنځلسم:** د پرولتاریا د دیکتاتوری تینگښت او استقرار له کمونست گوند څخه پرته نا ممکن دی او نا ممکن به وی. **شپاړلسم:** گوند رهبری یواځی په خپل فرمان له پاسه طرفه څخه انقلاب بریالیتوب ته نشی رسولای تر څوئی د مارکسیزم – لنینیزم له اصولو او قانونمندیو سره سم خپل گوند او خلک لکه څرنگه چی ښیی هم هغسی پاخه روزولی او تربیه کړی نه وی. **اوولسم:** کارگران، بزگران او نورو زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک او د دوی واقعی نماینده کمونست گوند په خپله طبقاتی مبارزه کی هیڅکله هیڅکله بی احتیاطی نه کوی، احتیاط له افسوس څخه ښه گنی او بی احتیاطی د بیځایه مرگ او د انتحار (ځان وژنی) په معنی گنی. **اتلسم:** کارگران، بزگران او نور زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک او د دوی واقعی نماینده کمونست گوند په خپله طبقاتی مبارزه کی که څه هم دیر گټی په لاس راوړی خو طبقاتی مبارزی بی له تلفاتو څخه هم نه گنی. **نولسم:** که څه هم د کارگرانو، بزگرانو او نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو او د دوی واقعی نماینده کمونست گوند طبقاتی مبارزه دیره سخته او دیره اوږده ده، خو د دوی ستراتیژیک او وروستی بشپړ بریالیتوب حتمی او مطلق دی او داسی نور ......

## ۱۰ : په سازمانی حوزه کی کوم کوم عمده مسایل تر بحث لاندی نیول کیږی؟

په سازمانی حوزه کی لاندینی عمده مسایل تر بحث او څیړنی لاندی نیول کیږی:

**۱ :** د تیر شوی درس په هکله د آمادگی نیول، **۲ :** د عمده داخلی خبرونو په هکله د معلوماتو حاصلول، **۳ :** د عمده خارجی خبرونو په باب د معلوماتو حاصلول. **۴ :** د محیط، هیواد، سیمی او نړی په هکله د عمده خصوصی ځانگړو معلوماتو ارایه کول، **۵ :** پیشنهادونه، انتقادونه او تصامیم. **۶ :** اصلی موضوع (د مارکسیزم – لنینیزم) د انقلابی تیوری تدریسول.

**خاطره:** دا باید په یاد وساتو چی، د یوی حوزی د تأکلی وخت دوی برخی په اصلی موضوع او دریمه برخه ئی په نوموړو پنځو موادو باندی تیریږی.

## ۱۱ : مونږ یعنی د افغانستان کارگران، بزگران او نور زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک او د دوی واقعی نماینده گان په لمړی درجه سره کومو شیانو ته ضرورت لری؟

لاندینیو شیانو ته ضرورت لری: **۱ :** ډوډی، **۲ :** کالی، **۳ :** کور، **۴ :** پوهه، **۵ :** درمل! او دا هم وایو چی همدا نوموړی شیان د کار په واسطه سره په لاس راځی. او دا هم وایو چی مونږ ځکه د کارگرانو او بزگرانو څخه دفاع کوو چی نوموړی شپږ شیان د کارگرانو او بزگرانو په واسطه په لاس راوړل کیږی ځکه چی: کارگران په فابریکو کی او بزگران په ځمکو کی کار کوی، کارگران د ضرورت اموال او اجناس تولید وی، کورونو راته جوړوی او دهقانان د خوړلو او څښلو مواد تولید وی، په دی دول سره د تولی تولنی د اوسیدونکو او هم د خپلو ځانونو ژوند ئی تأمین کړی دی او ټلمینوی ئی.

دا چې دوی زمونږ او د نورو ژوند تأمین کړی دی او تأمینوی ئی، نو څکه مونږ هم د دوی له حقوقو څخه دفاع کوو او دا هم د یادولو وړ بولو چې ځینې کسان او قوتونه داسې وائی چې: « مونږ کور، کالی، ډوډی غواړو» دا، دا معنی لری چه دوی خپلو مخالفینو ته سوالونه او زاری کوی! خو مونږ داسې وایو چې: «مونږ کار، ډوډی، کالی، پوهه او درمل به زوروړو څخه اخلو».
**کار:** د انسانانو هغه مدبرانه او آگاهانه فعالیت ته وائی چې ثمره ولری یا په بل عبارت: کار د انسانانو له هغه مدبرانه او آگاهانه فعالیت څخه عبارت دی چې تولید ولری.
**تولید:** هغه څه ته وائی چې د انسانانو احتیاجات پوره کوی، که چیری داسې حرکات انجام شی چې د انسان احتیاج نه پوره کوی، نو هغه ته کار نه ویل کیږی او بیهوده حرکت ئی بولی، او داهم دایو چې: «انسان د کار محصول دی».

## ۱۲ : د یوه انقلابی اوصاف:

یو واقعی انقلابی باید لاندنی اوصاف ولری: ۱ **:** انقلابی تیوری، ۲ **:** انقلابی خصلت، ۳ **:** انقلابی تجربه.
**۱ : انقلابی تیوری:** له دوو برخو څخه مرکبه ده: الف: عمومی انقلابی تیوری، ب: انطباقی انقلابی تیوری.
**الف: عمومی انقلابی تیوری:** (ماکسیزم – لنینزم) له دریو برخو څخه مرکبه ده: اول: مارکسیستی فلسفه، دوهم: ماکسیستی سیاسی اقتصاد، دریم: علمی کمونیزم.
**ب: انطباقی انقلابی تیوری:** د عمومی انقلابی تیوری تطبیق په خپلو خاصو ټولنیزو شرایطو کی له انطباقی تیوری څخه عبارت دی.
**۲ : انقلابی خصلت:** له شپږو برخو څخه مرکب دی: اول: انقلابی طبقه، دوهم: انقلابی جرئت، دریم: سیاسی لیاقت، څلورم: پشتکار, پنځم: تدبیر، شپږم: د لزوم په وخت کی د هر ډول قربانی حس.
**۳ : انقلاب تجربه:** له دریو برخو څخه مرکبه ده: اول: له خپل ځان، گوند او ټولنی څخه تجربه، دوهم: د سیمی له هیوادونو څخه تجربه، دریم: د نړی له ټولو هیوادونو څخه تجربه.

## ۱۳ : د طبقو ډولونه:

**A.** طبقی له یوه پلوه په دوه ډوله دی: ۱ – استثمارگری طبقی، ۲ – استثمار کیدونکی طبقی
۱ : استثمارگری طبقی: هغه دی چی کارگران، بزگران او زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک ئی تر استثمار او ستم لاندی نیولی وی، لکه باداران، فیودالان او سرمایه داران.
۲ : استثمار کیدونکی طبقی: هغه دی چی د بادارانو، فیوډالانو او سرمایه دارانو له خوا تر استثمار لاندی نیولی شوی وی، لکه غلامان، بزگران او کارگران.

**B.** طبقی له بله پلوه هم په دوه ډوله دی: ۱: اصلی طبقی، ۲: فرعی طبقی.
۱ : اصلی طبقی: چی اصلاً طبقاتی جگړه د دوی تر منځ روانه وی لکه: په برده گی ټولنه کی، باداره طبقه او غلامه طبقه. په فیودالی ټولنه کی، فیوداله طبقه او دهقانه طبقه. او په سرمایه داری ټولنه کی، کارگره طبقه او سرمایه داره طبقه.
۲ : فرعی طبقی: هغه دی چی اصلاً د دوی تر منځ طبقاتی جگړه روانه نه وی او دوهمه درجه فرعی رول لری لکه په برده گی ټولنه کی، فیوداله طبقه او دهقانه طبقه، او په فیودالی ټولنه کی، برژوازان او کارگران.
**C.** طبقی له بله پلوه هم په دوه ډوله دی: ۱: پخلاکیدونکی طبقی، ۲: نه پخلاکیدونکی طبقی.
۱ : پخلاکیدونکی طبقی: هغه دی د چی د دوی گټی یو له بله سره پخلا کیدونکی وی، لکه په برده گی ټولنه کی غلامه طبقه او دهقانه طبقه، په فیودالی ټولنه کی دهقانه طبقه او کارگره طبقه او په سوسیالستی ټولنه کی کارگره طبقه او دهقانه طبقه.
۲ : نه پخلاکیدونکی طبقی: هغه دی چی د دوی گټی یو له بل سره نه پخلاکیدونکی وی! لکه په بردگی ټولنه کی باداره طبقه او غلامه طبقه، په فیودالی ټولنه کی فیوداله طبقه او دهقانه طبقه او په سرمایه داری ټولنه کی سرمایه داره طبقه او کارگره طبقه.

## ۱۴ : ضد او د تضاد ډولونه:

ضد: د یوه شی د دواړو خواوو د یو له بلی سره دفع کولو ته ضد وائی، د ضد جمعی ته ضدین او یا تضادونه وائی.
**A.** تضادونه له یوه پلوه په دوه دوله دی: ۱: داخلی تضادونه، ۲: خارجی تضادونه.
**B.** تضادونه له بله پلوه هم په دوه ډوله دی: ۱: اصلی تضادونه، ۲: فرعی تضادونه.
**C.** تضادونه له بله پلوه هم په دوه ډوله دی: ۱: پخلاکیدونکی تضادونه، ۲: نه پخلاکیدونکی تضادونه.

## ۱۵ : مونږ باید کوم شیان و پیژنو؟

مونږ باید لاندینی شیان و پیژنو:
**۱: ځان پیژندنه:** یعنی زه څوک یم، د کومی طبقی یم، له چا څخه دفاع او د چا پر ضد جنگیږم؟ زه (......فلانی) د (.....فلانی) زوی یم، په قوم (....فلانی) یم، زما هیواد افغانستان دی او په ستره کی (..... افغان) یم، د (......فلانی) ولایت (....فلانی) ولسوالی، (... فلانی) علاقه داری او (....فلانی) کلی او یا ښار اوسیدونکی یم، ملیت می (.... پښتون / فارسیوان) دی او (.... پښتو / فارسی) ژبی یم (......) کال می تحصیل کړی دی او مسلک می (.....) دی، له روشنفکر قشر څخه یم او د هیواد د کارگری طبقی ، بزگرانو او نورو ټولو زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو کلک او واقعی نماینده یم، د افغانستان د خلکو د

واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک (ماهیتاً مارکسیستی – لنینستی، مرکزی سراسری او مخفی انقلابی سازمان غړی یم او د همدی سازمان په چوکات کی د امپریالیزم، فیودالیزم، ملی بورژوازی او د هغوی د شعوری نماینده ګانو یعنی اخوان الشیاطینو، ښیو او کینو رویژیونستانو (کارملیانو، امینیانو، ماهوئیستانو)، کارګری ارسطوکراتانو، لومپن پرولتاریاؤو او هر دول اپورتونستانو، د کرزی او د هغه د پلویانو، د ظاهرشاه او د هغه د پلویانو او داسی نورو پرضد په جدی او فعاله توګه سره مبارزه کوم، د افغانستان د خلکو د نه پخلاکیدونکو دښمنانو له خوا څو څو ځله په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه سره سخت وهل شوی، ټکول شوی، له وظیفی څخه شړل شوی، زندانی شوی او په درواغو سره دسیستاً په دی یا او هغه نامه بد نام شوی یم، په خاص تیوریکی لحاظ .... یا د خپل خورا ستر، ګران او محبوب ملګری، مؤسس او رهبر **شهید**داکتر عبدالکریم **زرغون** شاګرد او پیرو یم. او په عمومی تیوریکی لحاظ د کارل مارکس، فریدریک اګلس، ولادیمیر ایلیچ لنین او آی یوسیف ویساری اونو ویچ استالین د انقلابی زده کړو او ښوونو پیرو یک! ړوند، کوڼ ګوډ او شل نه یم. د طبقاتی مبارزی توان لرم او مخ په وړاندی دی ئی بیایم، اوس له خپل هیواد څخه د باندی د تبعید په حالت کی په دیرو ستونځمنو اقتصادی حالاتو کی شپی او ورځی تیروم خو واقعی زرغون صفته خلقی (ماهیتاً مارکسیستی – لنینستی او استالینستی) انقلابی اراده می له اوسپنی او پولادو څخه کلکه ده او داسی نور .........

**۲ : <u>د خپل هیواد پیژندنه:</u>** زما هیواد افغانستان دی، افغانستان د آسیا د بر اعظم په مرکز (زړه) کی واقع دی، په آسیا کی لمړنی هیواد وه چی له انګریزی زاړه استعمار څخه ئی ۸۵ کال مخکی ملی استقلال تر لاسه کړ او همدا رنګه په آسیا کی لمړنی هیواد وه چی ۲۶ کاله مخکی په کی د ثور د دموکراتیک انقلاب تر سره شوه. افغانستان په نیمه فیودالی مرحله کی واقع دی. اصلی طبقی یی فیودالان او دهقانان تشکیلوی، د ملی بورژوازی طبقه د نطفی په توګه پکی موجوده ده او ځوانه کارګره طبقه هم پکی وجود لری، د روشنفکرانو، آزادو کسبګرو، روحانیونو او داسی نور قشرونه پکی موجود دی. افغانستان یو زراعتی هیواد دی. که چیری په درست او مکمل ډول سره زراعتی شی، نو د اتیا ملیونو خلکو ژوند له دی لاری پکی تأمینولای شی، افغانستان یو غرنی هیواد دی، پارتیزانی جګړو ته لازم شرایط پکی شته، د میلمه پالنی او انقلابی جنګونو روحیه پکی سخته پیاوړی او قوی ده.

<u>فریدریک انګلس</u> په دی باب داسی ویلی دی چی « لا د افغانانو له پاره جنګ یوه تفریح او ساعت تیری ده»! افغانستان ۲۹ ولایتونه لری، مرکز ئی د کابل ښکلی ښار دی. په اوسنی وخت کی د نړیوال امپریالیزم په سر کی د الکاپونی، هتلری او موسیلینی ډوله بد معاش او داړه مار امریکائی او انګریزی امپریالیزم تر مستقیمی لاربښونی، قوماندی او سلطی لاندی د حامد کرزی یعنی شاه شجاع ثانی په مشری اجیره تالی ځتی او هیواد پلوری انتقالی دولتی اداره پکی مسلط ده او نړیوال امپریالیزم وحشی او ځیرونکی لیوه صفته او پړانګ صفته تش په نامه سوله ساتی پوځیان کښته او پورته ګرځیږی او خپلی امپریالستی وحشی، ارتجاعی او تعرضی دندی تر سره کوی.

په افغانستان کی دیری ژبی: لکه پښتو، دری ، ازبکی، تاجکی، ترکمنی، بلوڅی، پشه ئی، پامیری او داسی نوری موجودی دی چی د هیواد رسمی ژبی پښتو او دری دی. او پښتو ئی ملی ژبه ده، په افغانستان کی دیر قومونه او ملیتونه لکه: پښتانه، دری ژبی، تاجکان، ازبکان، بلوڅان، ترکمنان، هزاره ګان، پشه یان، نورستانیان، پامیریان او داسی نور وجود لری. اکثریت ئی پښتانه او دری ژبی تشکیلوی، نفوس ئی (۱۸ – ۲۰) ملیونو ته رسیږی، تقریباً ۹۸ فیصده کارګران، دهقانان او نور زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک پکی موجود دی او ۲ فیصده د خلکو دښمنان پکی تسلط لری. په افغانستان کی دیر ښکلی ښکلی غرونه، ځنګلونه او دریابونه وجود لری، په افغانستان کی (۱۴۳۲۹) معدنونه او داسی نوری طبیعی زیرمی او منابع موجودی دی چی اکثریت ئی تر ځمکی لاندی دی. په افغانستان کی زیات ګوندونه وجود لری، لکه:

زمونږ واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک (ماهیتاً مارکسیستی – لنینستی) مرکزی او سراسری انقلابی سازمان، د سولی غورځنګ، (پخوانی عمومی خلقیان) پرچمیان، شعله یان، افغان ملتیان، مساواتیان، آزاده ګان، اخوان المسلمین (اخوان الشیاطین)، د طالبانو تش په نامه اسلامی تحریک او داسی نور. او په افغانستان کی د اسلام دین مسلط دی او یو شمیر مذاهب هم پکی وجود لری او داسی نور ...

**۳ : <u>د سیمی پیژندنه:</u>** د افغانستان حدود اربعه یعنی څلور خواوی: شمال خواته شوروی اتحاد ( اوسنی کامن ویلت یعنی مشترک المنافع یا د ګډو ګټو هیوادونه)، د غرب خوا ته ئی ایران، د جنوب خوا ته ئی بلوچستان او د شرق خواته ئی متباقی پښتونستان واقع دی، او د شمال خواته ئی یوه حصه په چین پوری نښتی ده او دا هم وایو چی: مونږ باید دسیمی د هیوادونو په سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او نظامی حالاتو باندی په کل کی پوه شو تر څو چی له هغوی سره مطابق خپلو حرکاتو ته دوام ورکړای شو، یعنی پدی باندی باید وپوهیږو چی په سیمه کی مونږ څومره دوستان او څومره دښمنان لرو! دښمنان مو څوک دی او دوستان مو څوک دی؟ چی د هغوی په مطابق خپل پلانونه عیار او آماده کړلی شو چی دا کار باید شفاهاً تدریس کړو او داسی نور.....

**۴ : <u>د نړی (جهان) پیژندنه:</u>** نړی په شپږو برخو (بر اعظمونو) ویشل شوی ده:

<u>الف:</u> آسیا، <u>ب:</u> امریکا، <u>ج :</u> اوروپا، <u>د :</u> افریقا، <u>هـ:</u> استرلیا او <u>و :</u> انتراکتیکا.

نړی د ۱۹۱۷م کال د اکتوبر له ستر سوسیالستی انقلاب څخه را پدی خوا په دوو برخو ویشل شوی ده، سوسیالیزم او امپریالیزم! د نړی د هیوادونو شمیر ۱۷۸ هیوادونو ته رسیږی. د نړی نفوس پنځه ملیاردو ته رسیږی، د نوموړی نفوس اوومه برخه د اسلامی هیوادونو نفوس تشکیلوی، په نړی کی دیر ادیان لکه عیسوی، یهودی، اسلامی، بودائی، زردشتی او داسی نور موجود دی. په نړی کی دیر قومونه او ملیتونه او دیری ژبی هم موجود دی او بین المللی ژبه انګلیسی ژبه ده، په نړی کی دری

امپریالیستی ضد جریانونه موحود دی: الف: سوسیالستی هیوادونه، ب: کمونستی او کارگری گوندونه، ج : ملی آزادی پخشونکی جنبشونه.
په نړی کی پنځه ستر قوتونه موجود دی: الف: پخوانی شوروی اتحاد (روسیی)، ب: د امریکا متحده ایالات، ج :فرانسه، د : انگلستان، هـ : چین. چی دا هیوادونه د ملگرو ملتونو د فیصلو د ویتو یعنی ردولو حق لری او د ملگرو ملتونو د امنیت د شورای دایمی غړی دی او د ملگرو ملتونو د امنیت د شورای ټول غړی ۱۵ هیوادونه دی. د ملگرو ملتونو نماینده گان د نیویارک په ښار کی سره را ټولیږی او غوندی کوی. په نړی کی ۹۸ فیصده د حکومتونو طرزونه جمهوری دی چی په نوموړو طرزونو کی یو شمیر سوسیالستی، خلقی دموکراتیک جمهوری طرزونه هم وجود لری. پنځه یا شپږ هیوادونه شاهی طرزونه لری. په نړی کی یو شمیر نظامی بلاکونه لکه د ناتو بلاک چی شپاړش هیوادونه پکی عضویت لری او په رأس کی د امریکا د متحده ایالاتو دولت قرار لری، سیټو، سیاتو او داسی نور موجود دی.
په نړی کی د نړی د پرولتاریاوو د څلورم رهبر آی یوسیف ویساری اونوویچ استالین له لاښونو سره د وارسا د کمپ په نامه یو سوسیالستی نظامی او دفاعی امپریالستی ضد کمپ هم تأسیس شوی وه، خو متأسفانه له څو کالو را هیسی د امریکائی امپریالستی دولتب اداری د جاسوسی د توری شبکی یعنی (CIA) د یوه شمیر سرسختو جاسوسانو له خوا چی په رأس کی ئی لوی جاسوس، ستر ملی او بین المللی خائین میخائیل گرباچف قرار درلود، نوموړی کمپ ئی په جسمانی لحاظ ړنگ کړی دی خو څو کاله مخکی د امریکا د متحده ایالاتو د پخوانی جمهور رئیس بیل کلینټن د دی پوښتنې په ځواب پا داسی حال کی چی د وارسا کمپ خو اوس ړنگ شوی دی نو د ناتو کمپ ولی نه ړنگیږی؟ داسی وویل چی: «لاتر اوسه پوری په پخوانی شوروی اتحاد کی کمونست گوند موجود دی».
د ده له دی خبرو څخه دا ثابتیږی چی دی او د ده پلویان پدی باندی کلک اعتقاد لری چی په پخوانی شوروی اتحاد کی به زر وی او که ورو بیا کمونست گوند حتماً او حتماً په سر د اقتدار راځی او د وارسا کمپ به بیا له سره تشکیلوی!
په نړی کی دیر دریابونه او غرونه هم موجود دی او داسی نور....
**۵ : د محیط پیژندنه:** محیط څه ته وایی؟ که چیری یوه دایره په (۳۶۰) مساوی حصو وویشو او هغه له مرکز سره وصل مړو، هغه خط چی د نوموړو حصو له تواصل څخه د مرکز په شاوخوا کی منځ ته راځی د دایری محیط باله کیږی او په تولنیز لحاظ هم هغه چاپیریال ته چی مونږ ئی په منځ کی اوسیږو، محیط وائی. د محیط پیژندنه دا معنی لری چی: مونږ باید پدی و پوهیږو چی، آیا مونږ په توره شپه کی واقع یو او که په رڼا ورځ؟ مونږ په غرونو کی اوسیږو او که په سیمو، کلیو باندی او یا ښارونو کی؟ زمونږ په شاوخوا کی دوستان څومره دی او دښمنان څومره دی، د هغوی مطابق باید خپل مبارزوی فعالیت ته دوام ورکړو.
مونږ باید له محیط سره تطابق وکړو، له محیط سره تطابق د ابن الوخت او یا محیط ته د تسلیمیدو په معنی ندی بلکی پر هغه باندی د بریالیتوب په معنی دی، مثلاً: په دوبی کی مونږ نازک کالی اغوندو، دا ددی لپاره اغوندو چی د دوبی له موسم سره تطابق وکړو، که چیری په دوبی کی مونږ هیڅ کالی وانه غوندو او یا وړین کالی واغوندو، بیا موگرمی وژنی! او همدا رنگه په ژمی کی مونږ وړین کالی اغوندو، دا ددی لپاره چی د ژمی له موسم سره تطابق وکړو او که چیری وړین کالی وانه غوندو یا نازک کالی واغوندو، نو بیا مو ساړه وژنی.
**خاطره:** کارل مارکس وائی چی: « مونږ باید خپل چاپیریال انسانی کړو»
او یو څو متلونه هم وړاندی کوو: ((څپلی د اوبو پر غاړه ایستلی کیږی، آب را دیده موزه را کشیده، هغه خوله دی ورکه شی چی خبری ئی تأثیر کړی او هغه نه غریږی او هغه خوله هم ورکه شی چی خبری ئی تأثیر نه کړی خو هغه غریږی، ښه ویل ښه دی خو کله کله نه ویل ئی ښه دی، توری شپې چی خوړلی دی هغه یو سلو شپاړس دی، چی په زور ور سره برابر نه وی د هغوی په څنگ کی په زړورتیا سره مه کښینه، هغه سترگی دی ورکه شی چی د خوب وخت نه وی او دوی پټی وی.
اسلوب د هغو اصولو او روشونو مجموعه نه ده چی د انسان په خوښه وی بلکی د هم هغی پدیدی په قانونمندی پوری اړه لری، چی ورزی هغه پرزی، د ژوندانه چاری آس ندی چی په لښته ئی وځغلوی، اول باید مغز او وروسته لاس مسلح شی، شولی په یوه وار سره نه سپینیږی، له کړی چاړی سره کوږ ښتون جوړیږی، هر سخن جاه و هر نکته مکانی دارد)) او داسی نور....
**۶ : د دوستانو او دښمنانو پیژندنه:** هر هغه څوک چی زمونږ د گران او محبوب هیواد افغنستان زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو ته واقعاً خدمت کوی مثلاً : با شعوره او با خبره کارگران، بزگران او نور زیارایستونکی او ترستم لاندی خلک، په سیمه ایز او نړیوال لحاظ کمونستی او کارگری گوندونه، سوسیالستی او خلقی دموکراتیک دولتونه او حکومتونه او نور زیارایستونکی او تر ستم لاندی خلک، او هر هغه څوک چه شعوراً د افغنستان کارگران، بزگرانو او نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلکو د گټو پر ضد عمل کوی زمونږ دښمنان بلل کیږی.
زمونږ د هیواد په داخل کی کورنی ارتجاع یعنی فیودالان او د دوی شعوری نماینده گان لکه: اخوان الشیاطین یعنی: شعوری گلب الدینیا، ربانیان، مسعودیان، خالصیان، سیافیان، طالبان، کرزی یان، ظاهر شاهیان او د دوی شعوری پلویان او داسی نور. په دی ترتیب ملی بورژوازان او د هغوی شعوری نماینده لکه: امینیان، پرچمیان، شعله یان، افغان ملتیان، ستمیان، کارگری ارسطوکراتان، درواغجن او بی قوته عمومی زرغونیان او نور ښی او کین رویژیونستان په سیمه ایز لحاظ د سیمی ارتجاع او د هغی نماینده گان او په نړیواله سطح نړیواله ارتجاع او امپریالیزم چی په رأس کی ئی د امریکا د متحده ایالاتو امپریالستی ارتجاعی دولتی دستگاه قرار لری.

خاطره: څه ښه وائی چی: (دوست به دی وژړوی او ښمن به دی وخندوی، که چیری په طبیعی لحاظ د یوه ناروغ د ناروغی اصلی علت او جراثیم تشخیص او ونه پیژندل شی ، د هغه ناروغ تداوی دیره مشکله او حتی نا ممکنه کیږی، دوستی را که به عمر فرا به چنگ آورید آنرا به یکدم میازارید، پیدا کردن یک دوست به سالیانی ممکن و پیدا کردن هزار دشمن به آنی میسر است.

**تواضع های دشمن مکر صیادی بـود بـیـدل — که خم خم رفتن صیاد ز بهر قتل مرغان است**

که چیری مونږ دوستان او ښمنان لکه څرنگه چی دی هم هغسی ونه پیژنو او یا له دوستانو څخه په خپله خپلو ځانونو ته ښمنان جوړ کړو او یا بی له شرایطو د دوستانو په نیولو کی بیړه وکړو او یا د خپلو دوستانو او ښمنانو تر منځ سم او پوره تشخیص و نه کړو نو: یا به خپل دوستان او ښمنان گډوډ تر خپل ضربو لاندی نیسو، یا به د ښمنانو پر ځای دوستان تر ضربو لاندی نیسو او یا به د دوستانو پرځای له ښمنانو سره دوستی، ملگرتیا، مرسته او ښیگنه کوو) او داسی نور......

۷ : د مادونانو او رهبرانو پیژندنه: رهبر: هغه چا ته وایی چی مستقسماً در امر د ورکولو صلاحیت لری نو مونږ باید د خپلو رهبرانو کلی او عمده خواص وپیژنو او په کلی کی ددوی ټول کړه وړه د کارل مارکس، فریدریک انگلس، ولادمیر الییچ لینین او آی یوسیف ویساری او نوویچ استالین له انقلابی زده کړو او ښوونو سره مقایسه کړو.

مادون: هغه چاته وائی چی مستقیماً د خپل رهبر تر امر لاندی وی، نو مونږ باید د خپلو مادونانو ټول مادی او معنوی توان او قوت ځانونه ته معلوم کړو او د هغوی له توان او قوت سره سم هغوی ته تدریس وکړو او وظایف ورکړو، او همدا رنگه دوی ته هر وخت متوجه باید اوسو چی آیا دوی خو به په مونږ پسی ښمنانو اچولی نه وی؟ که چیری مونږ خپل رهبران او مادونان و نه پیژنو نو زمونږ په جنبش او زمونږ په هیواد کی به داسی انقلابی ضد اعمال او ناوړه کړه وړه تر سره شی لکه: چی په ایتالیا کی توراتی او د ده شریکانو، په مصر کی مارشال عبدالحکیم، انور سادات او د دوی شریکانو، په پخوانی شوروی اتحاد کی خروسچف، بریژنف، گرباچف، ییلسن او د دوی شریکانو او زمونږ په گران او محبوب هیواد افغانستان کی: ببرک کارمل او وینی بهوونکی (خون آشام حفیظ الله امین، مرتد فضل الربی سوله مل، داکتر صالح محمد زیری، داکتر نیازمحمد مومند، میرصاحب کاروال او بی کفایته خورد ضابط سیدمحمد گلاب زوی او د دوی شریکانو او داسی نورو تر سره کړل او داسی نور ......

۸ : د ملگری د پیژند گلوی اساسی ټکی: د ملگری په جلب، جذب، تنظیم او دوامداره ارتباط کی د لاندینیو ټکیو پیژندگلوی لازمه ده: الف : طبقه، ب : ارتباط، ج : نفوذ، د : استعداد، هـ : موقف، و : صداقت، ی : وفاداری او داسی نور.....

خاطره: « اعتماد ښه دی خو کنترول بهتر، لږ دی وی ښه دی وی، یوه غوا په اوبه کی متیاځی وکړی او د ټولو غواوو رنگ او نام پری بدیږی، د نا اهلو او بی کفایته ملگرو په دیروالی باندی بورژوازی نماینده گان ناپوهان او لیونیان خوشحالیږی، له بد ملگری څخه یوازی گرځیدنه ښه ده، بد مار له بد ملگری څخه ښه دی، بد ملگری له بد مار څخه بدتر دی، بد ملگری د لستونی د مار حیثیت لری، له بیوفا پهره دار څخه وفادار سپی ښه دی) او داسی نور....

۹ : د خپل مرام پیژندنه: زمونږ سازمانی انقلابی مرام دوی مرحلی لری: الف: زمونږ ستراتیژیک یعنی نیږدی مرام: د جبهی په چوکات کی د هیواد د کارگری طبقی تر رهبری لاندی د توری په تیره څوکی سره په اول قدم کی د امپریالیزم او په دوهم قدم کی د فیودالیزم او د توری په پڅه څوکی سره د ملی بورژوازی له وهلو او په دی ترتیب سره دخلقی دموکراتیک انقلاب له انجامولو یعنی : د خلقی دموکراتیک دولت، د خلقی دموکراتیک دیکتاتوری چی د« پرولتاریا دیکتاتوری یو شکل دی» د خلقی دموکراسی او خلقی دموکراتیکی ټولنی له جوړولو څخه عبارت دی.

ب : زمونږ نهائی یعنی وروستی مرام د توری په تیره څوکی سره د ملی بورژوازی له وهلو او سرمایه داری دوری ته د رشد د نه ورکولو او د هغی له تیرولو څخه پرته د کمونیزم د لومړی مرحلی یعنی د سوسیالیزم او د هغی د دوهمی مرحلی یعنی کمونستی خاصی بی طبقاتو ټولنی له جوړولو څخه عبارت دی.

خاطره: څه ښه وایی چی: (حرکت بی له هدفه بی معنی دی) او داسی نور ......

۱۶ : سیاسی او اجتماعی اصطلاح: اپولوتیزم: یعنی د سیاست په باب لاقیدانه روش درلودل په سیاسی جریان کی له گډون څخه ځان ژغورل، دسیاسی څرگندی مشی (تک لاری) نه لرل، دغه لغت د پولیتیک له کلیمی چی د سیاسیت معنی لری د (آ) په زیاتیدو سره چی نفی مفهوم لری ترکیب شوی دی. د سیاسی ژوندانه په باب: لا قیدی او بی پروائی او له هغه څخه د ځان ژغورل د پانگوالی (سرمایه داری) رژیمونو له خوا په خلکو کی په عمدی توگه رواجول کیږی، په سیاسی چارو کی نه گډون او سیاسی اجتماعی ژوندانه ته پام نه کول له دی څخه را پیدا کیږی چی په سرمایه داری هیوادونو کی واکمن محافل سعی کوی څو په ټولو وسایلو سره خلک د آیدیولوژی له نظره په پسمانی کی وساتی او د هغو پام د خپل هیواد او خپلی ټولنی له چارو څخه د ورځنی ژوندانه بیخی فرعی مطالبو او شخصی مسایلو ته وگرځوی.

د اپولوتیزم بل علت هم په ځینو اقشارو کی د دولتونو او حاکمو گوندونو تشی وعدی او په هغو باندی عمی نه کول دی، په سیاسی چارو کی گډون نه کول همدا رنگه په سیاست کی د اجتماعی خاصو اقشارو له گډون څخه د اجباری ممانعت له لاری هم اجرا کیږی. د سیاسی وطنی طبقاتی او د اجتماعی چارو په مورد کی لاقیدی ټوله د ضد خلقی او مرتجع واکدارو محافلو په گټه دی،

ځکه چې زحمتکشان د خپلو هیلو او غوښتنو له پاره له طبقاتی مبارزی او د خپل سرنوشت په تاکلو کښی له ګډون څخه لیری کوی.
په حقیقت کې دا نه کیږی چې انسان ژوند وکړی او په سیاست کې مداخلت ونه کړی، سیاسی چارو ته پام نه کول پخپله د ضد خلقی حاکمه محافلو له سیاست سره مرسته کول دی او دا کار عملاً په یوه مضر سیاست، په یوه بد سیاست او په یوه ارتجاعی سیاست بدلیږی». (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات، ۴ – ۵ مخونه)

## ۱۷ : مبارزه او د مبارزی ډولونه: مبارزه یو عربی کلیمه ده چې په لغت کې د نورو په نسبت ځان ښکاره کول دی، او په اصطلاح کې هدف یا مقصد ته د رسیدلو لپاره کوششونه او تلاشونو ته وایی.

A. مبارزه په یوه پلوه دوه ډوله ده: ۱ – طبقاتی مبارزه. ۲ – غیر طبقاتی مبارزه.
۱ : **طبقاتی مبارزه:** له هغه مبارزی څخه عبارت ده چې له پخلاکیدونکو دښمنو طبقاتو تر منځ روانه وی لکه: د غلامانو او بادارانو، دهقانانو او فیودالانو او کارګرانو او سرمایه دارانو تر منځ جګړه. او دا هم وایو چې: طبقاتی مبارزه د طبقاتو له پیدایښت سره یو ځای منځ ته راغلی ده او دطبقاتو په له منځه تلو سره به له مینځه ځی. او داهم باید یاده کړو چې: طبقاتی مبارزه تر کارل مارکس د مخه موجوده وه خو ده دا ټکی پکی وښود چې « طبقاتی مبارزه به د پرولتاریا د دیکتاتوری په واسطه سره له منځه ځی»
۲ : **غیر طبقاتی مبارزه:** له هغی مبارزه څخه عبارت ده چې: پخپل منځ کی د فیودالانو او د دوی د نماینده ګانو تر منځ یا د سرمایه دارانو او د دوی د نماینده ګانو تر منځ او د قومونو او ملیتونو د زیارکښانو او تر ستم لاندی خلکو تر منځ روانه ده.
B. مبارزه له بله پلوه هم په دوه ډوله ده: ۱ – ګوندی مبارزه. ۲ – غیر ګوندی مبارزه.
۱ : **ګوندی مبارزه:** له هغه کوشش او تلاش څخه عبارت ده چې په ګوندی چوکاټ کی د خپلو دښمنانو پر ضد اجرأ کیږی او په دوه ډوله ده: الف: داخلی مبارزه. ب : خارجی مبارزه.
**الف:** داخلی مبارزه: د هغه کوشش او تلاش څخه عبارت ده چې د ګوند د داخلی دښمنانو پر ضد اجرأ کیږی او په دوه ډوله ده:
الف:ترمیمی مبارزه. ب: تخریبی مبارزه. ترمیمی مبارزه: د هغه کوشش او تلاش څخه عبارت ده چې د انتقادونو ، پیشنهادونو ، توصیو او اخطارونو له لاری د ګوندی اصلاح وړ غړو پر ضد اجرأ کیږی (البته په ګوندی حوزو کی). تخریبی مبارزه: له هغه کوشش او تلاش څخه عبارت دی چې هم د ګوندی حوزه ایزو انتقادونو، پیشنهادونو، توصیو او اخطارونو له لاری او هم له حوزی څخه د باندی د هغو ګوندی غړو پر ضد چې د اصلاح وړ نه وی اجرأ کیږیږ
**ب :** خارجی مبارزه: له هغه کوشش او تلاش څخه عبارت دی چې د ګوندی چوکات څخه د باندنیو دښمنانو پرضد اجرا کیږی.
۲ : **غیر ګوندی مبارزه:** له هغه کوشش او تلاش څخه عبارت ده چې: په غیر ګوندی چوکات کی د خپلو دښمنانو پر ضد اجرا کیږی.
C. طبقاتی مبارزه په دری دوله ده: ۱: سیاسی مبارزه. ۲ : اقتصادی مبارزه. ۳ : آیدیولوژیکی مبارزه.
۱: **سیاسی مبارزه:** د پانګوالی د بنسټ د محوه کولو، د سیاسی قدرت په لاس کی نیولو، د پرولتاریاوو د دیکتاتوری لپاره مبارزه ده. پرولتاریا د اقتصادی مبارزی له لاری کولای شی چې خپله مادی وضع ښه کړی او بورژوازی یو لړ ګڼ شرطونو ته مجبوره کړی مګر د پرولتاریاوو د ژورو اقتصادی او سیاسی ګټو تأمین چې د تل لپاره ئی له استثمار څخه خلاصه کړی یوازی د بورژوازی د سیاسی قدرت په محوه کیدو او د پرولتاریاوو د سیاسی قدرت یعنی د پرولتاریاوو د دیکتاتوری په برقراریدلو سره ممکن دی. دغه هدف ته د رسیدلو په منظور د پرولتاریا په سیاسی مبارزه لاس پوری کوی او له مختلفو وسایلو څخه لکه: سیاسی اعتصابونه، مظاهری، د پارلمانی کرسیو د نیولو له پاره سوله ییزه مبارزه او بالآخره له وسله والی مبارزی څخه استفاده کوی، خو سره له دی دغه ټول وسایل په وروستی تحلیل کی د سوسیالستی انقلاب د اجرأ د اولنی وظیفی تابع دی. پرولتاریایی سوسیالستی انقلاب د پرولتاریا د طبقاتی مبارزی تر ټولو لوړه مرحله د پانګوالی د محوه کولو او د پرولتاریاوو په واسطه د سیاسی قدرت د ګټلو یوازینی او قاطع وسیله ده». (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات ۲۶ – ۲۷ مخونه).
۲ : **اقتصادی مبارزه:** د مبارزی تر ټولو ساده ډول دی چې د کارګرانو او زیار ایستونکو سترو پرګنو لپاره حاصلیدای شی. اقتصادی مبارزه د کار او ژوندانه د شرایطو او مادی وضعی د بهبود لپاره د پرولتاریا مبارزه ده، دغه مبارزه د صنفی او مطالباتی مبارزو په صورت کی مخ ته راځی. کارګران به دی مبارزه کی له کارفرمایانو څخه د مزد زیاتوالی، د کار د ساعتونو لږوالی، د مزد د مناسب اقل حد تأکل، له معاشه سره د رخصتی د ورځو د تقاعد حق، اجتماعی بیمی، د سندیکاؤ د تشکیل حق او داسی نورو غوښتنه کوی او په هغوی باندی د دغو غوښتنو د منلو دپاره په مختلفو هڅو چې له هغی جملی څخه یی یو هم اعتصاب دی لاس پوری کوی.
اقتصادی مبارزه په تاریخی لحاظ د پرولتاریا وو د طبقاتی مبارزی لمړنی ډول دی او د پرولتاریا د انقلابی نهضت په وده کی دیر ستر نقش لری دغه مبارزه د پرولتاریا پراخی پرګنی مبارزی ته را بولی او د دوی شکل او تنظیم لپاره دیره ښه مدرسه ده. د اقتصادی مبارزی په جریان کی وو چې لومړنی کارګری سازمانونه لکه سندیکاوی، اتحادیی کووپراتیفونه او د مرستی صندوقونه منځ ته راغلل، مګر اقتصادی مبارزه محدود خصلت لری، دا لا د بورژوازی طبقی پر ضد د پرولتاریاوو د طبقی ټوله مبارزه نه ده بلکی په دی یا هغی سیمی کی د دی یا هغی فابریکی یا مؤسسی د خاوند په مقابل کښی د څو ډلو کارګرانو مبارزه ده. د دی

مبارزی هدف د پانګوالی اساس او دهغی بنسټ یعنی د تولید په وسایلو باندی خصوصی مالکیت ته متوجه نه ده او د بورژوازی د دولتی قدرت د محوه کولو وظیفه په مخکښی نه ږدی.
د اقتصادی مبارزی هدف د استثمار له منځه وړل ندی بلکی د هغی محدودول غواړی، د پرولتاریاوو له ودی سره د ګوښو کارخانو او سیمو کارګرانو اقتصادی او صنفی مبارزی د پانګوالی له طبقی سره د یوه اجتماعی واحد په څیر د کارګرو د طبقی په ګډه مبارزه بدلیږی او طبقاتی مبارزه په خپل سیاسی ډول کی چی د مبارزی لوړ ډول دی څرګندیږی (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات ۲۴ – ۲۵ مخونه)

**۳ : آیدیولوژیکی مبارزه:** د پرولتاریاؤو د انقلابی جنبش لپاره آیدیولوژیکی کوښښونه او تلاشونه یعنی له بورژوازی آیدیولوژی سره کومه چی په بانګوالی ټولنه کی مسلط آیدیولوژی ده. دا مبارزه د پرولتاریایی سوسیالستی آیدیولوژی د بری لپاره ستر اهمیت لری. د پانګوالی وده د پرولتاریا د یووالی او تشکل مستلزمه ده، خو سره له دی پرولتاریا د پانګوالی نظام د محوه کولو لپاره نه یوازی باید دطبقی په حیث تشکل پیدا کړی بلکی باید په خپلو طبقاتی ګټو او په خپله تاریخی حیرانونکی وظیفه باندی پوه شی، د همدی لپاره چی پرولتاریا یوی انقلابی آیدیولوژی ته اړ دی. پخپله پرولتاریا: د فرصت او وخت د نه لرلو، د وسایلو او زده کړی د لږوالی له امله د داسی تیوری د ایجاد قدرت نه لری، دغه انقلابی تیوری د هغو روشنفکرانو په واسطه چی د پرولتاریا لوری ته راغلل تدوین شوه، دغه نوی انقلابی تیوری همانځه: مارکسیزم – لنینیزم دی چی د پرولتاریاوو سترو مخورو مارکس، انګلس او لینین ایجاد کړه مګر د مترقی انقلابی تیوری په تدوین سره وظیفه پای ته نه رسیږی د داسی تیوری له هستولو یا ایجادولو څخه وروسته باید، هغه د کارګرانو په افکارو کی ځای کړای شی. نو آیدیولوژیکی مبارزه په کارګری نهضت کی د په خپل سر جریان پرضد مبارزه هم ده، د دی لپاره چی پرولتاریا یی سترګی پرګنی مارکسیستی – لنینستی آیدیولوژی زده کړی. آیدیولوژیکی مبارزه هم لکه اقتصادی مبارزه پخپله هدف نه ده، دغه مبارزه د نهضت د سیاسی وظایفو د بورژوازی د طبقی د راپرزولو او د پرولتاریا د قدرت د برقرارولو تابع ده.) ( سیاسی او اجتماعی اصطلاحات، ۲۷ – ۲۸ مخونه)

**خاطره:-** هر هغه څوک چی یوازی او یوازی په اقتصادی مبارزه باندی اتکا او بسوالی غواړی او همدا رنګه یا داسی وایی چی: د اقتصادی، سیاسی او آیدیولوژیکی مبارزی له انجام څخه پرته په خودبخودی توګه سره کمونیزم راځی، ښی رویژیونستان دی، هر هغه څوک چی د کمونیزم په را تګ کی د اقتصادی مبارزی له انجامولو او په خلکو کی د آیدیولوژیکی مبارزی له پخشولو څخه پرته په وسله واله سیاسی مبارزه لاس پوری کوی، کین رویژیونستان دی. یعنی دا معنی لری چی په وچو ډبرو کی غنم شنه کوی. او مونږ علمی کمونستان د طبقاتی مبارزی نوموړی دری واړه دولونه په پیوسته او یو ځایی دول په خپل وخت او زمان سره لکه څرنګه چی وی هم هغسی مخ په وړاندی بیایو.
د مبارزی شکلونه: A – مبارزه له یوه ّلوه دوه شکلونه لری: ۱ – پټه مبارزه. ۲ – څرګنده مبارزه.
**۱ – پټه او یا مخفی مبارزه:** له هغه کوشش او تلاش څخه عبارت دی چی په څرګنده توګه سره د خپلو دښمنانو پر ضد اجرا کیږی.
**۲ – څرګنده یا علنی مبارزه:** له هغه کوشش او تلاش څخه عبارت دی چی په څرګنده توګه سره د خپلو دښمنانو پر ضد اجرا کیږی.
B – مبارزه له بله ّلوه هم دوه شکلونه لری: ۱ – مسالمت آمیز شکل. ۲ – قهرآمیز شکل.
۱ – مسالمت آمیز شکل: دغه مبارزه د وینی له تویولو، وهلو او ټکولو او مرګ او ژوبلی څخه پرته د جلسو، میتنګونو، مارشونو او پارلمان له لاری په مسالمت آمیزه توګه سره د دښمنانو پر ضد صورت نیسی.
۲ – قهرآمیز شکل: دغه مبارزه د اعتصابونو، وسله والو قیامونو، پاڅونونو او انقلابونو له لاری د دښمنانو پرضد انجامیږی او د مبارزی په دی شکل کی وینی تویږی، وهل او ټکول او مرګ او ژوبله پکی کیږی.
**خاطره:-** ښی رویژیونستان د مبارزی علنی او مسالمت آمیز شکل مطلق کوی او کین رویژیونستان د مبارزی پټ او قهرآمیز شکلونه مطلق کوی، مونږ واقعی زرغون صفته خلقیان (اصلاً او ماهیتاً مارکسیستان – لنینستان) د مبارزی یو شکل هیڅکله او هیڅکله نه مطلق کوو او دا هم وایو چی: مونږ د طبقاتی مبارزی د نوموړی څلور واړه شکلونو په پیوسته توګه په خپل وخت او زمان سره أه خپلو ځانګړو شرایطو سره سم مخ په وړاندی بیایو، یعنی که چیری د علنی مبارزی لپاره شرایط آماده وی، نو د کمونیزم تر بشپړ بریالیتوبه یعنی کمونستی خاصی بی طبقاتو ټولنی تر جوړیدو پوری د کمونست ګوند یوه برخه باید علنی او یوه برخه یی باید مخفی وی او که چیری د علنی مبارزی لپاره هیڅ شرایط موجود نه وو نو ټول کمونست ګوند باید مخفی وی، خو هیڅکله ټول کمونست ګوند باید د یوی لحاظ لپاره هم علنی نشی او داسی نور......

## ۱۸ : مارکسیزم – لنینیزم څو دولتونه په رسمیت پیژنی؟

مارکسیزم – لینینیزم څلور دولتونه په رسمیت پیژنی: ۱ – بردګی دولت، ۲ – فیودالی دولت، ۳ – برژوازی دولت او ۴ – سوسیالستی دولت. مارکسیزم – لنینیزم له څو کالونو را هیسی دوه ډوله نور دولتونه هم په رسمیت پیژندلی دی: الف: خلقی دموکراتیک دولت، ب: ملی دموکراتیک دولت. او دا هم وایو چی: خلقی دموکراتیک دولت د سوسیالیزم په جاده کی او ملی دموکراتیک دولت د امپریالیزم په جاده کی واقع ده یعنی: خلقی دموکراتیک دولت خلقی دموکراتیکه دیکتاتوری اعلان او مستقر وی چی دا دیکتاتوری د پرولتاریا د دیکتاتوری یو ځوان شکل دی چی د پرولتاریا د دیکتاتوری په بشپړه مرحله باندی تکامل مومی او همدا رنګه خلقی دموکراسی اعلان او مستقروی چی: دا دموکراسی په سوسیالستی دموکراسی باندی تکامل مومی.

او ملي دموکراتيک دولت: ملي دموکراتيکه ديکتاتوري اعلان او مستقروي چي دا ديکتاتوري د بورژوازي ديکتاتوري يو ځوان شکل دی او د بورژوازي د ديکتاتوري په بشپړه مرحله باندی تکامل مومي او همدا رنګه ملي دموکراسي اعلان او مستقروي چي دا دموکراسي په بورژوازي دموکراسي باندی تکامل مومي.

## ۱۹ : سازماندهی: الف: په نړی کی د لمړی ځل لپاره کمونست ګوند څنګه منځ ته راغئ؟

۱ – د نړی د هیوادونو له جملې څخه د آلمان په هیواد کی د عدالت لیګ په نامه یو ګوند جوړ شو چی شعار یی دا وه چی « د نړی انسانانو سره یو شی»

۲ – کارل. مارکس او فریدریک انګس د نوموړی ګوند په یوه حلقه کی ګډون وکړ له څو مودی وروسته دوی په دی پوه شول چی په نوموړی ګوند کی له طبقاتی مبارزی څخه سر غړونه شوی ده او له طبقاتی تضادونو څخه یی پکی سترګی پټي کړی دی او دغه ګوند د خلکو د ګټو واقعی نماینده او کمونست ګوند نه دی. نو د نوموړی ګوند په دننه کی ئی په پټه او مخفی توګه سره د کمونست لیګی سازمان بنسټیزه خښته کیښودله چی د څو مودی سرسختی مبارزی په نتیجه کی ئی نوموړی ګوند په کمونست لیګ باندی واړوه چی شعار یی دا وه چی « د نړی کارګرانو سره یو شی». دا باید و وایو چی: د نوموړو دوو ګوندونو په منځ کی یو فرق دا وو چی په عدالت لیګ کی طبقاتی تضاد نه وو ښودل شوی او له هغه څخه سترګی پټی شوی وی او په کمونست لیګ کی طبقاتی تضاد وښودل شو.

۳ – کارل مارکس او فریدریک انګلس په ۱۸۶۵م لومړی انترناسیونال یعنی: بین المللی کارګری پیوستون جوړ کړ او مارکس د خپل ژوند تر وروستی سلګی پوری هغه رهبری کړ.

۴ – د کارل مارکس تر مرګ وروسته دوهم انترناسیونال منځ ته راغی چی د هغه رهبری فریدریک انګلس په غاړه واخیسته.

۵ – د فریدریک انګلس له مرګ څخه وروسته د دوهم انترناسیونال رهبری د بورژوازی نماینده ګانو لاسته ورغله او نوموړی انترناسیونال یی په بورژوازی باندی واړوه.

**ب: په روسیه کی مارکسیستی کمونستی ګوند څنګه منځ ته راغئ؟ :** ۱ – په ۱۸۸۳ م کال کی په روسیه کی د پلخانف تر رهبری لاندی د « کار د آزادی » د ډلی په نامه یوه ډله منځ ته راغله او د مارکسیزم په تبلیغ یی شروع وکړه، یو شمیر حلقی ئی پیدا کړی چی د سوسیال دموکراتیکو حلقو په نامه یادیدلی. دا هم وایو چی: پلخانف په روسیه کی د مارکسیزم لومړنی مبلغ وه.

۲ – ولاد میر ایلییچ لنین په ۱۸۸۷م کی په مبارزه پیل وکړ او د نوموړیو سوسیال دموکراتیکو حلقو په یوه حلقه ئی ګډون وکړ او له څو مودی وروسته په دی باندی پوه شو چی نوموړی حلقی واقعاً مارکسیستی حلقی نه دی.

۳ – لینین په ۱۸۹۲م کی ئی د « ځوانانو محفل» په نامه یو محفل جوړ کړ.

۴ – بیا په ۱۸۹۵م کال کی « د مبارزی لپاره د اتحادیی» په نامه یو پټ سازمان جوړ کړ چی رهبری ئی ولادمیر ایلییچ لینین په غاړه درلوده او همدی سازمان دیر سخت انظباط او دسپلین درلود.

۵ – په ۱۸۹۸م کال کی د روسیی د سوسیال دموکرات کارګری ګوند لومړی کنګره دایره شوه او نوموړی ګوند یی اعلان کړ او لینین په نوموړی کنګره کی ګډون نه درلود، یو کال وروسته ئی د خپلو ملګرو له خوا د نوموړی ګوند د تأسیس په هکله معلومات تر لاسه کړه، ده د نوموړی ګوند له جوړښت څخه ملاتړ وکړ خو د نوموړی ګوند په مرامنامه او اساسنامه باندی دیر سخت انتقادونه ونیول.

۶ – په ۱۹۰۳م کال کی د نوموړی ګوند دوهمه کنګره دایره شوه چی لینین هم په نوموړی کنګره کی ګډون وکړ، په دی کنګره کی د لینین او مارتف او د دوی د پیروانو له خوا د ګوند د مرامنامی او اساسنامی د ځینو مهمو مسئلو په باب دیر سخت او نه پخلاکیدونکی اختلافات منځ ته راغلل چی: د دوی اختلافات په مرامنامه کی د پرولتاریا د دیکتاتوری او په اساسنامه کی د حوزی او حق العضویت پر سر باندی وو. لینین او د ده پیروانو دا عقیده درلوده چی: ګوند کی د پرولتاریا د دیکتاتوری، حوزه او حق العضویت باید حتمی وی خو مارتف او د ده پیروان په دی عقیده وو چی: د ګوند په مرامنامه کی د پرولتاریا د دیکتاتوری ذکر کول لازم نه دی، د حوزی پرځای یی په مارشونو او میتنګونو کی د ګوند غړو ګډون ښود او حق العضویت پر ځای یی د ضرورت په وخت کی د اعانو تولوړ لازم بلل چی په نتیجه کی په کنګره کښی لینین او د ده پیروان اکثریت او مارتف او د ده پیروان اقلیت تر لاسه کړ چی په دی توګه: لینین او د ده پیروان د بلشویکانو په نوم (بلشویه یعنی دیر) او مارتف او د ده پیروان د منشویکانو (منشوه یعنی لږ) په نوم یاد شول.

۷ – په ۱۹۰۵م کال کی په روسیه کی لومړنی بورژوا دموکراتیک انقلاب منځ ته راغی چی تر ۱۹۰۷م کال پوری یی دوام وکړ چی په همدی کال ناکام شو، د بلشویکانو په شمول تول مترقی قوتونه تر سختو ارتجاعی مادی او معنوی شکنجو، تهدیدونو او حملو لاندی راغلل او بلشویکانو او منشویکانو د تل لپاره سره جدا شول.

۸ – په ۱۹۱۱م کال کی بلشویکانو او نورو مترقی قوتونو بیا خپله طبقاتی مبارزه شدیده کړه.

۹ – په ۱۹۱۷م کال کی د فبروری په میاشت کی بل بورژوا دموکراتیک انقلاب منځ ته راغی چی رهبری یی د منشویکانو په لاس ورغله.

۱۰ – په ۱۹۱۷م کال د اکتوبر د میاشتی په ۲۵ نیته یعنی د نومبر د میاشتی په اوومه نیته (له نوی تقویم سره سم) د بلشویکانو تر رهبری لاندی چی لینین یی په لاس کی وه په روسیه کی ستر سوسیالستی انقلاب منځ ته راغی چی په نوموړی انقلاب کی د ګوند جوړښت او د هغه مبارزی اساسی رول درلود.

**ج : زمونږ په ګران او محبوب هیواد افغانستان کی زمونږ واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک ( ماهیتاً مارکسستی – لنینستی) مرکزی او سراسری انقلابی سازمان څنګه منځ ته راغلی دی؟**

**١ – د افغانستان د مشروطه غوښتونکو د سراج الاخبار په نامه انجمن (مجلس):**

**ترک جان و ترک مال و ترک ســر در راه مشروطیت اولین منزل است**

په ١٨٣٩م کال کی انګریزانو زمونږ په ګران او محبوب افغانستان باندی حمله وکړه، له دی حملی وروسته په افغانستان کی یو شخص د سید جمال الدین افغان په نامه را پورته شو او د انګریز استعمار پر ضد یی په یو سلسله انقلابی لیکنو پیل وکړ چی د ده لیکنو د خلکو د اذهانو په روښانولو او تنویرولو کی مهم رول ولوباوه چی بالآخره د انګریزی استعمار او د هغه د ګوداګیانو له خوا په دیره بیرحمانه او غیر عادلانه توګه سره سید جمال الدین افغان له خپل خاوره څخه تبعید کړې شو خو د ده لیکنی د ستر لینن له دی قول سره سم چی (انقلابی سیاسی تبلیغ بی نتیجی نه پاتی کیږی) بی تاثیره او بی نتیجی پاتی نشوی او بالآخره په ١٩٠٣م کال زمونږ په ګران او محبوب هیواد افغانستان کی د سراج الاخبار په نامه یوه انجمن (مجلس) د مولوی عبدالرؤوف (خاکی) تر رهبری لاندی منځ ته راغی، نوموړی انجمن د وخت امیر – امیر حبیب الله خان ته د سراج الاخبار په نامه د یوی جریدی د نشرولو پیشنهاد وکړ او امیر حبیب الله خان د دوی همدا نوموړی پیشنهاد قبول او منظور کړ او په دی ترتیب سره دسراج الاخبار په نامه جریده څو ګنی چاپ او نشر شوخ چی نوموړی جریدی د ستر لینین له دی قول سره سم چی: « اخبار نه یواځی تبلیغونکی بلکی سازمان ورکونکی هم دی» د خلکو د اذهانو په را بیدارولو او تنویرولو کی زیات رول ولوباوه، له څو مودی وروسته انګریزانو او دهغوی د ګوداګیانو له خوا نوموړی جریده توقیف او مصادره شوه او بندیز پری ولګول شو او په دغه وخت کی مولوی عبدالرؤوف (خاکی) مړ شو او د ده ځای د ده معاون یو پیاوړی ملی انقلابی شخصیت د مولوی محمد سرور واصف په نامه اشغال کړ.

**٢ – د افغانستان د مشروطه غوښتونکو لومړی (پټ ملی) حزب:** په ١٩٠۴م کال د افغانستان د مشروطه غوښتونکو لومړنی (پټ ملی حزب) د مولوی محمد سرور واصف تر رهبری لاندی منځ ته راغی، جریده یی سراج الاخبار نومیده چی په پټه توګه سره یی پخشوله ، هدف یی استعمار او د خلکو د اذهانو تنویرول وو. سمبول ئی قرآن، توره او او قلم وه. د حزب په رأس کی لسو تنو قرار درلود چی په رأس کی مولوی محمدسرور واصف واقع وه. دیر سخت انظباط او دسپلین ئی درلود، د یوی حوزی او بلی حوزی غړو به نه سره پیژندل، نوی کسان به په څو حوزو کی تنظیمیدل، مربوطو کسانو به د دوی مکمل شهرت خپلو لوړو مقامونو ته ور کاوه، له هغو کسانو څخه چی له لوړو مقامونو سره په تماس کی وو پرته نور غړو به لوړ مقامونه نه پیژندل. دری کاله وروسته د نوموړی حزب د غړو شمیر ٣٠٠ تنو ته ورسیده. یو شیه د نوموړی حزب د مرکزی کمیټی غړی په یوه ځای سره کښیناستل او جلسه یی وکړه او په دی جلسه کی یی داسی امر صادر کړ چی د حزب هر غړی باید په تفنګچه مجهز او سمبال وی. پاتی دی نه وی چی : په نوموړی مرکزی کمیته کی جاسوسان هم موجود وو چی د حزب د مرکزی کمیټی غړی وو او په دی باب یی امیر حبیب الله خان ته پټ راپور ورکړ او همدا رنګه په داسی حال کی چی د نوموړی حزب رهبرانو له دی راپور څخه خبر نه وه ، امیر حبیب الله خان ته یی د لیکوالانو په صفت نه د حزب د غړو په صفت د سراج الاخبار د جریدی د نشرولو د دوام پیشنهاد وکړ خو امیر حبیب الله خان او د ده بادارانو او نوکرانو نوموړی پیشنهاد ونه مانه او د حزب په مرکزی کمیټی او نورو غړو باندی یی حمله وکړه او حزب رهبر، قهرمان مولوی محمد سرور واصف او د ده یو شمیر ملګری یی اعدام او یو شمیر یی بندیان کړل او نوموړی حزب یی ړنګ او سره وپاشه. که څه هم نوموړی حزب یی ړنګ او د حزب یو شمیر غړو وینی یی تویی کړی خو د دوی د وینو هر څاڅکی د خلکو د اذهانو په را بیدارولو او تنویرولو کی لا ستر رول ولوباوه.

**٣ – د افغانستان د مشروطه غوښتونکو دوهم حزب ( د ځوانانو حزب ):** **اول:** د افغانستان د مشروطه غوښتونکو د لومړی حزب له ړنګیدو څخه دوه کاله وروسته د افغانستان د مشروطه غوښتونکو دوهم حزب د ستر لیکوال محمود طرزی تر رهبری لاندی منځ ته راغی، جریده ئی د «سراج الاخبار افغانیه» په نامه یادیدله، د محمد طرزی لور ثریا نومیده چی د نوموړی حزب غړی وه، ثریا له شهزاده امان الله خان سره واده وکړ او امان الله خان هم د نوموړی حزب غړی شو، د دی حزب مرام هم د استعمار ضد او د خلکو د اذهانو را بیدارول او تنویرول وو، بالآخره امیر حبیب الله خان د نوموړی حزب له دستور سره سم د حزب د یو غړی له خوا د ښکار د کولو په وخت کی په پټه توګه سره ووژل شو، سردار نصرالله خان چی د حبیب الله خان ورور وه په جلال آباد کی او امیر امان الله خان په کابل کی د سلطنت اعلان وکړ، څه موده وروسته نصرالله خان استعفا وکړه او امیر امان الله خان د حزب په کمک د سلطنت واګی په خپل لاس کی واخیستی.

**دوهم :** امیر امان الله خان د حزب له دستور سره سم له انګریزی استعمار څخه د هیواد ملی استقلال د تر لاسه کولو غوښتنه وکړه خو انګریزی استعمار د ده دغه غوښتنه ونه منله نو امیر امان الله خان د انګریزی استعمار ضد جهاد اعلان کړ چی: له دیری سختی جګړی وروسته د هیواد ملی استقلال تر لاسه شو او دوهم حزب هم ړنګ شو.

**دریم:** امیر امان الله خان د حزب غړو ته لوړ لوړ دولتی مقامونه ور کړل او په دی ترتیب سره دولتی مصروفیتونه له حزبی مصروفیتونو، دولتی مقامونه له حزبی مقامونو او دولتی آیدیولوژی له حزبی آیدیولوژی څخه مقده او لوړه وبلله شوه ، له دی کړو وړو سره سره بیا هم د ده د سلطنت دوره په نسبی توګه سره مترقی وه چی بالآخره د تک تود انګریزی استعمار د دسیسو له مخی غازی امان الله خان له خپل هیواد څخه د ایتالیا مرکز روم ته تبعید شو او د ده پر ځای د سقاو زوی حبیب الله نومی شخص چی یو غل وه د قدرت واکی په خپل لاس کی ونیوو چی څه موده وروسته حبیب الله د محمد نادر خان له خوا په قتل ورسید او محمدنادر خان د سلطنت پر تخت کښیناست.

**څلورم:** د محمد نادر خان عصر له استبداد او تشدد څخه ډک عصر وه، محمدنادر خان په دی یا هغه نامه د افغانستان د مشروطه غوښتونکو د دوهم حزب یو شمیر تیت او پرک غړی اعدام او د توپونو خولو ته یی وتړل او په توپونو کی والوزول او یو شمیر یی بندیان کړل او د دوی وینی او شکنجی هم بی تأثیره او بی نتیجی پاتی نه شوی، او بالآخره: محمدنادر خان د قهرمان عبدالخالق نومی له خوا چی د افغانستان د مشروطه غوښتونکو د دوهم حزب غړی وه او د استقلال د لیسی شاګرد وه په نوموړی لیسه کی په قتل ورسیده او دی هم د خائن محمد نادر شاه د محافظینو له خوا په شهادت ورسیده، د محمدنادرخان پر ځای د دده شل کلن زوی محمدظاهرشاه خان د سلطنت پر تخت باندی کښیناست.

**پنځم :** څو موده وروسته «ویښو ځلمیانو» په نامه یو بل سازمان منځ ته راغی چی رهبری یی نورمحمد تره کی په غاړه درلوده او نوموړی سازمان د خلکو د اذهانو په تنویرولو کی څه نا څه مترقی او پر مختلونکی رول ولوباوه او یو شمیر ځینی نور ګروپونه، سازمانونه او ګوندونه منځ ته راغلل چی د وخت د مستبدانو پر ضد یی مبارزه کوله. بالآخره: د ۱۳۴۳ ه ش کال د جدی د میاشتی په یوه لسمه نیټه د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند چی په تشه خوله یی خپل ځان د هیواد د کارګری طبقی مخکښ باله، مؤسسه کنګره د کابل په ښار د نورمحمد تره کی په کور کی د نورمحمد تره کی تر رهبری لاندی د دیرش تنو په ګډون چی هر تن یی ۷ – ۱۰ نفریزه حلقه درلودله، دایره شوه، نورمحمد تره کی د حزب عمومی منشی او ببرک کارمل یی لومړی معاون وټاکل شو، ستراتیژیک او یانژدی مرام یی ملی دموکراسی حکومت د کارګری طبقی تر رهبری لاندی وښود چی دا دوی تشی او تی بوتی، بابولالی او برغازی وی، او غائی او یا نهایی مرام یی د سوسیالستی ټولنی اعمار او جوړښت وښود.

زموږ خورا ګران او محبوب ملګری، مؤسس او رهبر **شهید داکتر عبدالکریم زرغون** چی په هغه وخت کی د سن په لحاظ لا ځوان وه د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند ته ور داخل شو، د نوموړی ګوند په داخل کی یی د: کارل مارکس، فریدریک انګلس، ولادمیر ایلییچ لینین او آی یوسف ویساری اونو ویچ استالین د انقلابی زده کړو او ښوونو په پیروی په انقلابی مبارزه پیل وکړ. ده او د ده شاګردانو له څو مودی وروسته ولیدل چی (نوموړی حزب یو واقعاْ مارکسیستی – لنینستی حزب نه دی، ځکه چی د نوموړی حزب مرکزی کمیته په عمل کی د خلقی دموکراتیکی ټولنی او بالآخره د کمونستی ټولنی د را ټګ لپاره مبارزه نه کوی بلکی د یوی ملی دموکراتیکی ټولنی او بالآخره د بورژوازی ټولنی لپاره مبارزه کوی او د ګوند په کادرونو او صفوفو کی بورژوازی آیدیولوژی پخشوی) نو یی د افغانستان د خلکو په دموکراتیک ګوند کی دننه زموږ د هیواد په پنځه کلن تاریخ کی د لومړی ځل لپاره په یوه دول نه یوه دول او یوه شکل نه یوه شکل سره د کارل مارکس، فریدریک انګلس، ولاد میر ایلییچ لنین او آی یوسف ویساری اونو ویچ استالین د انقلابی زده کړو او ښوونو په پیروی او د هیواد د پخوانیو مترقی او استعمار ضد ګوندونو، دلو او سازمانونو او منفردو انقلابی شخصیتونو له کړو وړو څخه په علمی تجربه اخیستلو سره د ۱۳۴۵ ه ش کال د جدی د میاشتی په یو لسمه نیټه زموږ د هیواد په مرکز کابل ښار (چی په راتلونکی کی به د «زرغون ښار» په نامه ونومول شی په مخفی او پټه توګه سره زموږ د واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک (اصلاْ او ماهیتاً مارکسیستی – لنینستی) مرکزی او سراسری انقلابی سازمان بنسټیزه خبښته کیښودله چی د همدی پټی انقلابی تشکیلاتی بنسټیز خبښتی د ایښیدلو افتخارات هم شخصاْ په ده پوری اړه لری او د دوام پرمخ بیولو افتخارات یی زموږ د انقلابی سازمان په مشرتابه او نورو غړو پوری اړه لری.

## ۲۰ : زموږ د واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک یعنی اصلاْ او ماهیتاْ مارکسیستی – لنینستی مرکزی او سراسری انقلابی سازمان د غړیتوب اساسی شرایط:

د سازمان د غړیتوب شرطونه اووه او په لاندی ډول سره دی:

۱ – اتلس کلن وی او ( ......د افغانستان ) تبعه وی، ۲ – د ( ...... افغانستان ) د خلکو د ګټو پر ضد یی کوم شعوری اقدام نه وی کړی. ۳ – د سازمان مرامنامه او اساسنامه ومنی او د هغو د تطبیق لپاره مبارزه وکړی. ۴ – د سازمان په یوه حوزه کی ګډون او کار وکړی. ۵ – حق الشمول او حق العضویت ورکړی. دا پنځه شرطونه د ټولی نړی په کمونستی او کارګری ګوندونو کی باید موجود وی.

۶ – له لسو جریبو لومړی درجی ځمکی، له شلو جریبو دوهمی درجی ځمکی او له دیرشو جریبو دریمی درجی ځمکی څخه زیاته ځمکه ونه لری. ۷ – دومره شخصی مال، دولت او دارایی ونه لری چی د سوسیالیزم په جوړیدو کی ور څخه اخیستل کیږی. دا دوه وروستی شرطونه زموږ د هیواد په شرایطو کی د تطبیق وړ دی.

**یادونه:-** باید هیره نه کړو چی زموږ د انقلابی سازمان غړیتوب له پاره نوموړی اووه اساسی شرایط مطلقه او جبری بڼه لری ځکه چی چیری یو څوک د سازمانی اصولو له مخی د نوموړی اووه اساسی شرایطو له جملی څخه یو شرط هم نه منی او یا ئی درلودنکی نه وی د سازمان غړی کیدونکی نه شی او یا که چیری یو سازمانی ملګری د سازمان اصولو له مخی د نوموړو اساسی شرایطو له جملی څخه یو شرط هم نفی کړی سمدلاسه له سازمان څخه خارجیږی او په نوموړو شرایطو بر سیره د اعانوی مرستی کار هم تر سره کیږی خو اعانه جبری بڼه نه لری یعنی که چیری یو سازمانی ملګری د اعانوی مرستی وس او توان ولری او له یوه بل محتاج سازمانی ملګری او یا له سازمان سره په خپله خوښه اعانوی مرسته وکړی نو نوموړی ملګری به د فریدریک انګلس او د هغه د پیروانو له کړو وړو څخه پیروی کړی وی چی دا به دیر ښه کار وی او دا کار به د نوموړی ملګری د سازمانی اتوریتی په لوړولو او د سازمانی غړو او د سازمان د انقلابی فعالیت په سرعت کی دیر رول ولوبوی خو: که ور سره تر سره یی نه کړی نو دا به د نوموړی ملګری یا اشتباه وی او یا به ئی سیاسی شعور په همدی ساحه کی همدغومره وده کړی وی، په هرصورت: بیا هم محتاج ملګری او یا سازمان له نوموړی ملګری څخه هیڅ ډول خفګان نه حسوی او خپل

سازمانی ارتباطات نه ور سره قطع کوی په دی شرط چی نوموړی ملګری بر خپل ځان باندی نوموړی اووه اساسی شرایط تطبیقوی. دا هم باید یاده کړو چی : که چیری یو ځوک سازمانی غړو او یا سازمان ته هر ځومره زیاته اعانه هم ورکړی په داسی حال کی چی د نوموړو اساسی شرایطو له جملی څخه ولو که د یوه شرط درلودنکی نه وی یعنی نوموړی شپږ اساسی شرایط پر ځان تطبیقوی او یو شرط ئی نه تطبیقوی بیا هم د سازمان غړی کیدای نشی.

**د سازمان د غړیتوب د نوموړو او اساسی شرایطو تشریح:- ۱ – ولی اتلس کلن وی؟** ځکه چی یو انسان په اتلس کلنی کی د بلوغ مرحلی ته رسیږی کله چی بالغ شی نو د ده وجود کی د ده پخوانی وجود په نسبت کیفی فرق او تغیر راځی، د ده هدوکی، وینه او غوښه پخیږی نو په دی ترتیب سره له سازمانی انقلابی ښوونو سره سم د سازمان اکثریت غړی د فیودالیزم او امپریالیزم او د دوی د نماینده ګانو او هم د ملی بورژوازی او د دوی د نماینده ګانو (اخوان الشیاطینو، امینیانو او کارملیانو او نورو ښیو او کین رویژیونستانو او رنګ رنګ اپورتونستانو) د هر ډول مادی او معنوی تهدیدونو او تطمیع ګانو په وړاندی نه تسلیمیږی، لکه یوه ونه چی د نهال یا نیالګی په حالت کی وی ډیره تنکی وی او د لږ زیات شمال په وړاندی کږیږی خو کله چی غته شی بیایی دیر سخت سخت بادونه او طوفانونه هم نشی کږولای او نه ئی ماتولی شی، البته په دی باب استثنائات شته خو دیر سختی ښونی او روزنی ته ضرورت دی. **او ولی د افغانستان تبعه وی؟** ځکه چی، څرنګه چی د تکامل منبع داخلی تضادونه دی نو د ټولنی په تکامل کی دا خلی قوتونه اصلی رول لری او د ټولنی د ژبو، رسم و رواجونو، عنعنو، کلتور او فرهنګ او داسی نورو خواصو په پیژندګلوی کی د خارجیانو په نسبت خورا ښه مهارت لری، د ټولنیزو محیطی شرایطو سره په تطابق کی خپل کار او مبارزه لکه څرنګه چی ښی هم هغسی پر مخ بیولی شی، دسیاسی قدرت په اخیستلو کی او هم د سیاسی قدرت له اخستلو څخه وروسته هم داخلی قوتونه د هر ډول ګوندی او دولتی او نورو وظایفو په پر مخ بیولو کی اصلی رول لوبوی. البته پدی باب هم استثنائات شته یعنی: په سلو کی یو الا پنځه فیصده خارجیان هم زمونږ له سازمانی اصولو سره سم زمونږ د انقلابی سازمان غړی کیدلای شی او داسی نور.

**۲ – په دی جمله کی چی د افغانستان د خلکو د ګټو پر ضد ئی کوم شعوری اقدام نه وی کړی، شعوری څه معنی لری؟** هر هغه ځوک چی په مارکسیزم – لنینیزم او هم دا رنګه د استثمارګرو طبقاتو پر آیدیولوژیو باندی ښه پوهیږی شعوری انسان باله کیږی، نو په داسی حال کی چی په نوموړو او دواړو دولو آیدیولوژیو باندی ښه پوهیږی خو بیا هم د خلکو د ګټو پرضد کوم اقدام تر سره کوی هیڅکله او هیڅکله زمونږ د سازمان غړی کیدل نشی او دا هم وایو چی: د افغانستان د پخوانی خلقی دموکراتیک ګوند د خلقی جناح په اساسنامه کی نوموړی ماده داسی لیکل شوی وو چی (د افغانستان د خلکو پر ضد یی کوم اقدام نوی کړی) او د افغانستان د پخوانی خلقی دموکراتیک ګوند د پرچم جناح په وروستیو اساسنامو کی نوموړی ماده هیڅ لیکل شوی نه وه چی د نوموړو دواړو ډلو همدغه کار د خلکو له ګټو سره په ضدیت کی وه او زمونږ په وړاندی نوموړی دواړه ډلی محکومی وی او دی، لکه چی وایی « ښی او کین رویژیونیزم د یوی برژوازی سکی دوه مخونه دی » او داسی نور...

**۳ – د سازمان مرامنامه او اساسنامه ومنی او د هغو د تطبیق په لاره کی مبارزه وکړی، دا ولی؟** زمونږ مرامنامه یعنی ګوندی تګ لاره زرغونه خلقی لاره ده، یوازی په لفظ کی د زرغونی خلقی لاری منل د سازمان د غړیتوب لپاره کفایت نه کوی بلکی د هغی د تطبیق لپاره مبارزه په کار ده او له ځو کالو را هیسی ئی په تحریری توګه سره پخشوو، همدا رنګه اساسنامه په شفاهی توګه سره پخشوو او یوازی په لفظ کی د اساسنامی منل هم د ګوند د غړیتوب لپاره کفایت نه کوی بلکی د هغی د تطبیق لپاره مبارزه په کار ده، د سازمان د مرامنامی او اساسنامی منل او د هغی تطبیق لپاره مبارزه کول دواړه یوه د بل لازم او ملزوم دی، یوازی چی ومنل شی او د تطبیق لپاره ئی مبارزه ونه شی دا کار په هیڅ حسابیږی یعنی هیڅ کار نه دی او که چیری ونه منل شی نو د تطبیق لپاره ئی څرنګه مبارزه وشی؟ مونږ د خپل سازمان اساسنامه تر اوسه پوری په تریری توګه سره نه ده پخش کړی، په شفاهی توګه سره ئی پخشوو، دا ځکه چی د تحریر لپاره ئی شرایط آماده نه دی او دا کار زمونږ سازمان ته ډیر تاوان رسوی که نه؟ چی زرغونه خلقی لاره په تحریری توګه سره پخشوولی شوو اساسنامه هم په تحریری توګه سره پخشولی شو.

**۴ – د سازمان په یوه حوزه کی ګډون او کار کول! دا ولی؟** ځکه چی حوزه د حزب او یا سازمان پایه ده چی حزب او یا سازمان په هغی باندی ولاړ وی که چیری یو ځوک د سازمان په یوه حوزه کی د ګډون کولو او په هغی کی د کار کولو شرط په ځان باندی ونه منی زمونږ د سازمان غړی کیدلی نه شی او که چیری یو ځوک په یوه سازمانی حوزه کی ګډون کوی خو کار نه پکی کوی بیا هم زمونږ د سازمان غړی کیدلی نشی، په حوزه کی په واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک انقلابی چوکات کی د کارل مارکس، فریدریک انګلس، ولاد میر ایلییچ لنین او آی یوسف ویساری اونو ویچ استالین انقلابی زده کړی او ښوونی د خپلی ټاکلی نقشی او پلان سره له ساده څخه پیچلو او له ټیټو څخه لوړو پوړیو ته تدریس کیږی. که چیری: نوموړی ښوونی او زده کړی په حوزه تدریس نه شی نو د حزب غړی ئی څه وخت او په کومو ځایونو کی زده کړی؟ او داهم وایو چی: په حوزه کی ګډون او کارکول دواړه لازم او ملزوم د یوه د بل دی، که چیری ګډون په کی وشی او کار پکی ونه شی؛ دا کار په هیڅ حسابیږی او که ګډون په کی ونه شی نو بیا به کار څنګه په کی وشی؟ دا هم د یادولو وړ بولو چی حوزی ته په وخت ورکولو سره ګوندی غړی له خپلو ځانونو څخه فداکاری ښیِ او د حوزی په دایرولو سره مکرراً په ګوندی غړو کی دا افکار تقویه کیږی چی مونږ په ګوند کی کار کوو. او دا هم باید یاده کړو چی د افغانستان د پخوانی خلقی دموکراتیک ګوند د دواړو جناحونو (خلق او پرچم) غړو په تشو خوړو باندی دا ویل چی مونږ مارکسیستان – لنینستان یو په ګوندی حوزه کی یی ګډون کاوه خو لکه څرنګه چی لازم وو هم هغسی یی مارکسیزم – لنینیزم نه پکی تدریساوه او زمونږ او د دوی تر منځ یو عمده اختلاف هم په دی ټکی کی وه او داسی نور .....

۵ – **حق الشمول او حق العضویت ورکړی، ولی؟:** ځکه چی که چیری څوک په خپل ځان باندی د حق الشمول او حق العضویت د ورکولو شرط نه منی، زمونږ د انقلابی سازمان غړی کیدلی نه شی. حق الشمول په گوندی ژوند کی یو وار ورکول کیږی چی دا کار د گوندی غړی مغزوته د لومړی ځل لپاره داسی ټکان چی زه د یوه گوند او یا سازمان غړی شوم او حق العضویت په هره میاشت کی ورکول کیږی. حق الشمول او حق العضویت د لاندینیو مقاصد و په خاطر ورکول کیږی:
**الف:** د گوند غړی په مغزو کی دا فکر تقویه کیږی چی زه د یوه گوند غړی یم. ب: د حزب مالی بودجه پری تقویه کیږی. ج : گوندی غړی له خپله ځانه یوه قربانی او فداکاری ښیی ا داسی نور...
خاطره: دا باید په یاد ولرو چی د نوی دول (احزاب طراز نوین) کمونستی او کارگری گوندونو مؤسس او بنیاد گزار د مارکسیزم ادامه ورکونکی ولاد میر ایلییچ لینین دی.
۶ – **له لسو جریبو لومړی درجی، له شلو جریبو دوهمی درجی او له دیرشو جریبو دریمی درجی ځمکی څخه زیاته ځمکه ونه لری، دا ولی؟** ځکه چی: تر لسو جریبو لومړی درجی، تر شلو جریبو دوهمی درجی او تر دیرشو جریبو دریمی درجی ځمکی څخه زیاته ځمکه د ځمکی په دموکراتیکو او ژورو اصلاحاتو کی ور څخه اخیستله کیږی نو دا چی د ځمکی د اخیستلو په وخت کی کوم خلقی ضد اقدام ور څخه انجام نشی له اول څخه زمونږ د سازمان غړی کیدای نه شی.
۷ – **دومره شخصی مال، دولت او دارایی ونه لری چی د سوسیالیزم په جوړیدو کی ور څخه اخیستل کیږی دا ولی؟** ځکه چی: د سوسیالیزم په جوړولو کی نوموړی شخصی مال، دولت او داریی ور څخه اخیستل کیږی یا له اول څخه او یا دسوسیالیزم د جوړښت په وخت کی کوم خلقی ضد اقدام ور څخه انجام نه شی له اول څخه زمونږ زمونږ د سازمان غړی کیدای نه شی او داسی نور ....
**یادونه:-** ۱ - « تیرو خدمتونو هر هغه څوک چی له مارکسیزم سره ئی مخالفت کاوه د لینین له سخت انتقاد څخه هیڅکله او هیڅکله نشو خلاصولای». ۲ – « که زه ونه سوځم، که ته ونه سوځي او که مونږ ونه سوځو نو هغه رڼا کومه ده چی دا تیاری رڼا کړی؟».
۳ - «که زه کښینم، که ته کښینی او که مونږ کښینو نو څوک به پاڅی؟ او که زه پاڅم، که ته پاڅی او که مونږ پاڅو نو تول به پاڅو».

## ۲۱ – دستور او ډولونه يي: سریزه:

**آمر:-** هغه چاته ویل کیږی چی مستقیماً د امر ورکولو صلاحیت ولری. **مادون:-** هغه چاته ویل کیږی چی مستقیماً در خپل أمر امر عملی کوی. **مافوق:-** هغه چاته ویل کیږی چی مستقیماً د امر د ورکولو صلاحیت نه لری بلکی په معیت باندی د هغه د آمر په واسطه د ده امر چلیږی. **معیت:-** معیت هغه چاته ویل کیږی چی مستقیماً په ده باندی د مافوق امر نه چلیږی.
دستور:- له هغه هدایاتو، اوامر او لارښونو څخه عبارت دی چی د سازمانی او یا حزبی لوړو مقامونو له خوا خپلو مربوطو ټیټو مقامونو ته صادریږی او ټیټ مقامونو د هغو په اجرا مولو باندی مکلف وی او په عمومی صورت سره لاندی ډولونه لری:
**۱ – الف: مطلق دستورونه:-** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی په مطلق ډول سره بی له کوم چون او چرا، یعنی بی له کوم قید او شرط او بی له کوم سوال او ځوابه څه ډول چی د لوړو مقامونو له ورکړل شوی وی هم هغسی د ټیټو مقامونو له خوا اجرا کیږی.
**ب: عادی دستورونه:-** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی: اجرا کوی یی خو د اجرا کولو شرایط یي د ټیټو مقامونو په خوښه وی او همدا رنگه د ټیټو مقامونو پیشنهادونو ته غوږ نیول کیږی، که چیری د هغو په نه اجرا کولو کی د ټیټو مقامونو پیشنهادونه منظور شول بیا هغه تر اجرا لاندی نه نیول کیږی او که منظور نه شول بیا هغه تر اجرا لاندی نیول کیږی.
**۲ – الف: عاجل دستورونه:-** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی له ټاکلی حزبی حوزی څخه مخکی د لوړو مقامونو له خوا ټیټو مقامونو ته صادریږی. **ب: نورمال دستورونه:-** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی په ټاکلی حزبی حوزه کی د لوړو مقامونو له خوا ټیټو مقامونو ته صادریږی.
**۳ – الف: تحریری دستورونه:-** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی په لیکلی او تحریری توگه سره د لوړی مقامونو له خوا ټیټو مقامونو ته صادریږی. **ب : شفاهی دستورونه:-** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی، په ژبنی یعنی شفاهی توگه سره د لوړو مقامونو له خوا ټیټو مقامونو ته صادریږی.
**۴ – الف: ډله ئیز دستورونه:** له هغو دستورونو څخه عبارت دی چی په ډله ئیزه یعنی له یوه څخه د زیاتو تنو په توگه سره د لوړو مقامونو له خوا ټیټو مقامونو ته صادریږی. **ب: منفرد دستورونه:-** له هغه لارښونو څخه عبارت دی چی په منفرده یعنی یوه تنی توگه سره د لوړو مقامونو له خوا ټیټو مقامونو ته صادریږی.
**۵ – الف:- مستقیم دستورونه:** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی، په هغو کی د ټیټو مقامونو له خوا لوړو مقامونو لیدل کیږی ، یا د هغوی غږونه اوری او یا د هغوی د گوتو خطونه وینی. **ب: غیر مستقیم دستورونه:** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی د لوړو مقامونو له خوا د تیلگرامونو او یا د اعتمادی غړو پواسطه ټیټو مقامونو ته صادریږی.
**۶ – الف: مسالمت آمیز دستورونه:** له هغو لارښونو څخه عبارت دی چی، د وینو له تویولو څخه پرته د مظاهرو، مارشونو، میتنگونو او پارلمانونو او د داسی نورو شیانو له لاری د لوړو مقامونو له خوا ټیټو مقامونو ته صادریږی. **ب: قهرآمیز**

**دستورونه:** له هغو لاربښونو څخه عبارت دي چې په هغو کې وینه تویېږي، ټپې توپ او مرګ ژوبله پکې کېږي او د سره ترور، انقلابي وسله والو پاڅونونو او اعتصابونو له لارې د لوړو مقامونو له خوا ټيټو مقامونو ته صادرېږي.
۷ – **الف: فوري دستورونه:** له هغو لاربښونو څخه عبارت دي چې، د لوړو مقامونو له خوا ټيټو مقامونو ته صادرېدو څخه وروسته د ټيټو مقامونو له خوا سمدلاسه د هغو په اجرا باندې شروع کېږي. **ب: ميعادي دستورونه:**-له هغو لاربښونو څخه عبارت دي چې د لوړو مقامونو له خوا ټيټو مقامونو ته له صادرېدو څخه وروسته فوراً او سمدلاسه د هغو په اجراً باندې شروع نه کېږي بلکې لږ او يا دير وخت پکې موجود وي.
**خاطره:-** دا بايد په ياد وساتو چې، **اول:** د دستورونو دولونه يو په بل کې ننوتي دي. **دوهم:** دستورونه بايد په خپل وخت او زمان سره د لوړو مقامونو له خوا صادر او بايد په خپل وخت او زمان سره د ټيټو مقامونو له خوا تر اجرا لاندې ونيول شي.
**دريم:** دستورونه بايد د لوړو مقامونو لخوا په دقيقه توګه سره تعقيب او کنترول شي. **څلورم:** د مخفي دستورونو راز بايد له تاکليو او مربوطو مقامونو څخه پرته بل هيڅ چاته ونه ښودل شي، لکه څّه ښه وايي چې (سِر مرد ها پوشيده است، مرد سر ميدهد ولی سِر نمی دهد). **پنځم:-** دستورونو بايد هيڅکله او هيڅکله د خپلو شخصي، فاميلي، کليوالي، ښاري، قومي، نژادي، ژبنيو، مليتي، منطقوي او داسې نورو ناوړو ګټو د لاسته راړلو په خاطر صادر نشي بلکې: د کارګرانو، بزګرانو او نورو زيارايستونکو خلکو د ګټو د لاسته راوړلو او د هغو د ساتلو په خاطر صادر شي.**شپږم:-** دستورونه بايد د کار اهل ته ورکړل شي. **اووم:-** دستورونو بايد خپلو ټيټو مقامونو ته د هغوی د استعداد او توان په اندازه ور کړل شي. **اتم:-**دستورونه بايد د ټيټو مقامونو لخوا په هر ډول جوی شرايطو کې تر اجرا لاندې ونيول شي. **نهم:-** د دستورونو په ورکولو کې بايد هيڅکله او هيڅکله داسې ونه شي چې خپلوانو او دوستانو ته ورنه کړل شي او د حزب نورو غړو ته ور کړل شي بلکې هر هغه چاته چې خورا ښه ئی عملي کولای شي بايد ور کړل شي. **لسم:-** د دستورونو په ورکولو کې دا بايد د مارکسيزم – لنينيزم د اصولو او قانونمنديو پر اساس په بشپړه توګه سره و سنجوله شي چې د هغو عملي کول خلکوته ډيره ګټه لري او که ډير تاوان؟ چې ډيره ګټه اولږ تاوان لري بايد ورکړل شي او که لږ ګټه او دير تاوان ولري بايد ور نه کړل شي. **يوو لسم:-** د لوړو مقامونو له خوا ټيټو مقامونو ته د دستورونو په اجرا کې د هغو د ګټو په اندازه مکافات او په نه اجرا کې يې مجازات شته او داسې نور ......
(اعتماد ښه دی خو کنټرول بهتر!)

**(معنی وګوره)**

سر و صورت يوازې مه ګوره معنی وګوره — په سر کې فکر زړه کې پټه مدعا وګوره
وينائي واوره بيـائي وګـوره عمل ور سره — ميل و رغبت غايه هـدف او تـمـنا وګوره
په آشنايانو او ملګـرو کې ئې فـکر کـوه — په غور غور ئې بـيا ذوق و اشتها وګوره
څه وايي، څه کوي او څه غوالي د څه لپاره — ورته په خيرخير له هرلوری هری خوا وګوره
نن دی چې وليده يوازې او له نورو سره — په يو ځل مه کوه قناعت سبا ئې بيا وګوره
مه وايه دا چې نور ئې نه ګورم ليدلی مې دی — بيا په دقت د ده تمامه مشغولا وګوره
ور پسې پټ پټ ځار کوه څه پټوی څه ښئ — د ده په کار کې د ده غلا د ده ريا وګوره
تاثير ئې څنګه دی په نورو په ده څه تأثير دی — د ده طاقت او د ده ټوله کمزورتيا وګوره
په خطراتو سختو ورځو کې به څرنګه وی؟
استقامت او حوصله د خپـل آشنا وګوره

(مرحوم الفت، غوره اشعار، ۵۲ – ۵۳ مخونه)

۲۲ – **د توده ای فعاليتونو او مبارزاتو څو ډولونه: ۱ – اعتصاب:-** يعنی له کار څخه د تاکلی او يا نا محدودی مودی لپاره د زيار ايستونکو لاس نيول، اعتصاب د سرمايه دارانو او کارفرمايانو او بورژوازی دولت پر ضد د کارګری طبقی د مبارزی يو شکل دی او د اقتصادی، صنفی او سياسی هدفونو ته د رسيدلو په خاطر طورت نيسی. کارته د نه تلو او په کور کی پاتی کيدل، د کارخانی او دستګاه په مخ کی غونده کول، د کار پريکړه او د کارخانی او چاته د کار خانی د ورتګ لار نه ورکول، د کارګرانو پاتی کول د کار څخه او د خپل ماشين تر شا کار نه کول او داسی عمل چی د توليد ټول جريان شاته واچوی، د وظيفو او چارو د دقايقو د تولو اجرأ په خپله په ځينو ځانګو کی د ډير کار د وروسته کيدو سبب ګرځی او د چارو جريان مختل کيږی.
داعتصاب مختلف ډولونه دی: <u>عمومي اعتصاب</u> د کارګری طبقی د سياسی او اقتصادی غوښتنو د پوره کولو لپاره د اعتصابی مبارزی عالی شکل دی په دغه شکل کی د اعتصاب تولو ډولونو ته لاس اچول د زيار ايستونکو پراخې پرګنی په کلی ډول د هيواد د اقتصاد څرخ له کاره اچوی او د خپل يووالی او مبارزی زور ښيی. په عمومی اعتصاب کس ټول کارګران په متشکل ډول د اقتصاد د يوی ځانګې په ټولو کارخانو کی يا ديوه ولايت په ټولو مؤسسو او يا د ټول هيواد له سر تر سره د ټولو مؤسسو د مشخصو هدفونو او تاکليو شعارونو په خاطر لاس له کار باسی. عمومی اعتصاب د سرمايه داری سيستم پر ضد مبارزه کی د زيارايستونکو د سازماندهی او تجهيز عالی وسيله ده. عمومی سياسی اعتصاب د کارګری نهضت د تکامل لپاره خاص اهميت لری، مناسب موقعيت، روښانه او مهيج شعارونه او د هغو د نظم او شکل اجرأ قطعی اهميت لری) (سياسی او اجتماعی اصطلاحات، ۱۵۰ – ۱۵۱ مخونه)
۲ – **مظاهری:** (ديمونستراسيون) د زيار ايستونکو د مبارزی د توده ئی او پراخو شکلونو څه يو شکل دی، د يو ځای کيدو او په واټونو او ميدانونو کی په لار تلل او د ليکليو او شفاهی شعارونو او خپلو غوښتنو د بيانولو په توګه زيار ايستونکی يا د حاکمه

هیئت د یوه اقدام تصمیم او سیاست پر ضد اعتراض کوی او خپل مخالفت څرگندوی او یا خپلی اقتصادی او سیاسی غوښتنی بیانوی او خپله عقیده او نظریه منعکسوی) (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات، ۱۵۱ مخ)

**۳ میتنگ:** یو انگلیسی لغت دی چی د یوی مسئلی په باره کی د مذاکری لپاره د ملاقات په معنی استعمالیږی، میتنگ یا په یوه مسئله یا یوی سیاسی پیښی کښی د بحث او نظر د څرگنولو لپاره د یوی لږ یا دیری پراخی جلسی په معنی ده او یا په یوه ځای کی د خلکو د گڼی غونډی او د نطاقانو د خبری اوریدل چی د یوی پیښی او یا یوې مسئلی په باره کی خبری کوی او په دی توگه د نظر او عقیدی ښکاره کول. ( سیاسی او اجتماعی اصطلاحات، ۱۵۱ – ۱۵۲ مخونه ).

**۴ – شعار:-** عبارت له پیام او لنډ عبارت څخه دی چی یو هدف او یا یوه مهمه مسئله چی گوند یی په یوه مرحله یا یوه ټاکلی تاریخی لحظه کی په مخ کی لری، په روښانه او لنډ ډول بیان کړی، شعار کیدای شی چی: اقتصادی، سیاسی، استراتیژیکی او یا تاکتیکی وی. هغه شعارونه چی د یوی ټاکلی لحظی او مشخصی او فوری او ټاکلی مقصد لپاره استعمالیږی د عمل شعار نومیږی. (سیاسی اواجتماعی اصطلاحات ۱۵۲ مخ).

## ۲۳ – په گوندې ژوند پوری څو مربوط اصطلاحات:

**۱ – مرامنامه:** د یوه گوند مرامنامه (یا برنامه) یو اساسی سند دی چی په هغه کی د گوند هدفونه او وظیفی قیدی شوی دی. د یوه کارگری مارکسیستی – لنینستی گوند مرامنامه یو علمی سند دی چی د انقلاب د مرحلی د ژور تحلیل د اجتماعی، اقتصادی ټاکلی مرحلی په اساس تدوین شوی وی. کمونست گوندونه د مارکسیزم لنینیزم په زده کړوباندی په تکیه کولو سره او د خپلی عمومی اصولی لاری په پیژندگلوی سره د ټولنی د تکامل د هری مرحلی لپاره یو علمی او هراړخیزه برنامه تدوینوی چی په حقیقت کی د گوند اساسی قانوم کنل کیږی او د گوند غړیو هغه منلی او هغی ته د تحقق بښلو لپاره فعالیت او مبارزه کوی. په مرامنامه کی چی اوس زیات تره د هغی پر ځای د برنامی اصطلاح استعمالیږی د انقلابی تحول له لاری او هدف ته د رسیدلو شیوه او وسیلی ذکر کیږی او په عمده نکاتو کی ئی په مشخصه توگه د هغه هدف چی باید ور ورسیږی په مختلفو شیانو لکه منابعو، کرهنه او دولتی جوړښت او په ملی مسئله او اجتماعی چارو او مترقی او نورو پوری تړلی چاری تشریح کیږی.

د کارگری نهضت په تاریخ کی اوسنی مرامنامه یا برنامه هماغه د کمونست گوند مانیفست دی. په دیرو مواردو کښی مرامنامه یا برنامه تیوریکه برخه یا د آیدیولوژیک اصولو بیان او یا د معاصر دوران د عمده پدیدو تحلیل هم دی. بر سیره په مرامنامه د گوند د برنامی نور اسناد هم تیاریږی چی د تاکتیکی دورانونو لپاره مبرم او ضروری هدفونه روښانوی. (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات،۱۵۸ – ۱۷۰ مخونه)

**۲ – اساسنامه:** عبارت د یوه گوند یا سازمان په داخلی ژوند باندی د حاکمو موازینو او مقرراتو او قواعدو له ټولی یا مجموعی څخه ده چی د هغه گوند ترکیب او جوړښت د هغه د عمل څرنگوالی او د هغه د کار او فعالیت ترتیب د مربوط گوند او یا سازمان له برنامی سره تاکی، نو ځکه د گوند په اساسنامه کښی د گوند سازمانی مقررات او د اصولو مجموعه درجیږی. همدا راز په اساسنامه کی د گوندی سازمانونو د پراتیک عملی وسیلی د هغه د ارگانونو د تشکیل څرنگوالی او د هغی مشرتوب، کنگری، حوزی او جلسی تشریح کیږی. په اساسنامه کی د مارکسیستی لنینستی گوند د نړی لید او د هغه تشکیلاتی اصولو له دغی نړی لید څخه ناشی تعریف شوی دی، برسیره پردی د گوند په اساسنامه کی په گوند کی د غړیتوب شرطونه د گوند د غړو وظیفی او حقوق د دموکراتیک مرکزیت په اصل گوندی جوړښت په حوزو او ارگانونو او کمیتو پوری مربوط مقررات او د گوند رابطی توضیح شوی دی. ( سیاسی او اجتماعی اصطلاحات ۱۶۰ – ۱۶۱ مخونه)

**۳ – گوندی کنگری :** د گوند خورا لوړ ارگان ته کنگره وایی او هغه یوه غونډه ده چی د گوند غړی او ایالتی سازمانونه ئی معمولاْ د غړو د شمیر په تناسب انتخابوی، د کنگری په جلسو کښی: **اولاْ:** د گوند برنامه او د گوند اساسنامه تصویبیږی او د لزوم په صورت کی یعنی د پیښو د تحول او د نړی او هیواد له اوضاع او د گوند له داخلی وضعی د گوند د اساسی اسنادو د تطبیق د ضرړرت په وخت کی په برنامه او اساسنامه کی لازم نوی نظر کیږی.**ثانیاْ:** د گوند د رهبری گزارشونه اوریدل کیږی، نماینده گان د گوند فعالیتونه ارزیابی او بررسی کوی یی او تر راتلونکی کنگری پوری راتلونکی په اساسی سیاسی مسئلو که د گوند کړنلاره او د عمل نقشه ناکی.

**ثالثاْ:** د گوند د رهبری ارگانونه د مرکزی کمیتی غړی او د هغوی مشاوران او د تفتیش کمیسیون غړی تأکل کیږی.د گوند په ژوند کی د کنگری خاص اهمیت د هغی له وظیفو څخه په ښه توگه څرگندیږی. (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات، ۱۶۱ مخ).

**۴ – مرکزی کمیته:** یو دایمی او منتخب ارگان دی چی د دوو کنگرو په منځ کی خورا عالی گوندی مقام دی او سیاسی فعالیت او د گوند سازمانی چاری اداره کوی او د کنگری په مقابل کی مسئول او ځواب ویونکی ده. ( سیاسی او اجتماعی اصطلاحات، ۱۶۱ – ۱۶۲ مخونه)

**۵ – د مرکزی کمیتی پلینوم:** یعنی هغه جلسه چی په هغی کی د مرکزی کمیتی اصلی غړی او مشاوران گډون کوی، په دغو جلسو کی حیاتی مسئلی او حاد سیاسی وظیفی په ټاکلی زمانی تناوب او د کنگرو د تصمیمونو په رڼا کی تر بحث لاندی نیول کیږی، په ځینو موادو کی کادرونه او نور گوندی مسئولین دغه ډول جلسو ته د گډون لپاره بلل کیږی او په دغه صورت کی هغه ته د مرکزی کمیتی وسیع پلینوم وایی. د پولینوم لغت یعنی د یوه سازمان په توگه د یوه ارگان یا انتخاب شوی کمیتی عمومی غونډه مثلاً: د ولایتی کمیتی پلینوم او یا د ښار د کمیتی او نورو پلینوم د زمانی تناوب په علنی شرایطو کښی دغه جلسی د اساسنامی په توگه تاکلی کیږی او لازم الاجرا دی. (سیاسی اجتماعی اصطلاحات، ۱۶۲ مخ).

**۶ – کنفرانس:** د یوه سازمان سیاسی، اجتماعی، علمی، هنری او نورو مسائلو په باب غونډه ده چې: د یوې یا د څو مسئلو په باره کې د بحث لپاره تشکیلیږي او یا د مختلفو هیوادونو د دولتونو یا ګوندونو د نماینده ګانو غونډه ده، د ګوند د داخلي ژوند په مورد کې د ولایت، شهرستان او ښار ګوندی کنفرانس په مربوطه منطقه کې د ګوند د غړو له نماینده ګانو څخه دی او په هغه منطقه کې خورا لوړ سازمانی ارګان دی. کنفرانس: ګوندی کمیتې انتخابوی او د مربوط سازمان د راتلونکې فعالیت لپاره لازم قراردادونه او تصمیمونه نیسی. او همدا راز د لوړو کنفرانسونو او یا ګوندی کنګری لپاره د ولایتی کنفرانس لپاره نماینده ګان ټاکی، د کنفرانسونو زمانی فاصله په اساسنامه کې تاکله کیږی، په داسی موقع کې کیږی چې خاصی او مهمی مسئلی منځ ته راشی د ټول هیواد ګندی کنفرانس تشکیلیږی. ښکاره ده: کله چې د پټ کار په شرایطو کې او یا کله چې پولیس او د قانون ماتونکی حکومت ماموران له ګوند څخه د ښکاره او آزاد فعالیت امکان سلبوی، د اساسنامی موازین او قواعد او د هغو له ډلی څخه د رهبری دغه سازمانی شکلونه (دموکراتیک سنترلیزم) د اصل په اجرا کې مهم رول لری، نشی رعایت کیدای او ښایی چې د ګوند د فعالیت او سازمانی کار لپاره مشخص او خاص کشلونه پیدا کړای شی، تر څو چې د ګوند صفونه د دښمن له لاس بریدو څخه وساتل شی او ضمناً د مرامی هدفونو د پلاس راوړلو لپاره اساسی فعالیتونو ته ادامه ورکړه شی، په عین حال کې نه باید دغه خاص شکلونه د کارګری طبقې د ګوند له سازمانی عمده اصولو څخه منحرف شی.

**۷ - انتقاد او انتقاد له خپله ځانه:** انتقاد او انتقاد له خبله ځانه د ګوند په فعالیت کې په اشتباهاتو او نیمګړتیاوو باندی د پوهیدو او د هغو له منځه وړلو او د هغو له تکرار څخه د مخنیوی اساسی اسلوب دی. له هغه څخه هدف د ګوند د وحدت تعمیق او د تګلاری (مشی) او سیاست مداومه تصحیح ده. ددغه روش ( دزیانونو، عیبونو او د هغو د ریښو ښودل او دهغه د له منځه وړلو لار) په وسیله هغه خنډونه چې د ګوند د پرمختګ او تکامل په لار کې موجود دی له منځه وړل کیږی. انتقاد او انتقاد له خپله ځانه د ګوند د سیاست او روش په تاکلو کې د ګوند غړیتوب د برخی اخیستلو او د هغوی د ابتکار او ثمربخش تأمین لپاره سمه وسیله ده، دغه اصل ته احترام او د هغه دقیق اجرا کول د سازمانونو د ژوندی والي دلیل او ګټه ئی د دغو سازمانونو تقویه او کلکوالی دی. د تجربیاتو د تعمیم له نظره د مشخصو واقعیاتو او نویو شرایطو په رڼا کی د مارکسیزم – لیننیزم د غنی کولو له نظره هم همدغه اصل ته احترام، خاص اهمیت لری ځکه چې د رایو د تبادلی او عقایدو له مبارزی او آزادانه انتقاد داسی پرمختګ امکان نه لری. د دغه اصل اجرا کول د دی مخه نیسی چې اشتباهات او زیانونه ادامه پیدا کړی، تول شیان بی زیانه و بریښی د زیاتی خوشبینی غولونکی عینکی په سترګو شی او د هر څومره لوړو موفقیتونو د پلاس راړلو لپاره د روښانه مبارزی هوښیاری پر ځای له موقعیت څخه ناشی مستی ودریږی. په سوسیالستی ټولنو کی انتقاد او انتقاد له خپله ځانه د اجتماعی تکامل محرکه قوه ده او له دی کبله حیاتی او مهم رول لوبوی.

**۸ – رهبری:** ګوند په کلی ډول له رهبری، مرکزی زړی یا کادرونو او ساده ګوندی غړو څخه مرکب دی. په ګوند کی رهبری جمعی او مسئولیتونه فردی دی. جمعی رهبری (مشرتوب) یو د ګوند د داخلی ژوند له خورا مهمو اصولو د ګوندی دموکراسی د ساتلو له شرایطو او د سوبژکتویزم (ذهنی ګری) او ولونتاریزم (شخصی تمایل او د ارادی د تحمیل او عمل اساسی ګرځول او په واقعیت باندی له سترګو پټولو) څخه د پرهیز له محملو څخه دی. د ګوند جمعی رهبری. د ګوند جمعی رهبری د شخصیت پرستی کیش چې ګوند ته زیانونه رسوی په مقابل کی هوښیار وی او په عملی اساس د رهبری اجرا کول رسوی.

**په لنډ ډول ګوندی رهبری باید:** **اول:** په هر مورد کی لازم فاکتونه (حقایق) را غونډ او مطالعه کړی. دوهم: هغه د مارکسیزم – لیننیزم پر اساس تحلیل او تجزیه کړی. **دریم:** له دغه تحلیل او تجزیی څخه شعارونه او د عمل لارښونی را وباسی. **څلورم:** دغه شعارونه او لارښونی اجرا کړی. **پنځم:** د نوموړو شعارونو په اجرا باندی نظارت وکړی. **شپږم:** اشتباهات اصلاح کړی. **اووم:** کار د کار اهل ته وسپاری. **اتم:** هر چاته د هغه د استعداد او توان په اندازه کار ورکړی. (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات، ۱۶۵ – ۱۶۶ مخونه)

**۹ – کادر:** کادرونه یا د ګوند فعالین د ګوند مرکزی زړی تشکیلوی چې د ګوند د سازمان اداره کونکی دی او باید له خورا فعالو او خورا باخبرو ګوندی افرادو څخه د انتخاب یا انتصاب پر اساس و تاکل شی. کادر یعنی دغی اصطلاح په فارسی ژبه کی د اداری کادر، فنی کادر، ګوندی کادر او نورو عباراتو کی د استعمال زیات موارد پیدا کړی دی. کادر یعنی متخصص او وارد کارمند له تاکلی مهارت او تجربی څخه چې په مختلفو اداری، سیاسی، نظامی او نورو څانګو کښی همیشه فعالیت کوی. کادرونه د ګوندی سازمان یا دولتی دستګاه یا سندیکا او نورو کارمندانو اساسی ډله تشکیلوی. سیاسی کادر د ګوند د فعالیت او دهغه د سیاست د اجرا او برنامی د تحقق لپاره خاص اهمیت لری. کمونستی ګوندونه د خپلو کادرونو تربیی او روزنی ته خاصه پاملرنه کوی، د فعالینو د تکامل لپاره د شرایطو د برابرولو روش او د ځوانو کادرونو د کار ګډوالی له پخوانیو او یا تجربه کارو کادرونو سره د هغوی د مسئولیت احساس او ابتکار او خلاق کار تقویه او د سیاسی محک « د تاکلی وظیفی لپاره لیاقت» په نظر کی نیول د مسئولینو په غوره کولو کی په یوه کمونست ګوند کی د کادرونو د سیاست له اساسی مسائلو څخه عبارت ده. د دغه سیاست اصول معمولاً په ګوندی اساسنامو کی قیدیږیؤ ښکاره ده چې: د مشخصی دوستی په اساس همسایګی، همشهریګری، فردی علایق، خپلوی او نورو په اساس د کادرونو غوره کول او د مسئولینو انتخاب د ارتجاعی نظامونو او فرمایشی ضد خلقی ګوندونو خصوصیت دی او نه باید په نوی طرز ګوند کی ځای ولری.

۲۴ – زمونږ واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک (اصلاً او ماهیتاً مارکسیستی – لیننستی مرکزی او سراسری انقلابی سازمان په عمده توګه سره له دریو برخو څخه مرکب دی: ۱ – مرکزی کمیته. ۲ – کادرونه. ۳ – صفوف.

۱ – مرکزی کمیته: په کلی ډول سره له دوو برخو څخه مرکبه ده: الف: د مرکزی کمیتی اصلی غړی. ب: د مرکزی کمیتی علی البدل غړی. الف: د مرکزی کمیتی اصلی غړی له پنځو برخو څخه مرکب دی:
اول: د مرکزی کمیتی عمومی منشی، دوهم: د مرکزی کمیتی د عمومی منشی مرستیالان، دریم: د مرکزی کمیتی سیاسی بیرو (دفتر) چی له دوو برخو څخه مرکبه ده. الف: د سیاسی بیرو اصلی غړی، ب: د سیاسی بیرو علی البدل غړی. څلورم: د مرکزی کمیتی د دارالانشأ (د لیکنی هیئت)، پنځم: د مرکزی کمیتی کمیسیونونه چی له څلور برخو څخه مرکب دی: اول: د مرکزی کمیتی تشکیلاتی (اداری) کمیسیون، دوهم : د مرکزی کمیتی مالی کمیسیون، دریم :د مرکزی کمیتی د تفتیش او پلټنی کمیسیون، څلورم : د مرکزی کمیتی تبلیغی کمیسیون او داسی نور .....
۲ – کادرونه : کادرونه له دریو برخو څخه مرکب دی: لومړی درجه کادرونه، دوهمه درجه کادرونه او دریمه درجه کادرونه.
۳ – صفوف: صفوف له دوو برخو څخه مرکب دی: اول – اصلی غړی، دوهم – آزمایشی غړی. د آزمایشی غړیتوب دوره دری میاشتی یا شپږ میاشتی او یا یو کال ده. یعنی له دریو میاشتو څخه مخکی څوک اصلی غړی کیدای نشی او دا هم وایو چی: که چیری یو څوک تر یوه کال پوری د سازمان اصلی غړیتوب حاصل نه کړی نو تر دی زیات تر آزمایش لاندی نه راځی نو زمونږ د سازمان غړی کیدای نشی.
۲۵ – مارکسیزم – لینینیزم: د کارل مارکس، فریدریک انگلس، ولاد میر ایلیچ لنین او آی یوسف ویساری اونویچ استالین د انقلابی زده کړو او ښونو له مجموعی او د هغوی د فلسفی، اقتصادی، اجتماعی او سیاسی زده کړو او نظریاتو له بشپړ سیستم څخه عبارت دی. مارکسیزم – لنینیزم په کل کی له دوو برخو څخه مرکب دی : ۱ – انقلابی سازماندهی، ۲ – انقلابی تیوری.
۱ – انقلابی سازماندهی: د کمونستی او کارگری گوندونو له اساسنامو څخه عبارت ده چی په هغو کی د گوندونو تشکیلاتی ساختمانونه (جوړښتونه) او د گوندی غړو حقوق او وظایف درج شوی دی. او انقلابی سازماندهی دوه شکلونه لری: علنی شکل او مخفی شکل.
۲ – انقلابی تیوری: له دوو برخو څخه مرکبه ده: الف: عمومی علمی انقلابی تیوری. ب: انطباقی انقلابی تیوری.
الف: عمومی علمی انقلابی تیوری له دریو برخو څخه مرکبه ده: ۱ – مارکسیستی – لنینستی فلسفه، ۲ – مارکسیستی سیاسی اقتصاد (کاپیټال)، ۳ – علمی کمونیزم.
ب : انطباقی انقلابی تیوری: په خپلو خاصو ټولنیزو شرایط کی د عمومی علمی انقلابی تیوری له تطبیقولو څخه عبارت ده.
۱ – مارکسیستی – لنینستی فلسفه (دیالکتیکی او تاریخی ماتریالیزم): کارل مارکس او فریدریک انگلس فلسفه له دوو آلمانی علماؤو چی یو هیگل او بل فویرباخ نومیده اخیستی ده، چی هیگل په دیالکتیکی قوانینو پوهیده خو آیدیالیست وه او فویرباخ ماتریالیست وه خو په دیالکتیکی قوانینو نه پوهیده. دوی دیالکتیک له هیگل څخه او ماتریالیزم ئی له فیورباخ څخه واخیسته، د هیگل او فویرباخ نیمگړتیاوی ئی تکمیل کړی او دیالکتیکی ماتریالیزم یی ور څخه جوړ کړ او همدا رنگه د دیالکتیکی ماتریالیزم طبیعی خاصیت ئی په ټولنیز اجتماعی ژوند کی هم وښود او ډیالکتیکی او تاریخی ماتریالیزم ور څخه جوړ کړ، فلهذا: مارکسیستی – لنینستی فلسفه هغه پوهه ده چی:**اول:** د طبیعت د ټر ټولو کلی قوانین تر څیرنی لاندی نیسی. **دوهم:** د مادی تکامل دیالکتیکی قوانین تر څیرنی لاندی نیسی. **دریم:** د جهان د پیژندنی لاری را ښیي، **څلورم:** د جهان د انقلابی بدلونونو لاری چاری راښیي، **پنځم:** په ټولنیز اجتماعی ژوندانه کی د نوموړو ډیالکتیکی ماتریالستی موادو تطبیق را ښیي.
**۲۶ – د ځینو فلسفی اصطلاحاتو تعریفونه:** ۱ – واقعیت: هر هغه څه چی د انسان له ذهن څخه د باندی واقع وی، واقعیت باله کیږی. یعنی د انسان ذهن نشی کولای چی هغه بود او یا نابود او یا هغه هست او یا نیست کړی ۲ – حقیقت: د یوه شی په باب مطابق د هم هغه شی معلوماتو درلودلو ته حقیقت وایی. ۳ – کمیت: هر هغه څه چی د یوه شی مقدار او اندازه ښیي کمیت باله کیږی. ۴ – کیفیت: د هغو خواصو مجموع ته وایی چی یو شی له بل شی څخه جلا کوی. ۵ – مقوله: هغه مفاهیم دی چی د طبیعت شاوخواوی څیری، ۶ – ماده: د عینی واقعیت د تعیین لپاره یوه فلسفی مقوله ده چی انسان د خپلو خواصو له لاری ور باندی خبریږی او په دوه دوله ده: الف: میدانی یا ساحوی، ب: جوهری یا کتلوی. او د مادی شکلونه پنځه دی: ۱ – جامد، ۲ – مایع، ۳ – گاز، ۴- پلازما، ۵ – نیوترونی. او د مادی دحرمت شکلونه هم پنځه دی الف: ساده میکانیکی حرکت، ب : فزیکی حرکت، ج : کیمیاوی حرکت، د : بیولوژیکی حرکت، هـ : اجتماعی حرکت.
۷ – شعور: د یوی ډیری پیچلی مغلقی او تکامل یافته مادی، یعنی د انسان د مغزو د دونیمو کرو د خارجی قشر محصول او د هغه داسی خاصیت دی چی مادی جهان نه یوازی معکوسولای بلکی هغه ته تغیر هم ورکولای شی. ۸ – عقل: د زده کړی استعداد ته عقل وایی. ۹ – فکر: له هغه مادی شی څخه عبارت دی چی د انسان په مغزو کی په مادی صورت سره اوړی ۱۰ - ماتریالیزم: په لغت کی له مادی او د هغی د قوانینو له پیژندگلوی څخه اخیستل شوی دی او په اصطلاح کی هغه فلسفه ده چی ماده تر شعور مقدمه بولی. ۱۱ – آیدیالیزم: په لغت کی له خیال، مفکوری او له آیدیا څخه اخستل شوی دی او په اصطلاح کی هغه فلسفه وه چی شعور تر ماده مقدم بولی او ماده د شعور زیږندنه بولی. ۱۲ – مذهب: مذهب په خپله آیدیالیزم نه ده او دا هم واضح ده چی له آیدیالیزم سره نه شلیدونکی پیوند لری او هغه تعبدی دینی، تعبیری او تفسیری تگلاره ده چی پیروان ئی پری عمل کوی.
**۲۷ – ۱- پرولتاریا:** پرولتاریا هغه مزد اخیستونکی کارگری طبقی ته وایی چی د تولید د وسیلو شته مند نه دی او مجبور دی د خپل کار قوت د تولید د وسایلو په خاوند یعنی سرمایه دارانو باندی خرڅ کړی. صنعتی پرولتاریا ته مطلق

پرولتاریا ویل کیږی، بناءً پردی د دغی اصطلاح خاص او دقیق مفهوم په سرمایه داری ټولنو پوری تړلی دی، که څه هم په ځینو اصطلاحاتو کی پرولتاریا ټول د کارگری طبقی په معنی استعمالیږی، اصولاً دغه اصطلاح د لرغونی روم په ټولنه کی په فقیرانو او زیارایستونکو اطلاق شوی ده، پرولتاریا چی د زیارایستونکو له نورو قشرونو سره یو ځای د مادی نعمتونو مؤلدین دی، د تولید په جریان کی برسیره د خپل قوت د ارزښت په تولیدولو اجتماعی ارزښت هم تولید وی چی د کار فرمایانو له خوا د سود په شکل تصاحب کیږی.

**۲ــ لومپن پرولتاریا:** دا اصطلاح چی په اجتماعی او سیاسی بحثونو کی زیاته لیدله کیږی له لغوی نظره یعنی هغه پرولتاریا چی شکلیدلی زاړه کالی اغوندی مگر د هغه دقیق مفهوم یعنی هغه سرگردان او ځان بایللی قشرونه چی په سرمایه داری ټولنه کی غالباً په سترو ښارونو کی اوسیږی په تباهی اخته شوی او طبقاتی تړون ئی بایللی دی له ژوند عادی جریان څخه لیری پاتی شوی دی، بی له کوم خاص شغل او حرفی، نه بی له کوم گټه ور کارونه او زیاتره په سختو او بدو شرایطو کی او سیږی او احتمالاً هر کار ته که هر څومره ناوړه او ضد انسانی هم وی تن ورکوی. غله، حرفوی چاقوکشان، اوباشان، بد گشته خلک، فاحش او جنایتکاران او داسی نور له همدی جملی څخه دی. که څه هم د لومپن پرولتاریا د قشر زیات کسان پخوا د کارگرانو یا کوچنی بورژوازی افرادو او د سرمایه داری رژیم د شرایطو په اثر بد بخت شوی دی خو سره له دی حاله هم هغوی خپل طبقاتی پیوندونه بیا په تیره له پرولتاریا سره له لاسه ورکوی. هغوی آیدیولوژیک علایق او له زیارایستونکو سره پیوستون نه لری. له دی راز عناصرو څخه سرمایه داری ارتجاع اغلباً د خپلو ضدملی او ضد دموکراتیکو مقصدونو لپاره کوی. بورژوازی د دوی له منځه یوه فاشیستی ضربتی ډله استخداموی د اعتصابونه په وخت له هغوی نه د اعتصاب ماتونکو په حیث کار اخلی. هغه قاتلان او تروریستان چی د پیسو لپاره حاضر دی هر سیاسی، اجتماعی او مترقی سړی مړ کړی، د دوی له منځه انتخابیږی. <u>لنډه دا چی:</u> لومپن پرولتاریا سره له دی چی په سختو شرایطو کی ژوند کوی خو د خپلو طبقاتو د خصوصیاتو د بایللو له کبله حاضر دی هر کار ته لاس واچوی او دا وضع د سرمایه داری او ارتجاع د استفادی وړ گرزی، سرمایه داری دوران له خپلی مزمنی بیکاری سره او د کوچنی بورژوازی د بیلو بیلو قشرونو د ورشکستولو، بی کوره کولو او نشتمنولو لپاره په وسیله د لومپن پرولتاریا د هستولو سر چینه ده، شاید دا تصور وشی چی هر بیکاره او درمانده فرد لومپن پرولتر دی، داسی نه ده بلکی لومپن پرولتاریا هغو افرادو ته ویل کیږی چی خپله طبقه یې بایللی وی او په خپله فساد ته را ښکودلی شوی او له هر راز طبقاتی پیوستون څخه خلاص شوی وی.

**۳ ــ کارگری ارسطوکراسی (اشرافیت):** د دی لپاره چی بورژوازی په کارگری جنبش کی نفوذ پیدا کړی د کارگرانو طبقه په خپله د کارگرانو په واسطه سره ټکوی، نو بورژوازی هڅه کوی چی له کارگرانو څخه یو تعداد تطمیع او شتمن کړی هغوی ته د نورو په نسبت زیات مزد او اداری مقامات ورکوی او د سود یوه برخه د رشوت په ډول یو شمیر کارگرانو ته ورکوی چی دا ډول کارگرانو ته کارگری ارسطوکراتان وایي. <u>لنین کارگری ارسطوکراسی داسی تعریفوله چی:</u> (دوی د کارگری طبقی یوه برخه یا گروپ دی چی په عینی توگه د بورژوازی له خوا رشوت ورکړ شوی دی « د ښه مزد په واسطه یا د احترام موقعیت» تر څو له بورژوازی سره د کمزورو خلکو په لوټولو او په هغوی باندی د ظلم کولو په لاره کی د سرمایه دارانو د غنیمتونو د ویش په جنگ کښی مرسته وکړی.

## ۲۸ ــ د پرولتاریا دیکتاتوری او د هغی اشکال:

د پرولتاریا دیکتاتوری د کارگری طبقی هغه دولتی قدرت دی چی د سرمایه داری نظام د انحلال او د بورژوازی د دولتی ماشین د ماتیدو په نتیجه کی منځ ته راځی. د پرولتاریا دیکتاتوری د سوسیالستی انقلاب اساسی محتوی او د هغه د سرته رسولو اساسی شرط او د هغه د بریالیتوب اساسی نتیجه ده.

**د پرولتاریا د دیکتاتوری اشکال:** ۱. په تاریخی لحاظ د پرولتاریا د دیکتاتوری <u>لومړی بڼه د پاریس کمون</u> (۱۸۷۱) وه چی مارکسیزم ئی په ډیرو ارزښت لرونکی تجربو مجهز کړ، دغه « د آسمانونو په لور لومړنی یرغل» مارکس ته دا امکان ورکړ چی د راتلونکو ټولنو د دولتی بنی په باره کی لازم استنتاج ورکړی. <u>مارکس داسی لیکلی چی:</u>(طبقاتی مبارزه حتماً د پرولتاریا په دیکتاتوری ختمیږی .... د انتقال د دوری دولت .... د پرولتاریا له انقلابی دیکتاتوری څخه پرته بل شی نه دی».

۲ ــ د پرولتاریا د دیکتاتوری بله بڼه شوراگانی دی چی لنین هغه د روسیی د (۱۹۰۵ ــ ۱۹۱۷م) انقلابونو په نتیجه کی کشف کړ، <u>لنین ویلی دی چی:</u> د پرولتاریا د دیکتاتوری مسئله د مارکسیزم عمده مسئله ده ، ده د بورژوازی دموکراسی په مقابل کی چی د استثمارگر اقلیت د گټو بیانونکی ده د پرولتاریا دیکتاتوری وړاندی کړه، دغه دیکتاتوری په طبقاتی ټولنه کی یوه عالی او نوی ډول دموکراسی ده. د خلکو د قاطع اکثریت د گټو مظهر ده او د ټولنی او دولت په اداره کی د خلکو د پراخ گډون وسایل چمتو کوی، <u>لینین د شوراگانو په باره کی لیکلی:</u> « دا له هری بورژوازی جمهوری څخه په کراتو دموکراتیکه ده، دا هغه حکومت دی چی وَرونه یې د ټولو مخ ته پرانستی دی خپل ټول فعالیتونه د پرگنو په مخ کی سرته رسوی د پرگنو له حال سره مناسب دی او له پرگنو څخه ریښه اخلی».

۳ ــ د پرولتاریا د دیکتاتوری <u>نوی بڼه خلقي دموکراسي</u> ده چی د نړی له دوهمی عمومی جګړی څخه وروسته منځ ته راغله، تول خلک کولای شی چی د خپل سوسیالستی انقلاب په وسیله د خلکو د پرګنو لپاره د سوسیالستی دموکراسی نوی بڼه هسته کړی او تاریخی تجربه بیا هم پراخه او غنی کاندی، په هر حال دا تجربه ښی چی د طبقاتی تضادو په شرایطو کی پرولتاریا یوازی د خپل دولتی قوت په تکیه کولای شی د نوی نظام بنسټ کیږدی)

**۲۹ ــ په افغانستان کی د کمونست ګوند اساسی وظیفه کومه ده؟** په افغانستان کی هم د کمونست ګوند اساسی وظیفه ده چی د پرولتاریا د دیکتاتوری د استقرار لپاره په ټینګه سره مبارزه وکړی او د کمونست ګوند د مرام اساسی او عمده ټکی هم د پرولتاریا د دیکتاتوری په خاطر مبارزه ده، که چیری یو ګوند د پرولتاریا د دیکتاتوری لپاره مبارزه خپله اساسی وظیفه ونه ګڼی هغه کمونست ګوند نه دی، له نورو دموکراتیکو ګوندونو څخه د کمونست ګوند یوه د بیلتون مهمه کرښه هم د پرولتاریا دیکتاتوری ده نوری دموکراتیکی ډلی هیڅکله د پرولتاریا د دیکتاتوری مبارزه خپله اساسی وظیفه نه ګڼی یوازی کمونست ګوند دی چی دغه اساسی وظیفه سرته رسوی او بس.

<u>د جهان د مشهور رویژیونستانو څخه یو هم</u> مرتد کاؤتسکی دی چی د پرولتاریا د دیکتاتوری پر ضد ئی مبارزه کړیده لکه چی دی په خپل رساله کی لیکلی: « د دیکتاتوری تحت الفظی معنی د یوه واحد تن قدرت چی په هیڅ قانون پوری تړلی نه دی هم ده. متأسفانه مارکس غفلت وکړ چی په دیر تفصیل سره د دیکتاتوری په باب خپل تصور توضیح کړی ». په مارکسیستی ادبیاتو کی د دیکتاتوری مفهوم د یوه تن دیکتاتوری نه ده بلکی د یوی طبقی دیکتاتوری ده». شهید ملګری داکتر عبدالکریم زرغون، مسترېل ۶۷ ــ ۶۸ مخونه.

**۳۰ ــ د یوه کمونستی او کارګری ګوند ټولو صفوفو او غړو ته څه باید ور وپوهول شی؟** دا باید ووایو چی، د کارګری ګوند په جلب و جذب کی، شخصی کلیوالی، قومی او نژادی مسایل رول لری لاکن د ګوند په داخلی ژوند کی همیشه باید ګوندی روابط په هر ډول نورو روابطو باندی مافوق وګڼل شی او ټولو صفوفو او د ګوند غړو ته ور و پوهول شی چی په ګوندی چارو کی له هر څه نه زیات د ګوند داخلی ژوند او مرام په نظر کی ونیسی او په جدی توګه تربیه واخلی. په رښتیا سره هم د کارګری ګوند غړی یواځی باید د یو شخص او یا څوکسو لپاره مبارزه ونه کړی بلکی د ټولنی د اکثریت محرومو خلکو لپاره هر ډول قربانی ورکړی، همدا زنګه د ګوند رهبری او نور غړی پدی لحاظ یو بل ته محترم دی چی ځانونه یې د ګوند لپاره او ګوند یې د خلکو د خدمت لپاره استخدام کړیدی او که چیری دا سرحد موجود نشی او د کارګری ګوند غړی دا صفات ونه لری هغه ګوند یو کارګری ګوند نه دی لاکن متأسفانه د ګوند ځینی غړی چی نوی جذب شوی وی او یایې مارکسیستی آیدیولوژی ښه نه وی هضم کړی نو د غیر ګوندی روابطو تر تأثیر لاندی راځی او کارګری ګوند ته ضرر رسوی» شهید ملګری داکتر عبدالکریم زرغون مسترېل ۱۰۹ ــ ۱۱۰ مخونه.

**۳۱ ــ استراتیژیک او تاکتیک:** د استراتیژیک او تاکتیک لغتونه له سیاسی او حزبی بحثونو پرته په نظامی، دپلوماتیکو او اقتصادی چارو کی استعمالیږی، مثلاً: په نظامی چاروکی لومړنی لغت د لری فاصلی ښودونکی نقشی او هدفونه په یوه جګړه کی د بری لپاره د پراخو او قاطع عملیاتو مجموعی ته وایی او دوهم لغت د نږدی هدفونو سمدستی اقداماتو په یوه مشخصه جګړه کی د بری لپاره محلی عملیاتو ته ویل کیږی. مګر په دی بحث کی زمونږ مقصد د سوسیالیزم او کمونیزم د بری په منظور د اجتماعی او ملی خلاصون د آزادی لپاره په جګړه کی د کارګری طبقی د انقلابی حزب ستراتیژی او تاکتیک دی، په دی معنی ستراتیژی او تاکتیک د پرولتاریا د ټولو زیارکشو د طبقاتی مبارزی د لارښودنی له علم څخه عبارت دی.

<u>**ستراتیژی:**</u> د پرولتاریا د طبقاتی مبارزی د اصلی لوری د ټاکلو څخه، د انقلاب په یوه ټاکلی مرحله کی د پرولتاریا تر لارښونی لاندی د سیاسی لښکر د تر کیب او مشخصاتو له تعیین څخه ، د انقلاب د اصلی او فرعی قوتونو له مستقیمو او غیر مستقیمو ذخیرو څخه د استفادی لپاره د ضروری نقشو له تدوین څخه، او د پرولتاریا په شاوخوا کی د انقلابی قوتونو د وحدت او د دی قوتونو د عملیاتو او اقداماتو د لارښونی لپاره د مبارزی د نقش له تدوین څخه عبارت ده. د یوه حزب ستراتیژی د آزادی بخښونکی مبارزی د یوی ټاکلی مرحلی د ټولی مودی لپاره اساسی او عملاً بی له تغیره پاتی کیږی. <u>ستراتیژیک شعارونه:</u> یعنی هغه شعارونه دی چی په یوه ستراتیژیکه ټاکلی مرحله کی د حزب غوښتنی بیانوی. تاکتیک څه شی دی؟

**تاکتیک:** د ستراتیژی یوه برخه ، یو جز او د انقلاب د یو ټاکلی مرحلی د استراتیژیکو وظایفو پوره تابع دی. تاکتیک د یوی ستراتیژیکی مرحلی په دننه کی یو لنډ دوران په ترڅ کی نیسی، نږدی، مشخص او محدود هدفونه نظر کی نیسی، په مشخصو شرایطو کی په مشخصو اشکالو پوری اړه لری، هدف یې په دی یا هغی جګړه کښی د یوه سنګر لاسته راوړل، په دی یا هغه زمینه کی پرمختګ، د دوی یا هغه عمل او مشخص اقدام په بری سره اجرا کول، له دی یا هغی موضوع څخه د دښمن پر شا بیول دی او دغه ټول د ستراتیژی اصولی هدف په نظرکی نیولو سره دغه هدف ته د خدمت کولو په خاطر او هغه ته د رسیدلو د پاره دی. البته سیاسی اجتماعی او اقتصادی وضع تل په تغیر او تکامل کی ده او ډیر کله دغه تغیر او بدلون په چټکتیا هم پیښیږی او په نهضت کی مد او جزر را پیدا کیږی، د تاکتیکی متودونه او تګلیارو د اشکالو بدلون او تغیر حتمی دی، نه یوازی حتمی دی بلکی د حزب له خوا د بری د ګټلو لپاره باید دغه تغیر راشی . حزب باید په سمه توګه د تاکتیکی مبارزی په اشکالو او اسلوبو کی تر ټولو ښه او مناسب اسلوب وټاکی تل باید له موجوده بدلیدونکو شرایطو سره مطابق په دیر مهارت سره د تاکتیکی اسلوبونو د بدلون لپاره آماده وی. مرحلی، اسلوبونه، سازمانی شکلونه، د مبارزی صورتونه او تاکتیکی شعارونه، هغو شعارونو ته وایي چی د مشخصو تاکتیکی غوښتنو لپاره په لنډه مرحله کی ټاکل کیږی.

**ستراتیژیک او تاکتیک:** (د پرولتاریا د مبارزی د لارښونی پوهه) یو شمیر اصول او قواعد لری د دی پوهی اساسی تفکر د مارکسیزم بنسټ کیښودونکو (مارکس او انګلس) بیان کوی، لنین په دی زمینه کی د جهان کارګری انقلابی نهضت د تجربی په تعمیمولو سره د طبقاتی جګړی د لارښونی د پوهنی بنسټ کیښود. ستراتیژی او تاکتیک په وروستی نیمه پیړی کی د کارګری طبقی او تولو زیارایستونکو د مبارزو د زیاتو تجربو په نتیجه کی چی د اجتماعی او ملی آزادی د سوسیالیزم او د کمونیزم لپاره د نړی د کمونست ګوندونو په واسطه او د دغو تجربو د تعمیمولو له لاری لاس ته راغلی دی تکامل موندلی او مومی ئی. د انقلابی حزب د ستراتیژی او تاکتیک اساسی قواعد د تجربی او انقلابی مبارزی په اساس لاس ته راغلی دی، ستراتیژیکی او تاکتیکی سمو نتیجو ته د رسیدلو شرط د نهضت د عینی او ذهنی شرایطو له دقیقی محاسبی څخه عبارت دی، همدا رنګه د نړی او خپل هیواد د مشخصی تاریخی وضعی تحلیل او له کین او ښی رویژیونیزم څخه ځان ژغورل، یوه سلسله ستراتیژیک او تاکتیکی اصول او قواعد چی له تجربی سره سم لاس ته راغلی دی او تعمیم شوی دی او سموالی ئی په عمل کی ثابت شوی دی چی باید د مبارزی جریان او لارښوونه کی مراعات شی، په لاندی دول دی:

۱ – د هغو ټولو قوتونو متحد کول کوم چی په یوه ټاکنی لحظه کی د دښمن پرضد متحد کیدلای شی او ځوچی کیدلی شی د دښمن یوازی کول. ۲ – له ټولو مساعدو عواملو څخه استفاده، ۳ – د انقلاب له دایمی او موقتو ذخیرو څخه سمه استفاده، ۴ – د دښمن د تر ټولو ظعیفی نقطی ټاکل، ۵ – د ضربی د لوری ټاکنه، ۶ – د دوستو قوتونو تشخیص، ۷ – په یوه عمل باندی د لاس پوری کولو لپاره د ډیری سمی لحظی انتخابول، ۸ – د مبارزی په جریان کی د کار د اصل او اساسی کړی پیدا کول، ۹ – د ماموریتونو لپاره د منسبو افرادو ټاکنه، ۱۰ – د چارو او مشکلاتو ویش او د هری برخی جلاجلا حل، ۱۱ – د هدف په طرح کی جسارت او د هغه خوا ته په احتیاط آمیزه دقت سره تګ، ۱۲ – د مبارزی د مختلفو صورتونو ګډول، ۱۳ – د سازمانی مناسبو اشکالو ټاکل او داسی نور.

## ۳۲ – ریویژیونیزم:

د رویژیونیزم اصطلاح نوی نظر غوښتنه (تجدید نظر طلبی) ژباړه شوی ده او دا په کارګری تهضت کی هغه جریان ته ویل کیږی چی د مارکسیزم په اساسی اصولو کی بی له هیڅ ډول عینی محمل څخه نوی نظر کوی هعه تعریفوی او د مارکسیستی تعلیماتو اساس او انقلابی مشی (تګلاره) له مینځه وړی، په بل عبارت: رویژیونیزم یعنی د مارکسیزم – لنینیزم په یوه لړ احکامو او اصولو کښی نوی نظر کول بی له دی نه چی د دغه نوی نظر لپاره عینی ضروری شرایط موجود وی.

رویژیونیزم چی د پرولتاریا د نړی لید د اصولو نفی کول دی، کارګره طبقه مستقیماً له خپلی تیوریکی وسلی څخه محروموی او په نتیجه کی سرمایه داری نظام ته خدمت کوی. استثمارګران که هر څومره د خارج له خوا په کمونستی ګوندونو باندی ګذارونه وکړی بیا هم دومره ضرر نه شی ورته رسولای لکه چی د داخل له خوا ئی ورته رسوی. مشهور متل دی چی: (قلعه د داخل له خوا ښه فتح کیږی) همدا رنګه غله له کور څخه هغه وخت په آسانی سره غلا کولای شی چی په کور کښی کمکوزی ولری او غلو ته لار ور وښیی. که چیری داسی شرایط د غلو لپاره مساعد نشی نو غله په آسانی سره څه شی نشی پټولای، لکه چی وایی: (نابلده غل د بوسو بوسخانه سوری کوی)، له دی کبله استثمارګر قوتونه جدی هڅه کوی چی کمونستی ګوندونه له داخل څخه تخریب کړی په لاندینیو اشکالو سره:

کوم وخت چی د بشری ټولنی په تاریخ کی کارګری جنبشونه منځ ته راځی او د مارکسیزم تیوری د کارګری جنبشونو لپاره د بورژوازی پر ضد یواځینی تیوریکه وسله ګرځی نو بورژوازی او د دوی نمایندګانو هم همیشه هڅه کړیده چی د پرولتاریاؤ د دی تیری توری تیره څوکه چی د بورژوازی ګیډی ته متوجه ده له ځان څخه کږه کړی او په دی ترتیب سره وکولای شی د څه مودی لپاره کارګری جنبشونه له کندی او سستی سره مخامخ کړی او په زیارایستونکو باندی د خپل اقتصادی او سیاسی تسلط موده اوږده کړی نو د دی آرزو د سرته رسولو لپاره خپلو نمایندګانو ته وظیفه ورکړی چی له کمونستی ګوندونو سره په داخل کی د مارکسیزم په لباس کی د مارکسیزم پر ضد مبارزه وکړی، خصوصاً د بورژوازی هلوځلو هغه وخت جدی شکل غوره کړ چی له مارکسیزم سره یي په مستقیم جنګ کی ماتی و خوړه او مارکسیزم په پوره ډول سره په بورژوازی آیدیولوژی باندی غالب شو. لکه چی ستر لینین وایی چی: « د تاریخی ډیالکتیک درس داسی وه چی د مارکسیزم تیوریکی بریالیتوب د هغی دښمنان مجبور کړل چی مارکسیستانو ته د ورته ځیرو په ډول خپلو ځیرو ته تغیر ورکړی » ( لنین د رویژیونیزم په مقابل کی، ۱۴۲ مخه، انګلیسی چاپ مسکو).

کوم وخت چی بورژوازی او خورده بورژوازی عناصر کمونستی ګوندونو ته ننوځی نو یو مهم کار چی د ګوند په داخل کی سرته رسوی هغه دا دی چی ګوند له ډوړ ډوړ دښمنانو سره مخامخ کړی د کین یا ښی رویژیونیزم خواته ئی کش کړی او خپله آیدیولوژی د ګوند په داخل کی نشر کړی.

رویژیونیزم: له انګلیسی کلیمی څخه اخستل شوی دی چی د هغی معنی (نوی نظر یا اصلاح کول) دی، په دوهم انترناسیونال کی د انګلس له مرګ څخه وروسته د بورژوازی نفوذ زیات شو، د هغه رهبری د داسی کسانو په لاس ورغله چی د بورژوازی ګټی ئی ساتلی نو دوی په مارکسیزم باندی حملی شروع کړی او ویل به ئی چی باید په مارکسیزم باندی نوی نظر وشی او اصلاح شی. دوی په مارکسیزم باندی د انتقاد آزادی تر شعار لاندی کارونه شروع کړل نو له دی کبله په کارګری جنبش کی دغه کسان رویژیونستان وبلل شو او د دوی دغه له مارکسیزم څخه منحرف افکار چی له بورژوازی افکارو سره ارتباط لری د رویژیونیزم

په نوم یاد شول، رویژیونستان له مارکسیزم څخه انقلابی روح لری غورزوی او هغه څه له مارکسیزم څخه اخلی چې د بورژوازی په طبع برابر وی، رویژیونستان د پرولتاریا دیکتاتوری چې د مارکسیزم مضمون جوړوی نه منی.
رویژیونیزم په دوو برخو ویشل کیږی: ۱ – ښی رویژیونیزم. ۲ – کین رویژیونیزم.
**۱ – ښی رویژیونیزم:** اول: د سوسیالستی تکامل له عمومی قانونمندی څخه انکار کوی، د هیواد ملی او خصوصی شرایط مطلق گنی، د علمی کمونیزم د تیوری په مقابل کی ملی کمونیزم منځته را وباسی، رویژیونستان دا تبلیغ کوی چې د هر هیواد د سوسیالستی انقلاب په راتلو کی ملی خصوصیات عمده او ټاکونکی رول لری نو له دی کبله د هر هیواد سوسیالیزم د نورو هیوادونو څخه کاملاً فرق لری. دوهم: اوهمدا رنگه په اجتماعی تکامل کی کیفی تغیرات په نظر کی نه نیسی بلکی یوازی په کمی تغیراتو باندی تکیه لری نو له دی کبله دوی دا ادعا لری چې په تدریجی ډول سره له سرمایه داری ټولنی څخه سوسیالستی ټولنی ته تلای شو او انقلاب ته ضرورت نشته.
**۲ – کیڼ رویژیونیزم:** اول: د کین اړخ رویژیونستان په انقلاب کی د هر هیواد بیل بیل تاریخی شرایط په نظر کی نه نیسی دوی دا هڅه کوی چې انقلاب په هر ځای او هر حال کی له یوی ټاکلی نمونی سره منځ ته راولی چې همیشه د یوه وار لپاره په سوسیالستی انقلاب باندی تدوین شوی وی او هرچیرته باید د دوی تدوین شوی نسخی په مطابق منځ ته راشی. دوهم: همدا رنگه د کین اړخ رویژیونستان په اجتماعی تکامل کښی کمی تغیرات نه منی د قوتونو له جمع کولو او خلکو ته د سازمان له ورکولو څخه پرته انقلاب غواړی چې د دوی دغه عمل د ماجرا جویی او گډوډی سبب گرځی. که د مارکسیزم پر اساس قضاوت وشی نو دادی چې: اول: د مارکسیزم عمومی قوانین د هر هیواد په خاصو شرایطو کی په خلاقه توگه سره باید تطبیق شی، یعنی خاص او عام باید دواړه له نظره ونه غورزول شی. دوهم: همدا رنگه کمی تغیرات او د هغو بدلون پر کیفی تغیراتو باندی چې په مارکسیستی دیالکتیک کی د تکامل مهم قانون دی نو مارکسیستان همیشه په تکامل کی کمی او کیفی تغیرات دواړه په نظر کی نیسی. شهید داکتر عبدالکریم زرغون، مستربل ۲۶ – ۳۱ مخونه.

## ۳۳ – په لنډ ډول سره د کمونستی احزابو پر ضد بورژوازی او نور ارتجاعی قوتونو د مبارزو شکلونه:

په لاندی ډول سره دی: په دوو برخو ویشل شوی دی: اول: خارج لخ خوا، دوهم: د داخل له خوا.
اول د خارج له خوا په پنځه ډوله دی: ۱ – تبلیغ، ۲ – تطمیع، ۳ – تهدید، ۴ – د کمونستی گوندونو د تبلیغاتو مخنیوی، ۵ – د حاکمه طبقاتو له خوا د کمونستی گوندونو په لباس کی د دستوری او فرمایشی گوندونو جوړول.
۱ – تبلیغ بیا په دوه دول دی، الف: مذهبی احساسات ب : د وطن پرستی احساسات. دا باید ووایو چې د دښمنانو د تطمیع گانو او تهدیدونو په وړاندی تسلیم طلب عناصر لاندینی صفات لری: الف: په طبقاتی لحاظ له استثمارگرو طبقو سره نږدی والی. ب : د خلقی مبارزاتو په بریالیتوب ایمان نه لری او په عملی او نظری مسئلو کی له ځانه تردد او تزلزلی ښی. ج : په مارکسیستی او لینینستی آیدیولوژی مجهز نه وی سیاسی او طبقاتی شعوريي ښه وده نه وی کړی.
دوهم د داخل له خوا په اته ډوله دی: ۱ – په کمونستی گوندونو کی د بورژوازی او خورده بورژوازی آیدیولوژی نفوذ. ۲ – تحریکی عملیات سرته رسوی. ۳ – د کارگری گوندله ضد گروپونو سره وحدت غوښتل، ۴ – په هر ډول شرایطو کی د مبارزی د یوه شکل مطلقول. ۵ – د گوند په صفوفو کی د نا امیدی او مایوسیت تولیدول. ۶ – د حزب د ننه د دموکراسی تر شعار لاندی د دموکراتیک مرکزیت په ضد مبارزه کول، ۷ – د استثمارگرانو نمایندگان هڅه کوی چې د گوند رهبری اشغال کړی، ۸ – په خاصو شرایطو کی انشعاب راولی.
داهم وایو چې په کمونستی گوندونو کی د بورژوازی او خورده بورژوازی آیدیولوژی نفوذ د رویژیونیزم په چوکات کی تر سره کیږی او رویژیونیزم په دوه ډوله دی، ښی او کین رویژیونیزم او د رویژیونیزم د پیدایښت علتونه په لاندی ډول سره دی:
الف: د امپریالیزم ډول ډول تاکتیکونه، ب : د پرولتاریا وو په صف کی د خورده بورژوازی نفوذ، ج : کارگری ارسطوکراسی (اشرافیت). دا هم باید یاده کړو چې: د پرولتاریاوو په صف کی خورده بورژوازی د رویژیونیزم په چوکات کی لاندینی اعمال تر سره کوی: الف : په خلقی دموکراتیک جنبش کی د کارگری طبقی د رول نفی کول. ب : د پرولتاریا د دیکتاتوری نفی کول. ج : د غایی هدف لپاره مبارزه نه کول. دا هم باید له یاده ونه غورځوو چې: که چیری کارگری گوند سوسیالستی فعالیت په دموکراتیکه مرحله کی هیر کړی، یعنی د کارگری طبقی د نهایی هدف لپاره مبارزه ونه کړی او د ورځی د دموکراتیکو وظایفو د سرته رسولو سره یو ځای سوسیالستی وظایف اجرا نه کړی له لاندینیو عمده خطرونو سره مخامخ کیږی: الف : په دموکراتیک جبهه کښی د کارگری گوند منحلیدل، ب :له تودو څخه د کارگری گوند تجرید» شهید داکتر عبدالکریم زرغون، مستربل.

## ۳۴ – د ځینو سیاسی او اجتماعی اصطلاحاتو تعریفونه:

**۱ – ارتجاع :** په سیاسی مفهوم کی د دی لغت معنی له اجتماعی پرمختگ سره مخالفت او د ټولنی پر ضد د هغو طبقاتو او قشرونو له خوا مبارزه ده چې د ورکیدو او زوال په حال کی دی.
**۲ – تکامل:** په لغت کی له تکمیلولو او بشپړولو څخه اخیستل شوی دی او په اصطلاح کی د مارکسیستی دیالکتیک د قوانینو پر اساس له ساده څخه پیچلو او ټیټو څخه لوړو پوړو ته یو مارپیچی او کیفی بی پای جریان دی او هیڅکله او هیڅکله یو په شا نه تلونکی حرکت دی.

۳ – **ارسطوکراسی:** دغه اصطلاح د اشرافیت معنی لری او تل د ټولنی پر هغې ډلی او قشر باندی دلالت کوی چی د زیاتو امتیازاتو خاوندان دی، زیات دولت او قدرت لری او ستر مقامات په لاس کی وی او ډیر ځله د خپلو امتیازاتو د ساتنی لپاره په خپل اصل او نسب باندی هم ویاړیږی.

۴ – **استثمار:** داستثمار لغت د ثمر له ریښی څخه اخیستل شوی دی، په فارسی ژبه کی ورته (بهره کشی) وایی او په اقتصادی او اجتماعی بحثونو کښی د بل چا له کاره څخه ګټی اخیستلو ته وایی. د استثمار علمی معنی دا ده چی: د تولید وسایلو د خصوصی خاوند له خوا د یوه فرد د کار محصول په وړیاتوګه تر لاسه کول او په اقتصادی اصطلاح کی یعنی د اظافی کار او کله د لازم کار د یوی برخی د محصول اخیستل.

۵ – **مرتجع:** هغه چاته وایی چی هر هغه شی سره چی مترقی، نوی، وده کونکی او پرمخ تلونکی دی د دښمنی رویه لری او د ناوړه وراسته نظام یا افکارو د ساتنی او یا د ده بیا را ژوندی کولو هڅه کوی.

۶ – **استعمار:** په لغت کی له عمارت یا ودانی څخه اخیستل شوی دی او په اصطلاح کی د امپریالستی هیوادونو له سیاست څخه عبارت دی چی هدف ئی د نورو هیوادونو د خلکو مرئی کول او له هغو څخه ګټه اخیستل دی. استعمار په دوه ډوله دی: الف: زوړ استعمار، ب: نوی استعمار. الف: زوړ استعمار: په مستقیم دول او بشپړه توګه سره د نورو هیوادونو سیاسی، اقتصادی او نورو ټول واک په خپل لاس کی اخلی. ب : نوی استعمار: د آزادو شوو هیوادونو یعنی د هغو هیوادونو چی ملی آزادی تر لاسه کړی وی، د دولتونو او حکومتونو د بقا او دوام په خاطر له نوموړو دولتونو سره هر ډول مرستی کوی او په دی توګه سره په نوموړو هیوادونو کی خپل پانګی اچونی کوی او د هغوی زیارکښ ولسونه استعماروی.

۷ – **مستعمره:** یعنی هغه ملک چی سیاسی او اقتصادی خپلواکی نه لری او په ټولو چارو کی بشپړ د تصرف کونکی امپریالستی دولت تابع وی. دغه دولت او د هغه امپریالستی انحصارات له مستعمری څخه د اومو موادو، ارزانه کار، د مصنوعاتو د خرڅلاو د بازار د دیرو سودمنو پانګو اچولو او همدا رنګه د سیمی د نظامی او سوق الجهشی اډو په حیث استفاده کوی.

۸ – **امپریالستی مستعمراتی سیستم څه شی دی؟:** د مستعمراتو په اړخ کی نیمه مستعمره او تړلی هیوادونه هم وجود لری چی په مختلفو سیاسی او اقتصادی چارو کی په لږ یا دیره اندازه له امپریالستی هیوادونو سره تړلی او د هغو تابع وی. امپریالستی مستعمراتی سیستم یعنی د ټولو مستعمراتو، نیمه مستعمره او تړلو هیوادو مجموعه چی د امپریالستانو په واسطه استثمار کیږی او د هغو تر سلطی لاندی وی.

۹ – **مترو پول:** یعنی د مستعمری خاوند امپریالستی هیواد، د متروپول هیواد ستر انحصار په خپل مالی او صنعتی ستر قوت سره د مستعمراتو د لوړولو په حساب لویه ګټه تر لاسه کوی، ارزانه کار، د طبیعی منابعو د زیاتوالی او د اومو موادو د ارزانی له امله په مستعمره کی متروپول پانګه اچوونه حیرانونکی ګټی تر لاسه کوی. د مستعمرو سیمو د ملی شتمنیو او د هغه ځای د خلکو د ځرګند لوټ په نتیجه کی دغه هیوادونه د کروندو په حیثیت د متروپول لپاره د اومو موادو په تولیدونکو باندی بدلیږی.

۱۰ – **انارشیزم:** انارشیزم یا ګډوډی غوښتل یو داسی سیاسی جریان دی چی د کارګرانو او ټولو زیارایستونکو له ګټو سره مغایرت لری، له طبقاتی نظره خورده بورژوازی ریښی لری او له سیاسی نظره ارتجاعی دی، دا ځکه چی د ټولنی د تکامل په لوری نه دی، دا لغت د (انارخیا) له یونانی ګړی څخه مشتق شوی دی او د لاربنونی او حکومت د نشتوالی معنی لری، انارشیستان د دولت ضرورت او له هغی جملی څخه د پرولتاریایی دولت ضرورت په هر راز اجتماعی شرایطو کی او همدا راز د ګوند او د هغه د انظباط، سیاسی مشی او د مشی عملی پروګرام نفی کوی. انارشیزم د یوه سیاسی جریان په حیث ۱۰۰ – ۱۳۰ کاله پخوا په اروپا کی شته شو، اولکه ماکس شتیرنر، پرودون او باکونین غوندی نامتو مبلغان یی لرل.

۱۱ – **اندیویدوالیزم:** دا لغت د (اندیویدو) له ریښی څخه اخیستل شویدی چی په زیاتو اروپایی ژبو کی د فرد یا شخص په معنی دی، له همدی کبله اندیویدوالیزم په «فردی اصالت» ترجمه شوی دی. اندیویدوالیزم د کوچنی بورژوازی د آیدیولوژی او روحی له مختصاتو څخه دی او د هغو ټولو راز راز روحیاتو په نتیجه کی چی پر خصوصی مالکیت باندی مبتنی ټولنه کی روزول کیږی، ځان ښکاره کوی او د هغه مختصره معنی یعنی: پر ټولنو باندی د فرد لوړول دی، ګواکی فرد ته په اهمیت او اصالت قایلیدل نه ټولنی ته! د اندیویدوالستانو شعار دا دی چی: لمړی فرد بیا ټولنی (جمع)، د معصری پانګوالی راز راز فلسفی چی د فلسفی او ټولنی پیژندنی اساسی مسئله ئی د انسانی فرد د مختصاتو په څیرنه کی محصور کړیده او هغه انسانی فرد هم په مطلق شکل همیشه یو راز او بی بدلونه په تاریخ کی وینی، لکه: (اګزیستانسیالیزم، پراګماتیزم، او نور) ټول د فرد د اصالت پر فلسفی پایه باندی تکیه لری.

۱۲ – **الف: لومړی انترناسیونال:** د انترناسیونال لغات د بین المللی په معنی هغه وخت د نړی په کارګری تشکیلاتو باندی اطلاق شو چی د تیری پیړی له پایه تر نیمایی پوری د ټولنی د تکامل په مختلفو دورو کی منځته راغلل، د هغه د تشکیلاتو الهام ښونکی د مارکسیزم تیوری وو او اساس یی د نړی د مختلفو هیوادونو د کارګرانو او زیارایستونکو بین المللی پیوستون وه. د کارګرانو لومړنی بین المللی ټولنه چه وروسته په لومړی انترناسیونال مشهوره شوه په ۱۸۶۴ م کال د سپتمبر په ۲۸ نیټه د پرولتاریاوو د ستر ښونکی کارل مارکس په واسطه په لندن کی تأسیس شو.

**ب : دوهم انترناسیونال:** د سوسیالستی ګوندونو د بین المللی ټولنی په حیثیت په ۱۸۸۹ م کال کی د پاریس په کانګره کی تأسیس شوه، د انګلس له مرګ څخه وروسته د دوهم انترناسیونال واګی په تدریج د اپورچونستانو لاسته ورغی او هغوی د کارګری نهضت په داخل کی د بورژوازی افکارو او اسلوب د نفوذ باعث شول.

**ج – دریم یا کمونستی انترناسیونال:** دا انترناسیونال چې په کمینترن مشهور دی له ډیرو انقلابی ګوندونو څخه تشکیل شو او له ۱۹۱۹ م کال څخه ئی تر ۱۹۴۳ م کال پورې چې د کارګری نهضت په تاریخ کې یې د څرخیدو او تحول نقطه هست کړه خپل فعالیت ته دوام ورکړ، کمونستی انترناسیونال بین المللی انقلابی تنظیم او د عالمی کارګری نهضت د لارښونی مرکز وو، د هغه لومړنی کنګره د ۱۹۱۹ م کال د مارچ په میاشت کی د نړی د دیرشو هیوادونو د کمونستی ګوندونو او ډلو په ګډون تشکیل شوه.

**د: د انترناسیونال د لغت بل مفهوم:** د انترناسیونال لغت بل مفهوم هم لری، او هغه د کارګرانو او د نړی د ټولو کمونستانو د انقلابی سرود نوم دی، ددی سرود ویونکی «اوژن پوتیه» او د هغه آهنګ جوړونکی «پیردګیتر» دی.

**هـ: پرولتاری انترناسیونالیزم:** د کارګرانو او ټولو زیارایستونکو بین المللی پیوستون سیاست او آیدیولوژی ته پرولتاری انترناسیونالیرم وایی، له تاریخی نظره د پرولتاری انترناسیونالیزم فکر سل کاله پخوا د نړی د کارګرانو د سترو مشرانو کارل مارکس او فریدریک انګلس په واسطه منځ ته راغی، هغوی په خپل مشهور اثر (د کمونست د حزب مانیفست) کی ولیکل چې: (د نړی کارګرانو سره یو شی) .... د اکتوبر ستر سوسیالستی انقلاب له بری څخه وروسته په عمل کی همدغه نوموړی مشهور شعارو په دی شعار باندی چې (د ټولو هیوادونو زیارایستونکو او مظلومو ملتونو سره یو شی) بشپړ شو.

**۱۳ – ګوندی دموکراسی:** د ګوند اندرونی دموکراسی یعنی په کمونستی او کارګری ګوندونو کی د دموکراتیک مرکزیت د اصولو دقیق او پرلپسی اجرا کول دی.

**۱۴ – ګوندی انظباط:** یعنی د هغو موازینو دقیق او پرلپسی اجرا چې په حزبی اساسنامه کی ټاکل شوی وی او د هغو وظایفو سرته رسول دی چې د ګوند هر فرد او سازمان ته متوجه کیږی. ګوندی انظباط یعنی د ګوند د پروګرام اساسنامی او سیاست اجرأ د ګوند تصمیمونو په هکله د تحقق ورکولو کوشش او د هغه هدفونو او آرمانونو ته د رسیدو لپاره مبارزه.

**۱۵ – انکزیسیون:** دا لغت د عقایدو تفتیش هم تر جمه شویدی، دا یوراز مخصوصی محکمی وی چې د پاپ له امر سره سمی به د کاتولیک د کلیسا له خوا تشکیل کیدلی او هدف ئی د پاپ د ټولو مخالفانو مغلوبول او د ده دسیاسی او آیدیولوژیک قدرت ساتل وو، په دی محکمو کی به ئی هر آزاد فکره او ترقی غوښتونکی انسان د ملحد او بی دین په نوم محکوماوه، په زندان کی به یی اچاوه، شکنجه به یی ورکوله، واژه به یی او ژوندی به یی اورته اچاوه.

**۱۶ – آیدیولوژی:** آیدیولوژی د سیاسی، حقوقی، هنری، مذهبی او فلسفی نظریو او اندیښنو سیستم او د اخلاقو په باره کی نظر یی دی، آیدیولوژی د روبنا یوه برخه ده او طبقاتی خصلت لری او بنا پردی په وروستی تحلیل کښی د اقتصادی مناسباتو د ټولنی د زیربنا منعکسونکی ده.

**۱۷ – تیوری:** تیوری د اجتماعی تجربی او پراتیک تعمیم دی، تیوری د دغو یا هغو بشری زده کړو په زمینه کی د لارښونکو اندیښنو له مجموعی، په طبیعت یا ټولنه کی د تکامل د قوانینو د علمی توجیه او توضیح څخه عبارت ده، تیوری چې په خپله د پراتیک او عمل په بنست منځ ته راځی د ټولنی په ژوند کی د بشری نورو علمی پیژندګلویو په زمینه کی فعال رول لوبوی او انسانانو ته په خپله علمی فعالیتونو کی دقیق پسمنظر ورکوی او پراتیک پرمخ بیایی.

**۱۸ – بلانکیزم:** بلانکیزم په سوسیالستی نهضت کی د یوه جریان نوم دی چې په ۱۹ پیړی کی په فرانسه کی ښکاره شو او د مشهور انقلابی « اګست بلانکی» له نوم او فعالیت سره تړلی دی، هغه پدی باور درلود چې سرمایه داری استثمار کیدای شی چې په یوه توطیه او د مصممو او فداکارو او انقلابیونو د یوی کوچنی ډلی په توګه بی د پرګنو له ګډون او ملاتړ څخه له منځه یووړل شی او په حکومت کی د هغی کوچنی ډلی له ځای په ځای کیدو څخه سوسیالیزم ته ور رسیږی. اوس د بلانکیزم عمومی مفهوم عبارت د توطیه ګری او د یوی کوچنی ډلی چې د افراطی افکارو او له هغو سره د مربوطه عمل نحوی او تیوری په پرګنو او د هغوی په متشکلی او اصلی مبارزی باندی د باور نه لرلو څخه دی. بلانکستان د قوتونو تناسب او د پرګنو رول او ټاکلی انقلابی وضعی او د بریالیتوب لپاره د لازمو شرایطو او مستمر او د زغم کار او اصولی سیاست ته کومه پاملرنه نه کوی. د کارګری طبقی او ګوند په رول او له پرګنو سره د رابطی پر اهمیت باندی باور نه لری.

**۱۹ – تولیدی مناسبات:** هغو مناسباتو ته ویل کیږی چې د ټولنی د افرادو تر منځ د تولید پر اساس برقرار وی.

**۲۰ – زیربنا:** زیربنا د مادی او تولیدی مناسباتو له مجموعی څخه چې د ټولنی اقتصادی ساختمان تشکیلوی عبارت ده او د تولیدی مناسباتو له مجموعی څخه مقصد: الف: دمالکیت له شکلونو، ب : د انسانانو په منځ کی له مناسباتو څخه چې له دغو اشکالو څخه منځ ته راځی، ج : او بالآخره د مادی نعمتونو د ویش له شکلونو څخه دی.

**۲۱ – روبنا:** روبنا د ټولنی له سیاسی، حقوقی، فلسفی، اخلاقی، هنری او مذهبی نظریو او د هغوی له مربوطو مؤسسو، وجدانونو او سازمانونو او اجتماعی خبرتیا له مربوطو شکلونو څخه عبارت ده، زیربنا د ټولنی تهداب او روبنا د ټولنی پاسنی جوړښت ته وایی.

**۲۲ – تحت الحمایه:** یو د استعمار له بڼو څخه ده، له لغوی نظره د یوه لوی او زورور دولت له خوا د یوه کوچنی او کمزوری دولت د حمایت او ملاتړ په معنی ده، په حقیقت کی امپریالستی دولتونه په زور د خپل لښکر په قوت په خپل اقتصادی قوت سره تحت الحمایګی په کوچنی هیواد تحمیلوی هغه تر خپلی سیطری لاندی نیسی او په عمل کی یی په مستعمره بدلوی.

**۲۳ – پاسیفیزم:** پاسیفیزم له لاتینی اصطلاح د سولی او آرامی په معنی مشتق شوی ده او د سولی او آرامی د ملاتړ په معنی استعمالیږی. پاسیفیزم یو لیبرال غوندی جریان دی چې نمایندګان یی د هر ډول جګړی پرضد دی او معتقد دی چې په تبلیغ او موعظی سره عمومی پخلاکیدل شته کیدای شی.

**۲۴ – جګړه:** جګړه یعنی د هیوادونو او یا طبقاتو په منځ کی مسلحانه مبارزه ده چی دسیاسی او اقتصادیه هدفونو د اجرأ لپاره صورت نیسی او په دوه دوله ده، الف: عادلانه جګړه، ب: غیر عادلانه جګړه.

الف: عادلانه جګړه: هغه جګړه ده چی د نورو ځمکو د نیولو او په نورو ملتونو باندی د تسلط په خاطر صورت نه نیسی بلکی آزادیبخښونکی جګړه ده یعنی دا جګړه د وطن د دفاع په خاطر، د استعمارګرانو او استیلاګرانو پرضد، د خارجی اشغالګرانو او تیری کوونکو پر ضد د استعماری مرئی توب یا ګتی اخیستونکو طبقاتو د جغ پر ضد جګړه ده.

ب: غیر عادلانه جګړه: د نورو خلکو او ملتونو د مریی کولو او د زیارایستونکو د ځپلو لپاره د پراختیا غوښتلو لپاره تیری کونکی جګړه ده.

**۲۵ – خلقی پارتیزانی جګړه:** د عادلانه جګړو له ډولو څخه یو خلقی پارتیزانی جګړه دی چی جګړه د دښمن جبهی تر شا د نیول شویو ځایونو په منځ کی د خلکو د نا منظمو مسلحو ټولګیو له جګړی څخه عبارت دی. داسی جګړه ده چی د مبارزی له مختلفو شکلونو څخه په استفاده کولو سره یی د خلکو پرګنی سرته رسوی، البته دغه ډول جګړه نوی نه ده:

- د اسپانیی د خلکو پارتیزانی جګړه د ناپلیون په وخت کی د فرانسوی نیونکو پرضد.
- ۱۶۰ کال پخوا د روسیی د خلکو جګړه د ناپلیون د حملی په وخت کی
- د ایتالیی د وطن پالونکو جګړه د کاربیلای په فرماندهی ۱۲۰ کاله پخوا.
- د آلمانی نیوونکو پر ضد د فرانسویانو جګړه ۹۰ کاله پخوا د پارتیزانی جګړو له نمونو څخه ګڼلی کیږی.

همدا راز د داخلی او جهانی دوهمی جګړی په وخت کی په شوروی اتحاد کی د وسله والو پارتیزانی ټولګیو او په همدغه دوهمه جهانی جګړه کی په فرانسه او ایتالیا او یوګوسلاویا او لهستان او بلغارستان او چکوسلواکیا او یونان او چین او کوریا او ویتنام او فلیپین او نور ځایونو کی د خلکو د وسله والو ټولګیو جګړی عبارت له پارتیزانی جګړو څخه دی.

**۲۶ – نړی لید (جهانبینی):** نړی لید د نړی په باره کی د نظریو مفاهیمو او تصوراتو سیستم دی، دغه اصطلاح په پراخ مفهوم سره د نړی په باره کی چی موږ یی احاطه کړی یو د انسان ټولی نظریی احتوا کوی، له فلسفی او اجتماعی او سیاسی نظریو او عقیدو څخه نیولی تر اخلاقی او هنری نظریو او په طبیعی علومو پوری مربوطو نظریو او نورو پوری او په دوه ډوله ده: الف: ماتریالستی نړی لید او ب: آیدیالستی نړی لید.

**۲۷ – دګماتیزم:** د دګم اصطلاح له جامد حکم، آسمانی آیت او له نه بدلیدونکی فرمان څخه مشتق ده او د تفکر په هغه شیوه او اسلوب باندی اطلاق کیږی چی بنسټ یی بی له علم او عمل په هغه اسلوب او تفکر باندی دلالت کوی چی د هغی مفهومونه تغیر نه منونکی، د کاڼو په شان فرمولونه او د ستورونه پیله دی چی د علومو او عمل نوی والی او د زمان او مکان تاکلیو شرایطو ته پام وکړی، د فلسفی له نقطی نظره دګماتیزم یو داسی اصل دی چی: حقیقت مشخص (ټاکلی) ګڼی، یعنی د حقیقت تړنه له زمانی او مکانی شرایطو سره نفی کوی، په معاصره فلسفه کی دګماتیزم په هغو اسلوبونو پوری تړلی دی کوم چی: د ډیالکتیک ضد دی او د جهان تکامل او د شیانو او پدیدو د لمر حرکت نفی کوی، د دګماتیزم له مهمو تکیو څخه یو دا دی چی: د ډیالکتیک د ودی قوانین په مختلفو تاریخی شرایطو کی په مختلفو شیانو او پروسی کی په مختلفو ډولونو سره څرګندیږی نه درک کوی. د تاریخ له نظره: د دګماتیزم پیدایښت د دیدونو په پیدایښت پوری تړلی دی چی په هغه کښی د حقیقتونو همیشه والی او انتقاد نه منونکی فرامین او هر چا لپاره جبری دی موجودیت لری، وروسته له دی مودی دی طرز تفکر فلسفی علم او سیاست ته سرایت وکړ. له سیاسی نقطی نظره: دګماتیزم په سکتاریستی عمل، کاڼی توب د خلاق مارکسیزم نفی، ذهنی ګری او د موجودو حقیقتونو او د تغیر خوړلیو شرایطو په نظر کی نه نیول.

**۲۸ – دماګوژی:** دماګوژی یی عوام فریبی یا دخلکو غولونه ترجمه کړیده او دماګوژی د خلکو له غولونی څخه عبارت ده چی دروغجنو وعدو او غولونکو شعارونو په واسطه صورت نیسی، دماګوګ هغه چاته ویل کیږی چی په دروغو ادعا کوی بی اساسه او بی پښتی وعدی ورکوی، کوشش کوی چی حقیقتونه تعریف (سرچپه) کړی، خلک په خپله د خپل ځان و خواته ټیله کاندی او د هغو ملاتړ د ځان لپاره جلب کړی.

**۲۹ – دولت:** د دی لپاره چی استثمارګر طبقات خپل بیرحمانه استثمار ته په ښه توګه دوام ورکړی نو دوی د استثمار شوو خلکو لپاره د وهلو او ټکولو یوی آلی ته ضرورت لری چی دغه وسیله له دولت څخه عبارت ده چی د طبقاتو له ظهور سره سم یی ځان را څرګند کړ، **لینین** لیکی چی: (دولت له هغه سیاسی ماشین څخه عبارت دی چی یوه طبقه یی د بلی د سرکوب لپاره پکار اچوی).

**۳۰ – رادیکالیزم:** د رادیکال لغوی معنی اساسی، بنیادی او ریښه یی ده، رادیکالیزم په عمومی مفهوم سره د هغه چا کړنلاره ده چی د قطعی اقداماتو غوښتونکی دی. د بورژوازی رادیکالیزم اصطلاح هم رواج لری او دا په هغه سیاسی جریان باندی اطلاق کیږی چی د خپل پروګرام په لومړی سر کی د سرمایه داری په چوکاټ کی جدی اصلاحات او دموکراتیکی غوښتنی طرح کوی او په حقیقت کی د کوچنی بورژوازی د قشرونو د ګټو بیانونکی دی.

**۳۱ – ریفورم:** د ریفورم کلیمه چی په دری او پښتو ژبو کی اصلاح یا (د جمعی په توګه اصلاحات) ترجمه شوی ده او هغه اقداماتو ته ویل کیږی چی د اقتصادی، اجتماعی او سیاسی ژوند د ځینو اړخونو د بدلون او تفویض لپاره اجرأ کیږی، خو پرته له دی چی د ټولنی بنسټ بدل کړی لکه: د ځمکی ریفورم، اداری ریفورم، تجارتی ریفورم، انتخاباتی ریفورم، ثقافتی ریفورم او داسی نور. ریفورم هغه بدلون دی چی د ټاکلی اجتماعی نظام له چوکاټ څخه تیری نه کوی او د سیاسی قدرتونو تناسب په اوسنی لحظه کی تر یوی اندازی پوری منعکسوی.

**۳۲ – سکتاریزم:** سکتاریزم یعنی له پرګنو څخه شلیدل او له خلکو څخه جلا په یوه ډله او یا یوه ټولی تبدیلیدل. دا لغت د (سکت) له کلیمې څخه اخستل شوی دی او د فرقې، ګروپ او له خلکو سره جلا د یوې کوچنې ډلې په مفهوم استعمالیږي. د سیاسی مفهوم په لحاظ په کارګری نهضت کښې د کین لاس د اپورتونیزم له ډولونو څخه یو ډول شمیرل کیږی او هغه سیاست دی چې کمونستی ګوند د زیارایستونکو له پراخو پرګنو څخه جلا کوی.

**۳۳ – سندیکا:** سندیکا د کارګری طبقی او نورو زیارایستونکو صنفی سازمان دی. سندیکاوی د خپلو ګټو د دفاع او اقتصادی شرایطو د ښه والی لپاره د کارګرانو د مبارزی په لړ کی منځته راغلی ده، لومړی سندیکا (تریدیونیون) د اتلسمی پیړی په پای کی په انګلستان کی منځ ته راغله.

**۳۴ – د خلکو د پرګنو او د شخصیت رول او د شخصیت نمانځه:** <u>۱ – د خلکو د پراخو پرګنو رول:</u> مارکسیز- لنینیزم عقیده لری چی تاریخ د خلکو د پرګنو د فعالیت محصول دی، د خلکو پرګنی د تاریخ واقعی هستوونکی او د اجتماعی ودی قاطع قدرتونه دی.... او د خلکو پرګنی هغه عمده قدرت دی کوم چی داجتماعی انقلابونو او سیاسی او آزادی بخښونکو نهضتونو سرنوشت ټاکی او بالآخره د خلکو پرګنی د ټولنی د ثقافت او علم او هنر په تکامل او وده کی ستر سهم لری او د ګورکی په قول (د ټولو سترو حماسو او د نړی د ټولو ویرنیو (تراژدیو) او د جهانی ثقافت د تاریخ هستونکی دی. <u>۲ – د شخصیت رول او د هغه نمانځه یا پرستش:</u> مارکسیزم – لنینیزم لکه څرنګه چی له شخصیت پرستی سره جوړ ندی، خو دشخصیت له رول څخه هم انکار نه کوی. مارکسیزم – لینینزم عقیده لری چی د فرد شخصیت په اجتماعی وده کی ستر رول لوبوی، یو ستر شخصیت کولای شی چی: <u>الف:</u> د تاریخ د ودی په جریان باندی ستره اغیزه وکړی خو په دی شرط چی د هغه فعالیت د ټولنی له عینی شرایطو او قوانینو سره مطابقت ولری، یعنی په خپله خوښه نشی کولای چی د تاریخ عینی جریان بدل کړی. <u>ب :</u> کولای شی چی لاربښونکی پرګنی متشکلی کړی. <u>ج :</u> د هغوی فعالیت زیاتوی، <u>د :</u> د هغوی په منځ کی مشخصی وظیفی ږدی. <u>هـ:</u> او د دی وظایفو د سرته رسولو لپاره هغوی تجهیزوی.

<u>ستر شخصیت هغه څوک دی چی: الف:</u> خپل ټول قدرت او فعالیت د ټولنی د پرمختګ لپاره په کار اچوی، <u>ب :</u> د مترقی طبقو په رسالت، د طبقاتی قواوو په تناسب او د شرایطو د بدلون په څرنګوالی باندی پوه وی، <u>ج :</u> په خلکو تکیه وکړی. <u>د :</u> او د مترقی او اجتماعی نظام د تسلط او برقراری لپاره هڅه وکړی. هغه شخصیت چی د تاریخ د ودی د عینی قوانینو په خلاف عمل کوی او د هغه فعالیت په ارتجاعی او د ټولنی د پرمختګ مانع او په ماتی به محکوموی.

<u>کیش شخصیت یا د شخصیت پرستش او د هغه نمانځه دا معنی لری چی:</u> الف: د ستر شخصیت په پټو سترګو تبعیت کول.

<u>ب :</u> د هغه په فوق العاده قدرت باندی عقیده درلودل یعنی: شخصیت تاریخ جوړوی، یا شخصیت انقلاب کوی یا شخصیت د تاریخ عینی جریان بدلولای شی. <u>ج :</u> او د شخصیت میل او اراده مطلقوی.

**۳۵ – ۱ : شؤونیزم، ۲ : کسموپولیتیزم، ۳ : هیواد پالنه: ۱ – شؤونیزم:** شؤونیزم هغه ارتجاعی سیاست دی چی هدف یی د نورو ملتونو د سلطی لاندی راوستل او مرئی کول او د ملی نفاق او د ښمنی اور لګول، خپل ملت لوړ او نور ملتونه خوار ګنل دی. شؤونیزم له هیوادپالنی څخه چی د احساساتو تر ټول شریف احساس دی سوء استفاده کوی، د خپل ملت ګټه او لوړوالی د نورو ملتونو په زیان تبلیغوی، بیل بیل ملیتونه یو له بل سره مخامخ کوی، ښمن تحریکوی د بیلو بیلو ملتونو د زیار ایستونکو ګډ هدفونه او ارمانونه بالکل نفی کوی او د ټولو ملتونو د دوستی او همکاری او ګډ پرمختګ پر ځای د بو ملت ګټه او لوړوالی د نورو ملتونو د ګډ ګټو پرضد ږدی، ارتجاع او استثمار له دغه سیاست څخه د ملتونو تر منځ د نفاق اچولو او د خپلو طبقاتی ګټه غوښتونکو او استیلا کوونکو مقصدونو د سرته رسولو لپاره استفاده کوی.

**۲ – کسموپولیتیزم:** د شوونیزم مخالف قطب د کسموپولیتیزم تیوری او سیاست دی چی هغه یی (جهان وطنی) ترجمه کړیده، دا تیوری د خپل هیواد او خلکو د ګټو ملی ثقافت او ملی نخښو او تاریخ په مقابل کی د کسموپولیتیزم بشپړه بی میلی تبلیغوی، داهم یوه ارتجاعی بورژوازی تیوری ده چی اصلاً د ملی شخصیت، ملی حاکمیت او د ملی سرلوړی او استقلال لپاره د مبارزی ضرورت نفی کوی، د دی نظریې طرفداران کله یو جهانی حکومت غواړی چی البته راساً په نورو خلکو او ملتونو او هیوادونو باندی د امپریالستانو د څرګند او ښکاره تسلط معنی لری.

**۳ – هیواد پالنه:** د شؤونیزم او کسموپولیتیزم پرضد مبارزه کښی هیواد پالنه زمونږ پرچم دی، په ټولو هیوادونو کی کمونستانو تل د خپلو قهرمانیو په توګه د هیواد پالنی الهام بخښونکی نمونی خپلو ټولنو ته وړاندی کړی دی، هیواد پالنه یعنی له هیواد او خلکو سره عشق او علاقه درلودل. لوشونکو طبقاتو تل ښودلی ده چی: د خپلو تنګ نظرانه طبقاتی ګټو په مقابل کی ملی ګټی په آسانی سره قربانوی په داسی حال کی چی د زیارایستونکو خلکو پرګنی تل د فداکاری او ایثار تر وروستی سرحده پوری د واقعی هیواد پالنی پرچمداران وو او دی، <u>هیواد پرستی یعنی:</u> الف: د هیواد سیاسی او اقتصادی استقلال لپاره د هر دول مریتوب او ګټی ایستلو پر ضد مبارزه. <u>ب :</u> یعنی د ملی سرلوړی او د هیواد د مادی او معنوی ارزښتونو د ودی او تکامل لپاره جګړه. <u>ج:</u> یعنی د مترقی ثقافت او سننو او د هغو خلکو د پرګنو د سعادت او ښیګنی لپاره مبارزه کوم چی په دی خاوره کی استوګنه لری.

**۳۶ – صیهونیزم:** دا د یهودو په بورژوازی پوری مربوط یو متعصب ناسیونالستی جریان دی چی د تیری پیړی په پای کی په اروپا کی منځ ته راغی او اوس د اسرائیلو د متجاوز کار دولت په رسمی آیدیولوژی بدل شوی دی، دا نوم د صیهون (د اورشلیم ښار ته نژدی یو ځای) څخه اخیستل شوی دی چی د یهودانو لپاره یی هم تقدس درلود په کال ۱۸۹۷ کی یو ټولی د جهانی صیهونیزم د سازمان په نوم منځ ته راغی چی خپل هدف یی فلسطین ته د نړی د ټولو یهودیانو لیږدول اعلان کړ.

۳۷ – **فاشیزم:** د دی اصطلاح علمی معنی هغه دیکتاتوری نظام دی چی په زور او ښکاره ترور باندی تکیه لری او د ټولو ارتجاعی او تیری کوونکو امپریالستی محافلو په وسیله منځ ته راځی، په تاریخی لحاظ فاشیزم لومړی په کال ۱۹۱۹م کی په ایتالیا کی منځ ته راغی او دری کاله وروسته یی وکړای شول چی پدی هیواد کی حکومت غصب کړی. د آلمان فاشیستی ګوند په ۱۹۲۰م کال کی منځ ته راغی او د ناسیونال سوسیالست عوام غلونکی نوم یی په خپل ځان کیښود، دغه ګوند په ۱۹۳۳م کی د آلمان او خارجی سترو انحصاراتو په مرسته حکومت لاسته راوړ او د هتلری خونړی دیکتاتوری یی تینګه کړه.

۳۸ – **فارمر:** یو انګلیسی لغت دی د فارم څښتن یا د کروندی د څښتن په معنی فارمر د هغی ځمکی خاوند یا اجاره دار ته وایی چی د سرمایه داری کالیو پر تولید مبتنی اقتصاد ولری کله کله فارمران د ساده کالیو د اقتصاد لرونکی وی.

۳۹ – **ثقافت:** ثقافت د بشری ټولنی د مادی او معنوی ارزښتونو هغه مجموعه ده چی د اجتماعی، تاریخی فعالیت په بهیر کی هست شویدی، ثقافت د دی ارزښتونو د شته کولو لپاره د انسانانو هستوونکی فعالیت او د هغوی د کسبولو او لیږدولوطریقه هم احتوا کوی. ثقافت دوه اړخونه لری چی یو بل سره تړلی دی: الف: مادی ثقافت: مادی ثقافت لاندینی مجموعی ته ویل کیږی: تولیدی وسایل تخنیک، د تولید تجربه او هغه ټول مادی ارزښتونه چی یوه ټولنه د تاریخی تکامل په هره مرحله کی له ځان سره لری. ب: معنوی ثقافت: د ټولنی د حاصلاتو مجموعه دعلم، هنر اخلاقو او فلسفی په ټولو برخو کی تشکیلوی.

۴۰ – **د کرهنی کارګر:** د کرهنی کارګر یا کرهنی پرولتاریا هغه مزد اخیستونکی کارګر دی چی په زراعتی سرمایه داری کښی کار کوی، زراعتی کارګران اکثراً کم ځمکی یا بی ځمکی بزګران دی چی کور ورانی شوی او د لاس مزد لپاره د زمیندار مزدوران شوی دی.

۴۱ – **عینی او ذهنی:** الف: عینی (ابژکتیف): عینی (ابژکتیف) یعنی هغه څه چی د انسان له شعور او خبرتیا او حواسو څخه د باندی او په مستقله توګه شته دی او یا په بل عبارت: هغه څه چی وجود یی د انسان له ذهن او شعور او پوهی سره تړلی نه دی. ب : ذهنی (سوبژکتیف): یعنی هغه څه چی په انسانی ذهن او شعور کی وجود لری او د ماتریالستی نظریی پر اساس د عینی نړی انعکاس دی.

۴۲ – **کولاک:** یعنی د کلی سرمایه دار، یعنی هغه مرفه او د کافی ځمکی خاوند بزګر چی خپل عایدات د زراعتی کارګرانو د استثمار له لاری بسیا کوی، کولاکان په کرهنه او مالداری کښی پر مستقیم کار برسیره د دی لپاره چی قاعده تاْ د کلی پیسه داران شمیرل کیږی په پټو جاری کارونو او سود خوری او اجاره داری ، د ځمکی په اجاره کی په واسطه کیدو، د مالونو او زراعتی سامانونو په اجاره ورکولو کی لاس وهی.

۴۳ – **لیبرالیزم:** د مفهوم له نظره کیدای شی چی په آزادمنشی معنی شی، دا اصطلاح د لیبر له لغت څخه د آزاد په معنی مشتق شویده، له سیاسی نظره دوه جلا مفاهیم لری، الف: په یوه سیاسی مفهوم کی لیبرالیزم په یوه سیاسی جریان باندی اطلاق شویدی، کله چی صنعتی سرمایه داری له فیوډالی ارسطوکراسی سره مبارزه کوله او د قدرت د اخیستو په لټه کی وو لیبرالیزم منځته راغی هلته مترقی ده. ب: په سیاسی مفهوم کی: لیبرالیزم د کارګری طبقی په حزب کی د ننه یو لاقیده او درویش مشربه رفتار ته وایی چی د طبقاتی دښمن په مقابل کی غوره کیږی، غیر اصولی آشتی طلبی چی د مارکسیزم لنینیزم د تفکر د اساس په ضرر وی د غلطیو په مقابل کی بی ځایه نرمی او د مشخصو علتونو لپاره د اصولو تر پښو لاندی کول لیبرالیزم دی، لیبرالیزم په دی مفهوم کی د اپورچونیزم او اندیویدوالیزم له تظاهراتو څخه شمیرل کیږی.

۴۴ – **ماک کارتیزم:** دا اصطلاح د امریکایی سناتور (جوز ماک کارتی) له نوم څخه مشتق شویدی، دا مرتجع امریکایی سناتور او د امپریالیزم د محافلو تر ټولو تور نماینده د ساړه جنګ په شدت کی د امریکا د دولتی تشکیلاتو د تحقیقاتو فرعی ریاست چی په ۱۹۵۱م کال باندی تأسیس شوی ؤو په غاړه درلود او د «ضد امریکایی فعالیت» تر عنوان لاندی به یی د مترقی افرادو او سازمانونو په تعقیب او ځپلو کی له ډیر وحشی او ځیر سلوک نه استفاده کوله، ماک کارتیزم مرادف دی له هغه ارعاب، سانتاژ، تهدید، ترور، د ناموس اتهام دوسیه جوړولو او ځپلو سره چی په مترقی افرادو او سازمانونو باندی تطبیق شی.

۴۵ – **الف. ملت:** ملت د انسانانو هغه پایدار اشتراک دی چی د تاریخی تکامل په اوږدو کی منځ ته راغلی او د ژبی، وطن او اقتصادی ژوند او نفسانی عواملو او یو لړ ملی خصوصیاتو او خلقیاتو د اشتراک پر اساس باندی چی په ملی ثقافت کی تجلی کوی ولاړ دی، دغه ټول مشترک وجوه چی ومو شمیرل یو له بل سره تړلی دی او داګرد سره په خپله مجموع کی د یوی ډلی ګډون پر ملت باندی تطبیق شی.

**ب. طایفه:** د داسی افرادو ګډون دی چی د وینو او اقتصاد پیوند سره لری. **ج – قبیله:** د څو طایفو له یو ځای کیدو څخه قبیله جوړیږی، دا په لومړنی اشتراکی ټولنه کی شته وو او د هغی پایه د تولید د وسایلو په اشتراکی مالکیت او له هغوی څخه پر مشترک استفادی باندی ولاړه وه. **د. قوم:** په غلامی او فیوډالی ټولنو کی د هغو وګړو یو بل راز اشتراک دی چی د وینو پیوندونه سره لری او د مشترکی ځمکی، ژبی او ثقافت خاوندان دی، مګر دا اشتراک لا تر بسیدونکی اندازی پوری پایدار ندی او د هیواد په مقیاس کی یی لا اقتصادی ګډون بشپړ ندی.

۴۶ – **ملی کول:** ملی کول یعنی دا چی: ځمکی، بانکونه، د حمل و نقل وسایل، کارخانی، مختلفی تولیدی تجارتی او انتفاعی موسسی او په کلی توګه د تولید وسایل له اشخاصو یا خصوصی شرکتونو له مالکیت څخه را وایستل شی او د دولت لاس ته ورشی یعنی په ټولو خلکو پوری تعلق ونیسی. بنا پر دی د ملی کولو مفهوم له هغو موسسو او وسیلو څخه د داخلی او خارجی افرادو او خصوصی شرکتونو او مالکیت لغوه کول او دولت ته د هغوی سپارل یعنی په ټولو خلکو پوری د هغوی متعلقول دی چی د استثماری سرمایه داری لپاره له هغوی څخه استفاده کیږی او داهم وایو چی: په سرمایه داری هیوادونو کی لا تر اوسه د

موسسو ملی کول په هغه معنی ندی دا موسسی په ټولو خلکو پوری تعلق لری ځکه چی موجوده دولت په خپله د ټولو خلکو مدافع او پیژندوی (معرف) نه دی، په سرمایه داری هیوادونو کی ملی کول د استثمار اساس له منځه څخه نه وړی او نوی تولیدی مناسبات نه هستوی.

۴۷ – **تولیدی قوتونه:** د کار وسایل، د کار موضوع او هغه علم او فن چی د هغوی په مرسته مادی نعمتونه تولیدیږی او انسانان چی دا ټول وسایل په کار اچوی او په تولید کی د خپلی تجربی او په کار کښی د خپل مهارت په مرسته د ژوند ټول نعمتونه تهیه کوی دا ګرد سره تولیدی قوتونو بلل کیږی.

۴۸ – **د تولید شیوه:** د تولید شیوه په هر تاریخی دوران کی د تولیدی قوتونو او تولیدی مناسباتو له مجموعی څخه عبارت ده.

۴۹ – **ناسیونالیزم:** دا اصطلاح د ناسیون له لغت څخه د ملت په معنی مشتق شوی دی، او د متعصب ملی او د نورو ټولو ملتونو د دښمن مفهوم لری او نباید چی له هیوادپالنی او د ملی حاکمیت د حق له دفاع سره ګډ شی، پدی مفهوم کی ناسیونالیزم د بورژوازی آیدیولوژی او سیاست له اصولو څخه یو اصل دی د هغه ښکارندوی د خپل ملت د ټولو خصایلو او خصوصیاتو لوړ بلل او د نور ملتونو مسخره کول، خوار او دښمن بلل دی. ناسیونالیزم په دوو شکلونو سره څرګندیږی، <u>الف:</u> د شوونیزم په شکل، <u>ب :</u> د محلی ناسیونالیزم په شکل.

۳۵ – **دموکراتیک سانتریالیزم:** په لغوی لحاظ دا اصطلاح له دوو کلیمو: سانترالیزم یعنی مرکزیت او دموکراتیک یعنی د دموکراسی له صفت څخه تشکیل شویده، او په دی وجه کله کله هغه دموکراتیک سانتریالیزم هم ترجمه کیږی، د دموکراتیک سانتریالیزم اصل لکه د ډله ایزی لارښوونی اصل، د نوی ډول ګوند د رهبری او فعالیت له مهمو تشکیلاتی اصولو څخه شمیرل کیږی، د دموکراتیک سانترلیزم اصل د ګوند د رهبری او غړیو تر منځ د مافوق او مادون د ارګانونو تر منځ د ګوند او د ګوند دغړیو تر منځ مناسبات په عمومی ټوګه منعکسوی، د هغه مفهوم په څو کلمو کی لندیدای شی. د ګوند ټول ارګانونه انتخابی دی ، رهبری ارګانونه د منظم راپور ورکولو وظیفه لری، دقیق حزبی انظباط، اکثریت ته د اقلیت متابعت او د لوړو مقاماتو د تصمیمونو سرته رسول. دموکراسی او مرکزیت د ګوند په داخلی ژوند کی د یو واحد اصل دوه اړخونه تشکیلوی او د هغه دقیق سرته رسول د مارکسیستی لینینستی ګوندونو د داخلی ژوند ضروری شرط بلل کیږی، په ځینو غیرپرولتاری ګوندونو کی هم پدی باب خبری کیږی خو په بورژوازی سازمانونو او په فرمایشی او دستوری ګوندونو کی دغه اصل عملاً او واقعاً نه اجرا کیږی نه کوم انظباط او مرکزیت پکار دی، نه د عقایدو او آزاد بیان او دموکراسی او نه لارښوونکو ارګانونو واقعی انتخاب.

یو کارګری ګوند، یو نوی ډول ګوند چی مارکسیستی – لینینستی نړی لید او د عمل روښانه او څرګند پروګرام ولری خپل فعالیت او د ګوند داخلی ژوند پرته له دغه بنسټ څخه نشی بنا کولای، د کارګری طبقی ګوند یو وده کونکی ارګانیزم دی او لکه هره بله پدیده د هغه وده په هغه کی دننه د اضدادو د مبارزه نتیجه ده او د ګوند فکر بی له تضاده او داخلی مبارزی څخه یو غیر دیالکتیکی او د واقعیت له نړی نه لری فکر دی، منتهی دغه د ګوند داخلی مبارزه او جنبش او جوشش باید په ټولو شرایطو کی په یو لړ اصولو باندی تکیه ولری چی د هغو له جملی څخه دموکراتیک سانترلیزم یو مهم اصل دی، په حقیقت کی د دی اصل دقیق او واقعی سرته رسول دی چی د ډله ایزی لارښوونی لپاره لازم شرایط را پیدا کوی او د ګوند د سیاست په طرح او تنظیم او د هغه د سرته رسولو په طریقه کی اتفاقی عناصر او یو اړخیز تحلیلونه له منځه وړی.

<u>د سانترلیزم معنی دا ده چی:</u> ۱ – ګوند یو واحد پروګرام (مرامنامه) او اساسنامه لری، ۲ – ګوند یو لوړ رهبری ارګان لری چی حزبی کنګره او د دوو کنګرو تر منځ په فاصله کی مرکزی کمیته هغه تشکیلوی، ۳ – ټول حزبی ارګانونه د مرکز تابع دی، ټیټ ارګانونه د لوړو ارګانونو او اقلیت د اکثریت متابعت کوی. ۴ – په ګوند کی باخبره او قوی انظباط تسلط لری چی د نوی ډول ګوند ټولو غړو ته له سر تر پایه یی له استثنأ څخه یو شی دی.

<u>د دموکراسی معنی دا ده چی:</u> ۱ – د ګوند ټول رهبری ارګانونه، سر ترپایه انتخابی دی. ۲ – هر رهبری ارګان موظف دی چی د هغه ارګان په مقابل کی ګذارش ورکړی چی هغه یی انتخاب کړیدی. ۳ – په حزبی ټولنو کی د حزبی مقرراتو پر اساس د سیاسی او تشکیلاتی مسایلو طرح او بحث د ګوند د غړو نه بیلیدونکی حق دی او حزبی ارګانونه وظیفه لری چی د حزبی پرګنو نظریاتو ته پاملرنه وکړی او د هغوی تجربی مطالعه کړی او له هغو څخه استفاده وکړی.

پدی ټوګه سانتریالیزم او دموکراسی د یوه مدال دوه مخونه دی چی یو پرته له بل څخه نشی کولای چی وجود ولری، دموکراسی بیله مرکزیته په لیبرالیزم، هرج او مرج او سازمانی بینظمی او د نظر او عمل د یووالی په اضمحلال تبدیلیږی او سانترلیزم بیله دموکراسی څخه فرماندهی فرمانونه او تحجر او له پرګنو څخه شلیدل منځته راوړی. <u>که د دموکراتیک سانترلیزم</u> په سمه ټوګه رعایت شی د ګوند کورنی دموکراسی له قوی او سالم سانتریالیزم سره مرسته کوی او همدا رنګه د ګوند کورنی سانتریالیزم دموکراسی ته لازم خدمتونه کوی، له پورتنیو مطالبو څخه دا څرګندیږی چی د ګوند په باندینی مبارزه کی د صحیح سیاست او ستراتیژی او تاکتیک ټاکلو لپاره د سانتریالیزم اصل نه یوازی په تشکیلاتی لحاظ بلکی په سیاسی موجب هم ډیر اهمیت لری.
څرګنده ده چی د اوضاع او شرایطو پر اساس دا امکان شته دی چی د دغه اصل له دواړو اړخونو څه یو اړخ تقویه شی، مثلاً: د مخفی او پټ کار په شرایطو کی کله چی دښمن له ټولو وسایلو او قواو سره د ګوند پر ضد را پورته شی او دهغه سازمانونو ته سخت ګوزارونه ورکوی.

۱ – حزبی دموکراسی ناچاره محدوده کیږی. ۲ – د کنگرو او کنفرانسونو تشکیل خپل نظم له لاسه ورکوی. ۳ – د رهبری ارگانونو د انتخاب پر ځای د افرادو انتصاب منځ ته راځی. ۴ – او له حزبی پرگنو سره مستقیم تماس او ارتباطات محدودیږی. خو په هرصورت دغه شرایط تیریدونکی دی او د نوی ډول گوند وظیفه دا ده چی: د گوند د بقا لپاره د صحیح او اصولی سیاست د ټاکلو په خاطر او د گوند د آرمانونو د بریالیتوب لپاره د دموکراتیک سانترلیزم زرین اصل اجرا کړی، دا اصل د کارگری طبقی د گوند د تشکیلاتی ژوند یو اساسی اصل دی او له نورو غیر پرولتاری او فرمایشی گوندونو او گروپونو سره د هغه د توپیر له ټولو نه مهمه علامه بلله کیږی.

**۳۶ – انقلاب:** د ټولنی په ژوند کی یو کیفی او بنیادی تحول یو ستر او اساسی څرخیدل دی او د ټولنی د پیژندنی په علم کی د انقلاب معنی دا ده چی یو زوړ او وروست اجتماعی نظام نسکور شی او یو نوی او مترقی اجتماعی نظام د هغه پر ځای کښینی. یو بل مطلب هم ښکاره کوو هغه دا چی: له هری طبقی نه بلی طبقی ته د دولت د قدرت ورتگ انقلاب ندی ځکه چی لکه چی مو وویل د انقلاب مفهوم د مترقی او پرمختلونکی طبقی له خوا د حکومت نیول ایجابوی په داسی توگه چی د ټولنی د تکامل لاره پرانیزی او که یوه پریوتی او ارتجاعی طبقه وکولای شی چی مترقی طبقه را وغورځوی او حکومت ته ورسیږی دا یو د انقلاب ضد عمل دی نه انقلاب! انقلاب د خلکو په زور او گډون سره سرته رسیږی او هیڅ راز مشترکه وجه له کودتا او (درباری انقلاب) او داسی نور اقداماتو سره چی په تاریخ کی یی زیاتی نمونی شته دی نلری، داسی اعمال یواځی د حکومتونو مشران او په حاکمو طبقاتو پوری مربوط اشخاص او ډلی بدلوی گواکی: یو ظاهری او برسیرأ بدلون راولی په داسی حال کی چی انقلاب یو بشپړ اجتماعی او اقتصادی نظام بدلوی او نوی او مترقی طبقه قدرت ته رسوی. د هر انقلاب د تحقق موندلو لپاره عینی شرایط (انقلاب وضع) او ذهنی شرایط یعنی (د انقلابی سازمان وجود) ضروری دی.

<u>الف: انقلابی وضع:</u> په دریو لاندینیو علایمو سره افاده کیږی: ۱ – د پاسنیو یعنی د حاکمی طبقی د سیاست بحران کومه چی د زړو میتودونو په وسیله خپل حاکمیت نه شی ساتلی. ۲ – د ستم گالونکو طبقو د خواری او نیستمنی تر حد زیات تندښت. ۳ – د پرگنو د عاملیت زیاتره لوړ اعتلا چی نه غواړی له اسارت او سیاسی محرومیت سره روغه وکړی.

<u>ب: د انقلاب ذهنی عوامل:</u> پر لاندینیو عناصرو مشتمل دی: ۱ – دپرگنو انقلابی پوهه او تر پایه پوری د مبارزی د پرمخ بیولو لپاره د هغو چمتووالی او مصممتوب. ۲ – د پرگنو او د هغو د مخکښ ټولگی سازمانی توب چی د ټولو هغو ځواکونو چی د انقلاب د بری لپاره د مبارزی کولو استعداد لری د پیوستون امکان میسر وی. ۳ – د داسی گوند له خوا د پرگنو رهبری کول چی د مبارزی د سمی ستراتیژی او تاکتیک د چمتو کولو توان ولری او هغه د ژوندانه په دگر کی پلی کړی. پوخوالی ته د ذهنی عامل رسیدل د هستی په ډگر کی د انقلاب وضعی د امکاناتو د پلی کولو اساسی شرط دی. انقلابی وضع له متشکل شوی او پوخوالی ته له رسیدلی ذهنی عامل سره په وحدت کی د انقلاب عمومی او ضروری مقدمات دی. <u>و . ای. لینین:</u> « عینی شرایط او ذهنی عامل وحدت د هر ټولنیز انقلاب د اساسی قانون په توگه جوت کړ » (د انقلابی څه دی له کتاب څخه ۲۶ . ۴۰ . ۴۱ مخونه). یو حقیقت دا هم دی چی د ټولنیزو انقلابونو لزوم د ټولنیز تکامل د عینی قوانینو په وسیله ټاکل کیږی. د اوسنی زمانی د انقلابونو بنسټونه په اصلی وضع کی په خپله د پانگوالی نړی داخلی، دقتصادی ټولنیز او سیاسی تضادونه دی.

<u>لینین ویلی دی چی:</u> « انقلابونه د فرمایش پر بنسټ باندی نه ترسره کیږی او له دی یا هغی شیبی سره نه مصادف کیږی بلکی اقلابونه د تاریخی تکامل په بهیر کی خپل نضج ته رسیږی او هغه وخت پیل کیږی چی د داخلی او بهرنیو علتونو د بشپړ کتار کمپلکس د هغو سبب شی ». لینین لاربښونه کوله چی « انقلابونه هغه وخت وده کوی ، کله چی په لسهاوو ملیونه وگړی دی استنتاج ته ورسیږی چی مخ په وړاندی په دغه شیوه ژوند کول ناشونی دی ». کټ مټ همدغه علت دی چی د «انقلاب کم دول صدرو» بس ناشونی او عبث چاره ده. نو د هر هیواد ولس حق لری چی چی د خپلی ټولنیزی او ملی آزادی مبارزه پرمخ بوزی.

انقلاب په کل کی په دوه دوله دی: <u>الف: برژوازی انقلاب، ب: سوسیالستی انقلاب.</u>

<u>الف: بورژوازی انقلاب:</u> د اجتماعی انقلاب یو ډول دی چی اساسأ د تولیدی قواوو او فیودالی او نیمه فیودالی اقتصادی او سیاسی سیستم تر منځ د تضاد په حل کولو پوری اړه لری. په استعماری او مستقلو هیوادو کی د امپریالیزم پر ضد او د فیودالی بقایاوو ضد انقلابونه په دی کتگوری (مقوله) کی شامل دی، د بورژوازی انقلاب تاریخی وظیفه دا ده چی: د سرمایه داری د انکشاف خنډونه له بیخه څخه لیری کړی، په حقیقت کی د دی انقلاب ځینی ډولونه د سرمایه داری ضد ټاکلی اقدامات له ځانه سره نقل کوی خو د دوی عمومی خصوصیت نه بدلیږی، نو دغه انقلابونه د بورژوازی ټولنی سالم او عمده اساسات له منځه څخه نه وړی یعنی: د تولید په وسایلو باندی خصوصی مالکیت موجود وی.

<u>بورژوازی انقلاب هم په دوه ډوله دی: ۱ – د بورژوازی د لوړ قشر انقلاب ، ۲ – بورژوا دموکراتیک انقلاب!</u>

<u>۱ – د بورژوازی د لوړ قشر انقلاب:</u> د بورژوازی لوړ قشر انقلاب د بورژوازی تر رهبری لاندی بی له دی څخه چی خلک په پراخه پیمانه گډون پکښی وکړی، د اجتماعی ژورو تغیراتو پرخوا رهبری کیږی، د مثال په ډول: په ۱۸۶۷ – ۱۸۶۸م کال په

جاپان کی، د ترکیې ځوان انقلاب او په آسیایي، افریقایي هیوادو کښې مختلف معاصر انقلابونه چې د ملي حاکمیت د لاسته راوستلو څخه یې وړاندې حرکت ونه کړ.

۲ – بورژوا دموکراتیک انقلاب: په دې انقلاب کې د پرولتاریا او بزګرانو فعال ګډون، له څمکنې انقلاب سره پیوستون، د بزګرې جنبش د ځمکې د روابطو د اساسي اختلافاتو په غرض د تودو عمل چې له بورژوازۍ څخه غوښتنې لاس ته راوړي.

**د بورژوا دموکراتیک انقلاب ډولونه: په لاندې ډوګه سره دی:**

اول: د فیودالیزم پر ضد د مبارزې په زمان کې بورژوا دموکراتیک انقلاب: دا بورژوا دموکراتیک انقلاب د بورژوازۍ تر رهبرۍ لاندې سرته ورسیده او د بورژوازۍ سیاسي او اقتصادي تسلط یې تأمین کړ. د مثال په ډول د فرانسې ستر بورژوا دموکراتیک انقلاب.

دوهم: د امپریالیزم د زوال په لومړۍ مرحله کې بورژوا دموکراتیک انقلاب: د پرولتاریاوو عمل د بزګرانو په اتحاد سره د دې ډول بورژوازۍ انقلاب رهبري وګرځیده چې د سرمایه داری ګړندي انکشاف لپاره یې زمینه صافه کړه او همدغه بورژوا دموکراتیک انقلاب، سوسیالستي انقلاب ته د تکامل شرایط پیدا کړ، لکه د روسیې د ۱۹۱۷ م کال د فبروری د میاشتې انقلاب.

دریم: د سرمایه داری د عمومي زوال په دوهمه مرحله کې بورژوا دموکراتیک انقلاب: لکه د خلقي دموکراسیو انقلابونه.

څلورم: د سرمایه داری د عمومي زوال په دریمه مرحله کې په مستعمراتو او مستقلو هیوادونو کښې د ملي دموکراتیکو انقلابونو په شان پیژندل شویدی.

ب : سوسیالستي انقلاب: له هغه انقلاب څخه عبارت دی چې د سرمایه داری نظام پر ضد صورت نیسي، د کمونیزم لومړۍ یعنې سوسیالستي مرحله منځته راولي او دا انقلاب د کمونیزم په دوهمه یعنې خاصې کمونستي بې طبقاتو مرحلې باندې تکامل مومي.

**د انقلاب ساحې** دری دی، یعنې هر انقلاب په دریو ساحو (سیاسي، اقتصادي او فرهنګي) ساحو کې ضرورت نیسي.

د انقلاب شکلونه دوه دي: الف: مسالمت آمیز شکل، ب: قهرآمیز شکل.

الف: مسالمت آمیز شکل: د انقلاب دغه شکل د پارلماني مبارزو له لارې په مسالمت آمیزه ډوګه سره یعنې له وهلو ټکلو، مرګ او ژوبلې او وینو له تویولو څخه پرته صورت نیسي.

ب: قهرآمیز شکل: د انقلاب دغه شکل د وسله والو قوتونو په واسطه د وسله والو قیامونو او پاڅونونو له لارې په قهرآمیزه ډوګه سره صورت نیسي یعنې: د انقلاب په دغه شکل کې وهل او ټکول او مرګ ژوبله کیږي او وینې پکې تویږي.

**خاطره:** هر هغه څوک چې د انقلاب مسالمت آمیز شکل مطلق کوي، ښې رویژیونستان دي. هر هغه څوک چې د انقلاب قهرآمیز شکل مطلق کوي، کیڼ ریویژیونستان دي او علمي کمونستان له خپلو شرایطو سره سم د انقلاب دواړه شکلونه یعنې هم مسالمت آمیز او هم قهرآمیز شکل په نظر کې نیسي او هیڅکله او هیڅکله د انقلاب یو شکل نه مطلق کوي، لکه څه ښه وایي:

(یو ډیر ستر انقلابي د جهان وائـــي چې تـل سوله او آرامي زمونـږ مسلک دی
که په سوله مو مرام تر سره نه شوه نو بیا وار د ټانک، جهاز، توپ او ټیک دی)

## ۳۷ – د ځینو سیاسي او اقتصادي اصطلاحاتو تعریفونه:

۱ – د کار موضع یا د کار محموله: له هغو شیانو څخه عبارت دی چې پر هغو باندې کار صورت نیسي، لکه ځمکه، فابریکې، معدنونه، ځنګلونه او داسې نور.

۲ – د کار وسایل: له هغو شیانو څخه عبارت دي چې د هغو په واسطه د کار په موضوع باندې کار اجرا کیږي، لکه لور، څټک، یوم، تبر او داسې نور.

۳ – د تولید وسایل: د کار وسایل او د کار موضوع چې د هغو په مرسته انسانان د ضرورت وړ مواد تولید وي، د تولید وسایل بلل کیږي.

۴ – د کار نیرو: د انسانانو د فزیکي او معنوي توان او قدرت یعنې د کارکولو له استعداد، مهارت او مسلکي تجربو څخه عبارت دی، په دې معنی چې د کار نیرو یوازې د کار کولو له مهارت او د کار د وسایلو له پکاروللو څخه عبارت دی.

## ۳۸ – زمونږ د واقعي زرغون صفته خلقي دموکراتیک (اصلاً او ماهیتاً مارکسستي – لنینستي مرکزي او سراسري انقلابي سازمان قسم نامه:

محترم سازماني لوړ مقام!

زه (            ) د افغانستان، پشتونستان، سیمې او نورې ټولې نړۍ پر کارګرانو، بزګرانو او نورو ټولو زیارایستونکو او تر ستم لاندې خلکو او د دوی په سره نشان (څټک، لور او توپک) او سره جنده باندې ایماناً او وجداناً، نظراً او عملاً درته قسم خورم چې: د زرغونې خلقي لارې (اصلاً او ماهیتاً مارکسیستي- لنینستي لارې) په چوکاټ کې به د خپل ژوندانه تر ورستیو سلګیو پورې د نوموړو انقلابي ځواکونو د مادي او معنوي ګټو په لاسته راوړلو اد هغو په ساتلو کې د خپل سر، مال، کورنۍ او نورو ټولو مادي او معنوي، شخصي او ځانګړو ګټو او ارزښتونو له قربانولو او ځارولو څخه ډډه ونه کړم او د نوموړو انقلابي ځواکونو د طبقاتي نه پخلاکیدونکو دښمنانو د هر ډول مادي او معنوي تهدیدونو او تطمیع ګانو په وړاندې به په نه سترېکیدونکې، نه ډاریدونکې، نه پخلاکیدونکې او نه تسلیمیدونکې توګه سره مبارزه وکړم او ستا او ستا له لارې د

نورو لوړو سازمانی مقامونو له سازمانی لارښونو او اوامرو څخه هیڅکله او هیڅکله سرغړونه ونه کړم او همدا رنګه مرګ به ومنم خو سازمانی اسرار او رازونه به وساتم او افشا به یې نه کړم.

ژوندی، هوسا او بریالی دی وی کارګران، بزګران
او نور زیارایستونکو او تر ستم لاندی خلک په خپلو
نیږدو او نهائی اهدافو باندی

۱۱ جدی ۱۳۷۹ هـ ش
۱ جنوری ۲۰۰۱ میلادی

**۳۹ – علنی کمونستان:** د بلشویک ګوند په تاریخ کی د علنی مارکسیستانو پر ضد داسی لیکل شوی دی چی «د علنی مارکسستانو پر ضد د لنین مبارزه» ډیر اهمیت درلود لکه څنګه چی تل په تاریخ کی پیښیږی، (دنیمی لاری ملګری) موقتاً خپل ځانونه معمولاً په یوه ستر اجتماعی جنبش پوری نښلوی هغه چی په اصطلاح علنی مارکسستان بلل کیدل هم له دغه ډول د نیمی لاری له ملګرو څخه وو. مارکسیزم په روسیه کی په وسیع ډول سره پراختیا بیا مونده، دلته دی چی بورژوازی روشنفکرانو هم را شروع کړه چی د مارکسیزم په لباس کی ځانونه و نغاړی، هغوی: خپلی مقالی په ښکاره مجلو او ورځپانو کی چی د تزاری حکومت له خوا ورته اجازه ورکړل شوی وه چاپولی، له دی کبله هغوی علنی مارکسستان وبلل شول، هغوی هڅه کول چی: دغه مبارزه او د مارکسیزم بیرغ یی د دی لپاره پکار اچول چی کارګری جنبش د بورژوازی ټولنی په ګټه او بورژوازی طبقی ته تابع او ورپخلا کړی، د مارکس له تعلیماتو څخه هغوی مهمترین مبحث چی د پرولتاریا انقلاب او د پرولتاریا د دیکتاتوری په باب وو لیری وغورځول. د علنی مارکسستانو مشهور نفر پیتر ستر ونومیده. (شهید داکتر زرغون، مستربل ۶۱ – ۶۲ مخونه)

**۳۹ – سازمانی وحدت:** له دوه یا څو عناصرو، ګروپونو او ګوندونو له داسی یووالی او پیوستون څخه عبارت دی چی له نوموړو عناصرو، ګروپونو او ګوندونو څخه یو ګوند جوړیږی. یعنی ټول تر یوی رهبری، یوی مرامنامی او اساسنامی لاندی راځی پدی شرط چی نوموړی ډول عناصر، ګروپونه او ګوندونه په هیواد کی واقعاً علمی ډول سره د فرد له خوا د فرد د هر ډول ستم او استثمار څخه د خلاصی او علمی بی طبقاتو ټولنی جوړولو ته نظراً او عملاً وفادار وی. زموږ واقعی زرغون صفته خلقی دمکراتیک انقلابی سازمان له نوموړو ډول عناصرو، ګروپونو او ګوندونو سره په یوه شکل نه یوه شکل سره د سازمانی وحدت، یووالی او پیوستون غوښتونکی دی، څه ښه وایی چی: ( د وحدت کلیمه دیره ښه کلیمه ده خو دا باید ووایو چی له چا سره وحدت؟ آیا غلامان او باداران یو له بله سره وحدت کولای شی؟ ، آیا بزګران او فیودالان یو له بله سره وحدت کولای شی، ، آیا کارګران او سرمایه داران یو له بله سره وحدت کولای شی؟ ، آیا لیوان او میږی یو له بله سره پخلا کیدای شی؟، او بالآخره آیا جنرالیزم او کمونیزم یو له بله سره پخلا کیدای شی او وحدت سره کولای شی؟ د مارکسیزم لنینیزم یعنی د علمی نړی لید انقلابی تیوری نوموړو دول سوالونه ته منفی ځواب ورکوی، هر هغه څوک چی د نوموړو ډول سوالونو په شان وحدت غواړی په حقیقت کی د ارتجاع او امپریالیزم نوکران دی او وی به. تروتسکی د وحدت تر چیغو لاندی وحدت تخریبوی. ترتسکی که څه هم له موږ سره دی خو زموږ سړی ندی، او داسی نور. ( زرغونه خلقی لاری، څلورمه ګنه، ۹ – ۱۰ مخونه)

یادونه:- موږ واقعی زرغون صفته خلقیان (اصلاً او ماهیتاً مارکسیستان – لنینستان) د افغانستان د سولی د غورځنګ له نورو تولو عمومی خلقیانو سره په مستقیم او علنی جبهوی صورت سره نه بلکی د عمومی یووالی په صورت کی او له ملی انقلابی جبهی او له ملی متحدی او پراخی دموکراتیکی انقلابی جبهی سره جبهتاً په غیر مستقیم ډول سره د ګډون او یووالی غوښتونکی یو او کوم وخت مو چی په عمومی خلقیانو کی اکثریت تر لاسه کړ او عمومی خلقیان مو په یوه واقعاً زرغون صفته خلقی انقلابی ګوند باندی واړول نو په هغه کی به د علنیت په صورت کی له ملی انقلابی جبهی او له ملی متحدی او پراخی دموکراتیکی انقلابی جبهی سره جبهتاً په علنی او مستقیم ډول سره د ګډون، پیوستون او یووالی غوښتونکی و اوسو.

**۴۰ – ملی انقلابی جبهه:** د هغو عناصرو، ګروپونو او ګوندونو تر منځ جوړیږی چی یو له بله ګډ امپریالستی ضد خصلت ولری، په نوموړی ډول جبهه کی ګوندونه خپلو خپلو ځانونو ته مرکزی کمیتی، مرامنامی او اساسنامی ولری او له خپلو ځانګړو تشکیلاتو مرامنامو او اساسنامو څخه د باندی په ګډ جبهوی صورت سره د امپریالیزم او د هغوی د ګوداګیانو پر ضد فعالیت او مبارزه کوی او زموږ انقلابی سازمان هم له نوموړی ډول جبهی سره په یوه شکل نه یوه شکل سره جبهتاً د ګډون غوښتونکی دی. که چیری د علنیت په صورت کی په نوموړی ډول جبهه کی رهبری زموږ د واقعی زرغون صفته خلقی دموکراتیک انقلابی سازمان چی د هیواد د کارګری طبقی مخکښ او د هغی د رهبری د تأمینولو لپاره فعالیت او مبارزه کوی په لاس کی ولویدله:

**الف:** جبهه د خلقی دموکراتیکی جبهی شکل ځانته نیسی، **ب :** هغه انقلاب چی د خلکو لخوا د نوموړی جبهی په لارښونو اود هغوی د فعالیت په نتیجه کی منځ ته راځی خلقی دموکراتیک انقلاب . **ج :** دولت به خلقی دموکراتیک دولت، **د :** دیکتاتوری به خلقی دموکراتیکه دیکتاتوری، **ه :** دموکراسی به خلقی دموکراسی، **و :** او ټولنه به خلقی دموکراتیکه ټولنه نومیږی.

**۴۱ – ملی متحده، دموکراتیکه او پراخه انقلابی جبهه:** ملی متحده، دموکراتیکه او پراخه جبهه د هغو عناصرو، ګروپونو او ګوندونو تر منځ جوړیږی چی په داخل کی د فیودالیزم او په خارج کی د امپریالیزم پر ضد وی. په

نوموړې ډول جبهه کې ګوندونه خپلو خپلو ځانونو ته مرکزي کميټې، مرامنامې او اساسنامې لري او له خپلو ځانګړو تشکيلاتو، مرامنامو او اساسنامو څخه د باندې په ګډ جبهوي صورت سره په داخل کې د فيوداليزم او په خارج کې د امپرياليزم پرضد فعاليت او مبارزه کوي. زمونږ واقعي زرغون صفته خلقي دموکراتيک انقلابي سازمان هم له نوموړي ډول جبهې سره جبهتاً په يوه شکل نه يوه شکل سره د يووالي او پيوستون غوښتونکې دی،که چيرې د علنيت په صورت کې: په نوموړي ډول جبهه کې رهبري زمونږ د واقعي زرغون صفته خلقي دموکراتيک انقلابي سازمان چې د هيواد د کارګري طبقې مخکښ او د هغې د رهبرۍ د تأمين لپاره فعاليت او مبارزه کوي، په لاس کې ولويدله دلته به هم د ملي انقلابي جبهې په نسبت په پراخه پيمانه سره، الف: جبهه د خلقي دموکراتيکې انقلابي جبهې شکل ځانته اختياروي. ب: هغه انقلاب به چې د خلکو لخوا د نوموړي ډول جبهې په لارښونه او د هغوی د فعاليت په نتيجه کې منځ ته راځي، خلقي دموکراتيک انقلاب، ج: دولت به خلقي دموکراتيک دولت، د: ديکتاتوري به خلقي دموکراتيکه انقلابي ديکتاتوري، ه: دموکراسي به خلقي دموکراس، و: او ټولنه به خلقي دموکراتيکه ټولنه نوميږي. ( د زرغونه خلقي لارې ځلورمه ګڼه، ۹ مخ)

## ۴۲ – د خلقي دموکراتيک دولت عمده خصوصيات او وظايف په لاندې ډول سره دي:

۱ – په ژوره توګه په خپل وخت او زمان سره دهقانانو د قرضونو، سود، سلم، اجارو او ګرويو د لغو کولو په باب د انقلابي فرمانونو اعلانول او د هغوی تطبيقول.

۲ – په ژوره توګه سره د پخوانيو ګوندي او دولتي لوړو لوړو واکدارانو د هغو اموالو، اجناسو او جايدادونو چې په غير قانوني سره يې راټول کړي وي ضبطول، ملي کول يعني په ټولو خلکو پورې د هغوی متعلقول.

۳ – په نوموړي دولت کې عمده سياسي او نور قدرت د کارګرانو، بزګرانو او نور زيارايستونکو او تر ستم لاندې خلکو په لاس کې لويږي او د هغوی په ګټه څرخيږي، يعني د خلقي دموکراتيکې ديکتاتوري ټينګول.

۴ – د چټکو اقتصادي پلانونو وضع کول او د هغوی تطبيقول.

۵ – د ټولو خارجيو امپرياليستي پانګو ملي کوي، يعني د خلقي دموکرات دولت تر واک لاندې د هغو راوستل، يعني په ټولو خلکو پورې د هغو متعلقول.

۶ – په ژوره يعني داسې توګه سره د ځمکو د اصلاحاتو انجامول چې د فرد لخوا د فرد هر ډول ستم او استثمار پکې له منځه يوړل شي او په ټولنه کې دا شعار عملي شي چې (ځمکه د هغه چا ده چې کار پکې کوي)

۷ – د چټکو اقتصادي پلانونو له تصبيقولو او ځمکو د ژورو اصلاحاتو له بريالي عملي کولو څخه وروسته په ژوره توګه سره د ښځو د نه خرڅولو او د مړو په نيکو کې د هغوی د نه ورکولو په باب د انقلابي فرمانونو اعلانول او تطبيقول.

۸ – په ژوره توګه سره د دولت لخوا د داخلي تجارت او د اموالو او اجناسو د قيمتونو تعيينول او په جدي توګه سره د هغوی کنترولول او له خلقي دموکراتيک انقلابي قانون سره سم د اديانو او مذهبي عقايدو د آزادۍ تأمينول.

۹ – د دولت لخوا ملي بورژوازانو سره د ملي صنايعو په باب مرسته کول، د هغوی تقويه کول خو بورژوازۍ ته رشد او تکامل نه ورکول.

۱۰ – د دولت لخوا د خارجي تجارت او د باندني اموالو او اجناسو د بيو تعيينول او په جدي توګه سره د هغې کنترولول.

۱۱ – په هيواد کې د موجوده باندينيو امپرياليستي هيوادونو له اموالو او اجناسو څخه تر هغه وخته پورې چې د هغو پرځای د سوسياليستي او صلح دوستو هيوادونو اموال او اجناس رووړل شوي نه وي او يا مونږ پخپله توليد کړي نه وي استفاده کول.

۱۲ – کوم وخت چې زمونږ په هيواد کې د ضرورت او اړتيا وړ اموال او اجناس توليد پوره او تکميل شول نو سمدلاسه د خپلو اموالو او اجناسو په کار اچول او د باديني امپرياليستي هيوادونو په اموالو او اجناسو باندې د کلکو او ژورو بنديزونو لګول او همدا رنګه: له سره څخه د هغوی په را واردولو باندې د کلکو او ژورو بنديزونو لګول.

۱۳ – د کار په وړاندې په ژوره توګه له سړيو سره د ښځو د آزاديو او حقوقو برابرول.

۱۴ – په ژوره توګه سره د يو انقلابي او پوخ روشنفکر قشر منځ ته را وستل.

۱۵ – د خلقي دموکراتيک انقلابي اساسي قانون په وړاندې د هيواد د ټولو اتباعو د مدني حقوقو او آزاديو برابري.

۱۶ – په ژوره توګه د هيواد د ځنګلونو، معدنونو او ټولو طبيعي زيرمو، منابعو او شتمنيو ملي کول، يعني د خلقي دموکراتيک دولت ترواک لاندې د هغوی راوستل يعني په ټولو خلکو پورې د هغوی متعلقول.

۱۷ – په ژوره توګه سره د هيواد د ځوان نسل لپاره تعليم او تربيه ښوونه او روزنه، ليک او لوست او طب په وړيا او مجاني ډول سره اعلانول.

۱۸ – په ژوره توګه سره د يوه داسې خلقي انقلابي وسله وال پوځ جوړول چې د انقلاب له آرمانونو څخه دفاع و کړل شي.

۱۹ – په ژوره توګه سره د اختلاس، احتکار، مخدره او قاچاقي موادو، رشوت ورکولو او رشوت اخيستلو، د جنائي او ډول ډول جرايمو، کاغذپرانيو، غلاوو، فحشأ او رنګ رنګ اداري فسادونو او داسې نورو ناوړو او خلقي ضد کړو وړو ضد په کلکه سره مبارزه کول.

۲۰ – په ژوره توګه سره د ملي ستم له منځه وړل (د ملي مسئلې حل کول)

۲۱ – پرولتاري انترناسيونالستي خصلت درلودل او داسې نور.

**خاطره:- اول:** هر هغه دولت چې نوموړی خلقي دموکراتيک وظايف پخپل وخت او زمان سره لکه څرنګه چې ښی هم هغسی په نظر او عمل کی پلی او انجام نه کړی که هر څومره د خلقي دموکراتيک دولت يا مارکسيستی لنينستی دولت يا کوم بل ډول انقلابی دولت نوم هم په خپل ځان باندی کيږدی هغه به هيڅکله او هيڅکله خلقي دموکراتيک دولت يا مارکسيستی لنينستی دولت او يا به کوم بل نامه انقلابی دولت نه وی او نه به و اوسی.

**دوهم:** زمونږ په ګران او محبوب هيواد افغانستان کی د خلقي دموکراتيک دولت د راتګ په باب زمونږ خورا ستر نابغه، تيوريسن، ګران او محبوب ملګری، مؤسس او رهبر **شهيد** داکتر عبدالکريم **زرغون** څه ښه فرمايلي دی چې : « د مارکسيستی آيډيولوژی پر اساس داسی حکم کيږی چې په افغانستان کی د سرمايه داری دوری تيرول حتمی نه دی او هغه څوک چې د سرمايه داری دوری د راتګ لپاره مبارزه کوی پرچميان دی، لکه د ملت په جريده کی يی چې مضمون ورکړی دی او پرچميان پدی ترتيب سره په افغانستان کی د افغانستان له کارګری طبقی او ټولو زيارايستونکو سره ستر خيانت کوی.

ملي او بين المللي شرايط داسی حکم کوی چی: افغانستان په اوسنی وخت کی د سرمايه داری دوری له تيرولو څخه پرته سوسياليزم ته رسيدای شی. ( داکتر عبدالکريم زرغون، مستربل ۵ مخ)

او بل ځای يی داسی فرمايلی دی چی: «زمونږ په ګران هيواد افغانستان کی هم څرګند او پټ پرچميان چې د منشويکانو په شان ګټی مټی خبری کوی او دلته يی تکراروی دوی وايی چې لومړی بايد بورژوازی قدرت پلاس کی واخلی تر څو چې کارګران ډير شی هغه وخت چې کارګرانو په ټولنه کی اکثريت پيدا کړ نو به د سوسياليزم د جوړښت لپاره شرايط پيدا شی نو له هغی څخه وروسته به بيا سوسيالستی انقلاب کوو او سوسياليزم به جوړ کړو، لاکن د دوی دغه آروز به د بورژوازی له نورو پوچو آرزوګانو سره يو ځای خاورو ته وسپارله شی، په تزاری روسيه کی: لکه چې لينين منشويکانو ته خوله ماتوونکی ځوابونه ورکول، په افغانستان کی د لنينيزم پيروانو د افغانستان رويژيونستان له ماتی سره مخامخ کړی دی ټولو خلکو ته يی په ډاګه د مارکسيزم لنينيزم پر اساس د خپلی ټولنی شرايط تحليل کړی او په مستندو دلايلو سره يی څرګنده کړيده چې ملی دموکراتيک انقلاب به د کارګری طبقی په رهبری سره سرته رسوی او د سرمايه داری دوری له تيريدلو څخه پرته د خلقي دموکراتيک دولت د جوړولو له لاری د افغانستان جامعه سوسياليزم ته رسيدای شی (داکتر عبدالکريم زرغون، مستربل ۲۲ مخ)

**دريم:** او داهم وايو چې له شک او شبی څخه د وتلی ټولنيز واقعيت پر اساس، خلقي دموکراتيک انقلاب د کمونيزم د لومړی مرحلی په سوسيالستی انقلاب، خلقي دموکراتيک دولت په سوسيالستی دولت، خلقي دموکراسی په سوسيالستی دموکراسی، خلقي دموکراتيکه ټولنه، په سوسيالستی ټولنه او خلقي ځوانه دموکراتيکه ديکتاتوری د پرولتاريا په بشپړه ديکتاتوری باندی تکامل مومی، يعنی پدی صورت کی بل تنقلاب ته ضرورت نه شته. او همدا رنګه د کمونيزم لومړی سوسيالستی مرحله د هغی د دوهمی خاصی مرحلی ته په تګ کی بل انقلاب ته ضرورت نه شته.

**څلورم:** زمونږ ستر او محبوب ملګری، مؤسس او رهبر شهيد داکتر عبدالکريم زرغون د خپلو سازمانی ملګرو په نمايندګی د ثور له دموکراتيک انقلاب څخه څه موده وروسته نورمحمد تره کی ته لاندينی پيشنهادونه په تحريری توګه سره وړاندی کړل ولی په تأسف سره بايد ووايو چې: نورمحمد تره کی له وينی بهونکی حفيظ الله امين سره له مشاوری څخه وروسته د ده پيشنهادونو ته هيڅ توجه ونکړله او همدغه پيشنهادونه يی تر استهزأ او تمستخر لاندی ونيول او عملی يی نکړل.

۱ ــ د هيواد له اطرافو او غرنيو سيمو څخه د خلقي جمهوری ګارډ په نامه بايد يو لوی دفاعی خلقي انقلابی وسله وال پوځ جوړ شی، د نورو پوځيانو په نسبت دير معاش او د فاميلونو لپاره يی دولتی کورونه ورکړل شی.

۲ ــ په اول قدم کی يوه حصه دولتی ځمکه يوه شمير دهقانانو ته ورکړله شی. ۳ ــ چټک اقتصادی پلانونه وضع کړل شی.

۴ ــ د ځمکی داسی ژور اصلاحات بايد انجام شی چې د فرد له خوا د فرد استثمار له مينځه يوسی.

۵ ــ د ځمکو د اصلاحاتو فرمان بايد په ټول هيواد کی په يوه وخت سره اعلان نه شی، اول په يوه ولايت کی بايد په يوه شکل نه يوه شکل سره عملاً تطبيق شی او دا پروسه بايد په مرور زمان سره له نوموړی ولايت څخه بل ولايت ته او له هغه څخه بل ته بالآخره د هيواد په ټولو ساحو کی په څو کالو په بر کی بشپړه شی.

۶ ــ د يو فرمان د تطبيقيدو او عملی کيدو څخه وروسته بايد بل فرمان اعلان او تطبيق شی.

۷ ــ په ټولو ساحو کی پخپل وخت او زمان سره بايد له زيربنايی اصلاحاتو څخه وروسته روبنايی اصلاحات اعلان او تطبيق کړل شی. ۸ ــ په يوه شکل نه يوه شکل سره بايد د خلکو دموکراتيکه ديکتاتوری اعلان او تطبيق کړله شی.

۹ ــ د علمی نړی ليد له اصولو او قانونمنديو سره سم سازمانی يووالی او وحدت او د دموکراتيکی متحدی او پراخی انقلابی جبهی جوړول لکه څرنګه چی ښی او هم هغسی بايد تطبيق کړل شی.

۱۰ ــ ملی ستم بايد له مينځه يوړل شی. ۱۱ ــ د احتکار، اختلاس، رشوت، فحشا او هر ډول اداری فساد پر ضد بايد کلکه مبارزه وشی. ۱۲ ــ د پرولتاری انترناسيوناليزم له اصولو او قانونمنديو سره سم بايد پرولتاری انترناسيونالستی په سر کی د پخوانی شوروی اتحاد له کمونست ګوند سره ارتباطات ونيول شی او داسی نور.

## ۴۳ ــ د ملی دموکراتيک دولت عمده خصوصيات او وظايف:

۱ ــ په نوموړی دولت کښی د هيواد عمده سياسی او نور قدرت د ملی بورژوازی په لاس کی لويږی او د هغوی په ګټه څرخيږی، يعنی د ملی دموکراتيک ديکتاتوری ټينګول. ۲ ــ په سطحی توګه سره دهقانانو د فصلونو، قرضونو، سود، سلم، اجارو او ګرويو د لغو کولو په لار د انقلابی فرمانونو اعلانول او تطبيقول. ۳ ــ په سطحی توګه سره د پخوانيو ګوندی او دولتی

لوړو لوړو واکدارانو د هغو اموالو او اجناسو او جایدادونو چې په غیر قانوني سره یې راټول کړي وي داسې ظبطول او ملي کول چې په ټولو خلکو پورې تعلق نیسي. ۴ – د ټولو خارجیو امپریالستي پانګو ملي کول، یعنې د ملي دموکراتیک دولت تر واک لاندې د هغو راوستل خو په ټول خلکو پورې تعلق نه نیسي. ۵ – په سطحي توګه سره د ځمکو د اصلاحاتو انجامول، یعنې داسې اصلاحات چې د فرد لخوا د فرد هر ډول ستم او استثمار له مینځه ځخه نه وړي. ۶ – په سطحي توګه سره د اقتصادي پلانونو وضع کول. ۷ – په سطحي توګه سره او بې له خپل وخت او زمانه د ښځو د نه خرڅولو او د مړو په نیکو کې د هغوی د نه ورکولو په باب د فرمانونو اعلانول او تطبیقول. ۸- په سطحي توګه سره د دولت لخوا د داخلي تجارت او د اموالو او اجناسو د قیمتونو او بیو تعیینول او تطبیقول.

۹ – د دولت لخوا له ملي بورژوازانو سره د ملي صنایعو په باب داسې مرسته کول چې د هغې په واسطه بورژوازي ته رشد او تکامل ورکول کیږي. ۱۰ – په سطحي توګه سره د دولت لخوا د خارجي تجارت او د باندنیو اموالو او اجناسو د بیو تعیینولو او دهغوی کنترولول. ۱۱ – په سطحي توګه سره په هیواد کې د موجوده باندنیو امپریالستي دولتونه په اموالو او اجناسو او د هغه په را واردولو باندې د بندیزونو لګول. ۱۲ – په سطحي توګه سره د کار په وړاندې له سړیو سره د ښځو د حقوقو برابرول. ۱۳ – په سطحي توګه سره د یو انقلابي روشنفکر قشر منځ ته راوستل. ۱۴ – په سطحي توګه سره د ملي دموکراتیک انقلابي اساسي قانون په وړاندې د هیواد تولو اتباعو د حقوقو او آزادیو برابرول. ۱۵ – په سطحي توګه یعنې په داسې توګه سره د هیواد د ځنګلونو، معدنیاتو او ټولو طبیعي زیرمو، منابعو او شتمنیو ملي کول چې په ټولو خلکو پورې اړه نیسي. ۱۶ – په سطحي توګه سره د هیواد ځوان نسل لپاره تعلیم او تربیه، ښونه او روزنه، لیک او لوست او طب په وړیا او مجاني ډول سره اعلانول. ۱۷ – په سطحي توګه سره د یوه وسله وال پوځ جوړول. ۱۸ – په سطحي توګه سره د اختلاس، احتکار، مخدره او قاچاقي موادو، رشوت ورکول او رشوت اخیستل، د جنایي جرایمو، کاغذپرانیو، غلاوو، فحشا، اداري فسادونو او داسې نورو ناوړو او خلقي انقلابي ضد کړو وړو پرضد مبارزه کول. ۱۹ – په سطحي توګه سره د ملي ستم له مینځه وړل (دملي مسئلې حل کول). ۲۰ – هغه ځوک چې ځانونه په تش خوله مارکسیستان او لنینستان بولي په سطحي او تش په نامه سره پرولتاري انترناسیونالستي خصلت لري او هغه ځوک چې ځانونه مارکسیستان او لنینستان نه بولي پرولتاري انترناسیونالستي خصلت هیڅ نه لري او داسې نور.....

**خاطره:** د خلقي دموکراتیک دولت او د ملي دموکراتیک دولت د کړو وړو تر منځ عمده فرق دغه دی چې خلقي دموکراتیک دولت د هیواد په ټولو سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، اجتماعي او نورو ساحو کې ژور یعنې د کارګرانو بزګرانو او نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندې خلکو په ګټه اصلاحات او کړه وړه سرته رسوي او ملي دموکراتیک دولت سطحي یعنې: د بورژوازي په ګټه اصلاحات او کړه وړه سرته رسوي بس او بس.

## ۴۴ – له سرمایه داري څخه کمونیزم ته د تللو عمومي اصولو او قانونمندي:

۱ – له سرماسه داري څخه کمړنیزم ته په تللو کې د کمونست ګوند تر رهبري لاندې د هیواد د کارګرانو، بزګرانو او نورو زیارایستونکو او تر ستم لاندې خلکو لخوا یو سوسیالستي انقلاب حتمي او ضروري دی. ۲ – د کمونست ګوند تر رهبري لاندې د سوسیالستي دولت لخوا د هیواد د کارګري طبقې د رهبري تأمینول. ۳ – د پرولتاریا د دیکتاتوري اعلانول او دهغې قایمول. ۴ – د تولید پر عمده وسایلو باندې د اجتماعي مالکیت برقرارول. ۵ – د ځمکو د داسې ژورو او عمیقو اصلاحاتو انجامول چې د فرد لخوا د فرد هر ډول استثمار او ستم پکې له مینځه یو وړل شي او په ټولنه کې دا شعار عملي شي چې « ځمکه د هغه چا ده چې کار پکې کوي». ۶ – د داخلي او خارجي تجارت ملي کول یعنې: د سوسیالستي دولت ترواک لاندې د هغو راوستل (په ټولو خلکو پورې د هغو متعلقول). ۷ – د کار په وړاندې له سړیو سره د ښځو د حقوقو او آزادیو برابري. ۸ – د یوه انقلابي او پوخ روشنفکر قشر منځ ته را وستل. ۹ – ملي ستم له منځه وړل (ملي مسئلې حل کول)، ۱۰ – د یوه داسې خلقي وسله وال او انقلابي پوځ جوړول چې د انقلاب ارزښتونو څخه دفاع وکړل شي ځکه چې «یو انقلاب هغه وخت ارزښت لري چې له خپله ځانه دفاع وکړلای شي»،

۱۱ – د پرولتاري انترناسیونالیزم له اصولو سره سم د پرولتاري انترناسیونالستي اصل تأمینول او داسې نور...

## ۴۵ – زمونږ د واقعي زرغون صفته خلقي دموکراتیک (اصلاً او ماهیتاً مارکسستي-لنینستي) مرکزي سراسري انقلابي سازمان خارجي سیاست په کومو اصولو باندې بنا ولاړ او متکي دی؟:

زمونږ د خارجي سیاست د سوله ایز ژوند په اصولو باندې بنا ولاړ او متکي دی، سوله ایز ژوند یعنې: الف: د حاکمیت د حق د حقوقو د برابري د هر لوی یا کوچنی هیواد د ځمکنی تمامیت او مصئونیت. ب : د نورو هیوادونو په داخلي چارو کې مداخله نه کول، ج : د خپل اجتماعي، اقتصادي او سیاسي نظام په غوره کولو کې د ټولو خلکو حقوقو ته احترام، د : د بین المللي نه حل شویو مسئلو خلاضول له سیاسي لارې او د مذاکرو په واسطه د هغو رعایتول، د سوله ایز ژوند سیاست د خلکو د مبارزې د انتخابولو له حق سره چې د خپل ځان د خلاصون لپاره ئې لازمه ګڼي که د مسلحانه وي او که غیر مسلحانه وي ممانعت نلري او هم ابداً د ارتجاعي رژیمونو د ملاتړ په معنی ندی. ( سیاسي او اجتماعي اصطلاحات، ۱۳۷ – ۱۳۸ مخونه).

**۴۶ ــ د سوله ایز ګډ ژوند سیاست په جهانی صحنه کی څنګه دی؟:** د سوله ایز ګډ ژوند سیاست پخپله په جهانی صحنه کښی د طبقاتی مبارزی د شکلونو له جملی څخه یو شکل دی، دا مبارزه الف: د هوښیاری زیاتول، ب : د امپریالستانو د دسیسو افشا کول، ج : د دفاعی قوتونو پیاوړی کول، د : او د هر راز تیری په مقابل کی تینګار ضروری کوی. دا ښکاره ده چی په آیدیولوژیکی زمینه کی هیڅ راز ګډ سوله ایز ژوند موجود ندی. (سیاسی او اجتماعی اصطلاحات ۲۳۰ ــ ۲۳۱ مخونه).

**۴۷ - د اوسنی کارګری نهضت یو مهم خصوصیت کوم دی؟:** د اوسنی کارګری نهضت یو مهم خصوصیت دا دی چی: الف: د سوسیالیزم لپاره د پرولتاریا مبارزه د ملی استقلال، دموکراسی، او سولی په خاطر د خلکو له ډله ایز نهضت سره ترکیبوی، ب : د امپریالیزم پرضد د ګډی مبارزی پر اساس د سوسیالستی او دموکراتیکو قوتونو اتحاد منځ ته راځی،

ج : سوسیالیزم او دموکراسی یو له بله څخه نه بیلدونکی دی، پرولتاریا د خپلو حقوقو د دموکراسی او سوسیالیزم لپاره په مبارزه کی د جګړی له هر راز شکلونو څخه استفاده کوی، د : د کارګرانو اقتصادی غوښتنی غالباً له سیاسی غوښتنو سره یوځای کیږی او سرمایه داری انحصاراتو ته اساسی ګذارونه ور کوی، هـ : پدی مبارزه کی د بزګرانو ستری پرګنی د مترقی منورینو قشرونو او د ټولنی نور مترقی اقشار له پرولتاریا سره یو ځای کیږی.

**۴۸ ــ زمونږ په ګران او محبوب هیوادافغانستان کی د لویو جرګو په باب معلومات:** د افغانستان په تاریخ کی نولس ۱۹ مشهوری جرګی شوی دی: ۱ ــ په ۱۴۱۱م کال کښی وړومبی لویه جرګه جوړه شوی وه چی پکښی د یوسفزو پښتنو له قندهار څخه پېښور ته د هجرت په معامله خبری شوی وی، ۲ ــ په ۱۴۱۳ عیسوی کال کښی د څمکو د ویش او حد بندیو متعلق د شیخ ملی یوسفزیو په پیښور کی لویه جرګه، ۳ ــ په ۱۵۷۰ ع کال کی د مغلو خلاف د پیر روښان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۴ ــ په ۱۷۰۷ ع کال کی د میرویس نیکه تر مشری لاندی د ایرانیانو د ظلم په هکله لویه جرګه، ۵ ــ په ۱۷۴۷ ع کال کی د افغانستان د حکومت د جوړولو لپاره د احمدشاه بابا تر مشری لاندی لویه جرګه، ۶ ــ په ۱۷۹۱ ع کال کی د تیمورشاه له خوا له قندهار څخه کابل ته د مرکز د منتقلی په باب لویه جرګه، ۷ ــ په ۱۸۴۱ ع کال کی د برطانوی مداخلت خلاف د عبدالله خان اڅکزی تر مشری لاندی لویه جرګه، ۸ ــ په ۱۸۶۴ ع کال کی د امیر شیر علی خان تر مشری لاندی د برطانیی خلاف لویه جرګه، ۹ ــ په ۱۹۱۶ ع کال کی د نړی د عمومی لومړی جګړی په دوران کی د افغانستان له یو قوت سره هم د مرستی د نه کولو متعلق د امیر حبیب الله خان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۰ ــ په ۱۹۲۲ ع کال کی د افغانستان د لومړنی سیاسی قانون د منظوری په باب د غازی امان الله خان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۱ ــ په ۱۹۲۴ ع کال کی د افغانستان د ملی استقلال له اخیستلو څخه وروسته د ترقیاتی کارونو د جاج اخیستلو په باب د غازی امان الله خان تر مشری لاندی په بغمان کښی لویه جرګه، ۱۲ ــ په ۱۹۲۸ ع کال کی د کارکردګی د جاج اخیستلو په باب د غازی امان الله خان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۳ ــ په ۱۹۳۱ ع کال کی د نادرخان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۴ ــ په ۱۹۴۱ ع کال کی د ظاهرخان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۵ ــ په ۱۹۵۵ او ۱۹۶۲ ع کالونو کی د پښتنو په آزادو قبایلو کی د مقیمو افغان قبائلیانو متعلق د ظاهرخان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۶ ــ په ۱۹۶۴ ع کال کی د اساسی قانون ب بحران د هواری د اقداماتو لپاره د ظاهرخان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۷ ــ په ۱۹۷۷ ع کال کی د داؤود خان تر مشری لاندی لویه جرګه، ۱۸ ــ د داکتر نجیب الله په دور کی د هغه تر رهبری لاندی تش په نامه لویه جرګه، ۱۹ ــ په ۲۰۰۲ ع کال کی د نړیوال امپریالیزم له لارښونو او قوماندی سره سمه د هیواد پلوری امریکایی ګوډاګی حامد کرزی تر مشری لاندی تحمیلی او تپل شوی لویه جرګه.

**۴۹ ــ له سرمایه داری څخه د کمونیزم لومړی سوسیالستی مرحلی ته د ورتیریدو په مرحله کی د طبقاتی مبارزی نوی شکلونه کوم کوم دی؟** په لاندی ډول سره دی:
۱ ــ د استثمارګرو د مقاومت ماتول د پرولتاریا او بورژوازی تر منځ کورنی جګړه د طبقاتی مبارزی تر ټولو حاد شکل دی. ۲ ــ په کرهنه کی د سوسیالستی تحولاتو او د بورژوازی له نفوذ څخه د بزګرانو خلاصول، ۳ ــ د پرولتاریا لخوا د غیر پرولتاری پر ګتو د لارښونو لاسته راوستل، ۴ - له بورژوازی ماهرانو څخه د ملی اقتصاد په کار کی استفاده کول، ۵ ــ په ابتکاری ساختمانی کار کښی د نوی سوسیالستی انظباط هستول، ۶ ــ د خلکو په آګاهی کی د کوچنی بورژوازی د طرز تفکر نشست کول، ۷ ــ د ملی اقتصاد د لوړولو لپاره مبارزه، ۸ - او د زیاراېستونکو د ورځ تر ورځی زیاتیدونکو مادی او معنوی اړتیاوو رفع کول.

**۵۰ ــ ملی مسئله یعنی د اسیرو ملتونو د خلاصون د طریقو او وسایلو او د خلکو تر منځ د حقوقو د تساوی د برقراری مسئله:** مارکس، انګلس، لنین او استالین، ملی مسئلی ته ستره پاملرنه کړیده او هغه به یی تل د پرولتاریا د انقلاب او د پرولتاریا د دیکتاتوری د مسئلی او د سوسیالیزم او اجتماعی ترقی په خاطر د مبارزی د ګټو تابع بلله ، هغوی یادونه کوله چی: «هغه ملت چی په بل ملت باندی ظلم کوی پخپله نشی کولای چی آزاد و اوسی» هغوی ثابته کړه چی ملی مسئله پخپله مجموع کی د سرمایه داری ټولنی په چوکات کی دننه د حل وړ نده او د هغه قاطع حل یوازی د سوسیالستی ټولنی په چوکات کی ممکن دی، یوازی په سوسیالستی ټولنه کی د ملتونو بشپړه برابری تحقق پیدا کوی، هر ملت

حق لری چی: خپل سرنوشت مستقلاً وټاکی او د یو کثیرالمله هیواد په داخل کی دا حق د بشپړو جلا کیدو تر پولی پوری منی د داوطلبانه او اصولی یووالی او د ورور ګلوی پیوستون په دی هیوادونو کی یوازی د ټولو ملتونو بشپړو حقوقو ته د مساوی احترام پر اساس امکان پیدا کوی

**۵۱ ــ ۱. په ۱۳۴۸ هـ ش کال خلقی او ملی دموکراتیک جنبش څه وکړل او بالآخره یوی څه ډول حساسی مرحلی ته ورسیده؟** د ۱۳۴۸ ه ش کال د ثور په ۲۳ نیټه د ابن سینا په ښونځی باندی د ظاهرشاهی دولت د پولیسو لخوا سخته حمله وشوه، د پولیسو د دی وحشیانه عمل پرضد ټولو خلقی او ملی دموکراتیکو عناصرو محصلانو او زده کونکو سخته مبارزه شروع کړه، په ټوله معنی حاکمه طبقات بریالی نشول چی اعتصاب او جنبش مات کړی، محصلان او زده کونکی پرته له کامیابی څخه صنفونو ته ولیږی. بالاخره دغه جنبش یوی داسی حساسی مرحلی ته ورسیده چی له یوی خوا څخه اعتمادی صدراعظم لخوا د رادیو پواسطه سره محصلانو، استادانو او شاګردانو ته اخطار ورکړل شو څو د دی تهدید توهین پواسطه یی د سرطان په ۸ نیټه صنفونو ته ننه باسی او له بلی خوا «ببرک کارمل» هم د پرچم په جریده کی تر دی عنوان لاندی چی (دموکراسی در خطر است) چی د اعتمادی د رادیویی وینا سره سم یی محصلانو او زده کونکو ته وروپهول چی باید اعتصاب او مظاهری پریږدی او خپلو صنفونو ته ولاړ شی.

**۲ ــ د ۱۳۴۸ ه ش کال د سرطان د میاشتی په ۸ نیټه خلقی ځوانانو د پرچم د ګروپ کومه دسیسه افشا کړه؟** همدا رنګه د پوهنتون په هغه تاریخی میټنګ کی چی د سرطان په اتمه نیټه د پوهنتون په ساحه کی وشو د پرچم ګروپ د اعتمادی په تائید سره په څرګنده فشار اچاوه چی باید اعتصاب مات شی لاکن خلقی ځوانان یو ځل بیا د پرچم دغه دسیسه رسوا کړه او ټول محصلان او زده کونکی یی د حکومت د دی توطیی پر ضد را وبلل لکه چی یوه خلقی شاعر د میټنګ په جریان کی داسی ځواب ورکړ:

بادار یی زنګ در خطر راکړو په لومړی څپه — پـه شـل او دیـرش کـیلو سایکلو منځنی څپه

مرید یی دا وینا تائید کړه په محضر د خلکو — خلقیانو دا وینا ور رد کړه په وروستی څـپه

پوهیږو چی: د افغانستان خلک دموکراسی نه لری ، نه له دی کبله هغه څه چی نه یی لری په خطر کی هم ندی، د افغانستان د خلکو دموکراسی هغه وخت په خطر کی ده چی سیاسی قدرت د افغانستان در خلکو په لاس کی وی او یا که چیری د خلکو دښمنان راپورته شول او دوی د خلقی دولت پرضد مظاهری او تحریکات شروع کړل نو هغه وخت مونږ حق لرو چی ووایو: «دموکراسی په خطر کی ده او باید د افغانستان خلک له خپل دولت څخه ټینګ ملاتړ وکړی» لاکن حقیقت دادی چی په اوسنی وخت کی عمده سیاسی قدرت د فیودالانو په لاس کی دی له دی کبله د دوی دموکراسی په خطر کی ده دا ځکه چی: ورځ په ورځ د افغانستان خلک راویښیږی، منظم او متشکل کیږی، تر کارګری بیرغ لاندی د افغانستان د حاکمه طبقاتو دموکراسی له خطر سره مخامخ کوی، هغه څوک چی په افغانستان کی له موجوده دموکراسی څخه دفاع کوی، په حقیقت کی د افغانستان د فیودالی ډولت دفاع کونکی دی ځکه چی: پخپله دموکراسی هم د دولت معنی لکه چی لنین لیکی: « دموکراسی د دولت شکل او یو د هغه له ډولونو څخه دی، نو بنا پردی دغه دموکراسی هم د هر دولت په شان د افرادو په مورد کی متشکل او سیستماتیک قهری اعمالو څخه عبارت ده.

**۳ ــ یو خلقی شاعر د ببرک کارمل واقعی څیره څنګه څرګندوی؟**

ای د لوی جنرال بچیه زه دی پیژنم چی غل یی — ته د خلکو لوی دښمن یی راوتلی په بل چل یی

په الفاظـو د دیر خلک خطا کړی دی چلبازه — طـــبقه دی ده اوچته د ولس منځ کی غمازه

غوښی تل خوری دخورانوتش په خوله باندی کارمل یی — ای د لوی جنرال بچیه زه دی پیژنم چی غل یی

دهقانان د دی بیشماره او ته ئی لوی خان یی — د مزدور او خواری کښ د وینو ښنلو په ارمان یی

ارتجاع سره ملګری له ریښی ورسره خپل یی — ای د لوی جنرال بچیه زه دی پیژنم چی غل یی

له دی اوس رژیم نعمت نه برخوردار یی — غولوی نور څو کسان لو ګنهګار یی

له غریب سره تضاد کی سور اوربل یی — ای د لوی جنرال بچیه زه دی پیژنم چی غل یی

په جامه د مبارز کی لوی خانان کله پټیږی — جاسوسی یی چی مسلک وی په تاریخ کی نه ځاییږی

ټول ځلمیان په تا پوه شوی پس له دی ورته خجل یی — ای د لوی جنرال بچیه زه دی پیژنم چی غل یی

د خلقی بیرغ تر لاندی حکومتی اجنـتان ورک کړی — مترقی آیدیولوژی کی راوتلی لیوان سپک کړی

ای د لوی قصر خاونده پس له دی نه په زلزله یی — ای د لوی جنرال بچیه زه دی پیژنم چی غل یی

دغه جبر د تاریخ دی جاسوسان به رسوا کیږی — په خاشاکو به بند نشی لوی طـوفان را روانیږی

زحمتکش منزل ته رسی ته به پاتی لکه شل یی — ای د لوی جنرال بچیه زه دی پیژنم چی غل یی

شهید داکتر عبدالکریم زرغون، مستربل ۷۴ ، ۷۵ ، ۷۶ مخونه

**۵۲ ــ د دی لپاره چی استثمار کیدونکی طبقاتو خپل ځانونه له استثمار او له هر ډول ستم څخه خلاص کړی، نو دوی کوم شی ته اړ دی؟:** ۱ ــ د دی لپاره چی استثمار کیدونکی طبقات خپل ځانونه له استثمار او هر ډول ستم څخه خلاص کړی نو دوی هم د دولت جوړولو ته اړ دی چی دغه دولت د استثمارګرو طبقو

له دولت سره له بیخ او ریښې فرق لري، البته دوی دا دولت تر هغه نشي جوړولای تر څو چې دوی کلک اتحاد او یووالی ونه لري، د استثمارکیدونکو طبقاتو وحدت چې د خپل دولت د جوړښت په خاطر یې باید ولري یوازې د کمونستې ګوند په واسطه سره پوره او تأمین کیږي.

۲ – کمونستي حزب څه کولای شي؟ کمونستي حزب کولای شي چې : الف : د زیار ایستونکو خلکو تر منځ وحدت راوړي، ب : تنظیم یې کړي، ج : د کمونستي تولنې پر خوایي رهنمایي کړي، د : په سوسیالستي آیدیولوژۍ یې مجهز کړي، هـ : له شرایطو سره سم یې د مبارزې په اشکالو پوه کړي، و : او د مارکسیزم تر سره بیرغ لاندې یې د زیارایستونکو د طبقاتي مبارزې په پرمخ بیولو کې غښتلي کړي، لنین لیکي چې: « د دې لپاره چې د یوې ټاکلې طبقې لویه برخه خپل ځان او ګټې وپیژني او د ځان لپاره یوه جلا او ځانګړې لاره تعقیب کړي نو لازمه ده چې د دې طبقې مخکښه (پیشاهنګ) عناصر د ستې په هر ډول چې وي سره یو ځای شي که څه هم د دوی شمیر دې طبقې ته لږ او هیڅ وي».

## ۳ – یو کمونستي حزب د خپل تکامل په جریان کې له څو عمده مرحلو څخه تیریږي او هغه کومې دي؟

یو کمونستي حزب د خپل تکامل په جریان کې له دریو عمده مرحلو څخه تیریږي: الف : د تشکل او تربیې، جذب او دفع مرحله. ب: خلکوته د ورتګ مرحله، ج : د سیاسي قدرت د پلاس راوړلو مرحله.

الف : د تشکل او تربیې، جذب او دفع مرحله: په لومړۍ مرحله کې ګوند په عمده ډول د صفونو په منځ کې فعالیت موي، دا مرحله د ګوند د غړو د آیدیولوژیکي وحدت د تربیې او تشکل لپاره حتمي ده، پدې مرحله کې یو تعداد بورژوازي نمایندګان هم ګوند ته داخلیږي لاکن هغه وخت چې کمونستان په دې وپوهیږي چې دا کسان د مارکسیستي آیدیولوژۍ او د مارکسیستي حزب له اصولو څخه غاړه غړوي، وحدت ته ضرر رسوي، نو یې فوراً له ګوند څخه اخراج او دفع کوي.

ب : خلکوته د ورتګ مرحله: په دوهمه مرحله کې حزب خلکوته داخلیږي، هر چیرې چې خلک وي هلته باید کمونستان کار وکړي، د خلکو په منځ کې باید مارکسستي آیدیولوژي نشر کړي، د خلکو په منځ کې د مارکسستي آیدیولوژۍ خپرول او خلکوته د مارکسیزم تعلیم ورکول، یوازې او یوازې د کمونستانو په واسطه سره سرته رسیدای شي او کمونست ګوند دغه وظیفه په غاړه لري ، لنین په دې باب داسې لیکلي چې: «مارکسیزم د کارګری طبقې د ګوند د تربیې له لارې د پرولتاریوو هغو مخکښو کارګرانو ته تعلیم ورکوي چې قدرت ترلاسه کولاشي او د ټولو خلکو لارښونه د سوسیالیزم خواته کولای شي، داسې مخکښه چې نوی نظام رهنمایي او منظم کړي، دا مخکښه د دې توان لري چې بې له بورژوازۍ د نوی ژوند په کار کښې او د بورژوازۍ پرضد د استثمار شوو زحمتکشانو ښوونکې او رهبر شي» (لنین، دولت او انقلاب صفحه ۴۱)

ج – د سیاسي قدرت په لاس روړلو مرحله: هغه وخت چې ګوند کاملاً خلکوته ورننوت کارګران، بزګران او نور زیارایستونکي یې سره متحد کړل عیني او ذهني شرایط هم په خاصه مرحله کې د انقلاب لپاره آماده شول نو دا وخت دی چې ګوند د تکامل خپل دریمې مرحلې ته رسیږي، خپل سیاسي قدرت په لاس راوړي، یعنې یو سوسیالستي دولت جوړوي، سوسیالستي دولت د پرولتاریاوو د دیکتاتورۍ په عملي کولو سره د یوه انسان استثمار د بل انسان پواسطه سره له مینځه وړي.

## د پرولتاریا د دیکتاتورۍ په باب مارکسیستي- لنینستي نظریات او د (پخوانی) شوروی اتحاد او نورو هیوادونو تاریخي تجربه کومه خبره تائید وي؟

مارکسیستي – لنینستي نظریات ثابتوي او د (پخوانی) شوروی اتحاد او نورو هیوادونو تاریخي تجربه دا خبره تائید وي چې: که چیرې د بریالې شوې طبقې کلک حاکمیت یعنې د پرولتاري تر لاسه شویو بریالیتوبونو دفاع ونکړي نو سوسیالستي انقلاب به ونشي کولای چې خپل بریالیتوبونه وساتي او د راپرزیدلو استثمارچیانو حتمي کوښښونه رد کړي چې غواړي په هره وسیله چې وي خپله باداري بیا ټینګه کړي، د بورژوازۍ آیدیولوژۍ نمایندګان او راز راز اپورتونستان د پرولتاري دولت اصل تحریفوي او کوشش کوي چې د پرولتاري حاکمیت ټول فعالیت د زور راوړلو په حیث وښي او لویدیځ مطبوعات په کلکه سره همدغه نظریات په خلکو باندې تحمیلوي.

نتیجه: مونږ واقعي زرغون صفته خلقیان (اصلاً او ماهیتاً مارکسستان، لنینستان) له نوموړي لیکنې څخه د نتیجې په اخیستلو سره د ټولنیز واقعیت پر اساس داسې وایو چې: په پخوانی شوروی اتحاد کې د نړۍ د پرولتاریاوو د څلورم رهبر آی. یوسیف ویسارې اونویچ استالین له جسمي مرګ څخه وروسته د نوموړي هیواد د پخوانۍ کمونست ګوند مرکزي کمیټې د پټو بورژوازي صفته عناصرو خروسچف او برژنف تر رهبرۍ لاندې د پرولتاریا د دیکتاتورۍ اصول او وظایف د کارل مارکس، فریدریک انګلس، ولادمیر ایلییچ لینین او آی یوسف ویساری اونویچ استالین له انقلابي زده کړو او ښونو سره سم لکه څرنګه چې وو هم هغسې انجام نه کړل او د پرولتاریا د دیکتاتورۍ له ترلاسه شوو بریالیتوبونو څخه لکه څرنګه چې لازمه وه هم هغسې دفاع ونه کړه څکه د نوموړي هیواد په کمونست ګوند کې مرتد میخائیل ګرباچف، مرتد ایلسن او د دوی پلویانو (دا د امریکایي امپریالیزم د CIAتورو تورو جاسوسانو) زیات نفوذ او لوړ لوړ مقامات تر لاسه کړل چې بالآخره د یو څو موقتي مودې لپاره یې نوموړي ګوند او سوسیالستي نظام دړې وړې کړه.

**۵۳ – د پښتونستان د ملي مسئلې په باب:** ۱ – د اتک قلعه د اتک د سیند په غاړه په ۱۸۱۲ م د پنجاب د سکانو په حکومت پورې وتړله شوه. ۲ – د ملتان ولایت په ۱۸۱۸ م د سکانو د حکومت په لاس کې ولویده. ۳ – د کشمیر ولایت په ۱۹۱۸ م کې د پنجاب په دولت پورې پیوست شو. ۴ – د دیره اسمعیل خان ولایت په ۱۸۲۱ م کې د سکانو حکومت ته وکړ

شو. ۵ – د ديره غازي خان ولايت په ۱۸۲۱ م کې د پنجاب حکومت ته ورکړ شو. ۶ – د پيښور ولايت په ۱۸۲۳م سکانو ونيو. ۷ – د سند ولايت په ۱۸۴۳م د انګليس د دولت له خوا ونيول شو. ۸ – د بلوچستان ولايت په ۱۸۵۴م – ۱۸۷۶م د انګليسانو د حکومت له خوا ونيول شو. ۹ – له فوشنګ څخه د کورم تر کوژک او د مرۍ تر کوټله پورې علاقې د اميرمحمد يعقوب خان لخوا د انګليسانو حکومت ته ورکړلې شوې. ۱۰ – د سوات، باجوړ او چترال ولايتونه او د ارنوی، وزيري، د اورچاګي او چمن علاقې په ۱۸۹۳ م کې د ديورند د معاهدې پراساس د امير عبدالرحمن خان له خوا انګليسانو ته ورکړلې شوې. ۱۱ – کله چې پاکستان منځته راغی د محمدعلي جناح او د افغانستان د دولت خاص نماينده نجيب الله خان تر منځ په کراچۍ کې يوه موافقت نامه لاسليک شوه او په هغه کې داسې وويل شول چې آزاد قبايل به له صوبه سرحد او بلوچستان څخه جدا وي او علي جناح وويل چې زه به په دې باب له ملي شورای څخه د رايو د اخيستلو تقاضا وکړم. ۱۲ – کله چې محمد علي جناح مړ شو خواجه نظام الدين قدرت ته ورسيده هغه اعلان وکړ چې سرحدي آزاد قبايل د پاکستان د خاورې يوه نه جدا کيدونکې برخه ده چې دا اعلان د افغانستان او پاکستان د دولتونو تر منځ د مناسباتو د خرابتيا سبب شو. ۱۳ – جنرال محمدضياءالحق په ۱۹۷۷م کال ايران ته د سفر په حال کې د کابل په بين المللي هوايي ميدان کې کوز شو او له نورمحمد تره کي سره يې په پغمان کې وليدل، ضياالحق ورته وويل چې زه به د خپلو سرحداتو ټينګه ساتنه وکړم خو نورمحمد تره کي ورته وويل چې: ( د ديورند کرښه يوه استعماري او تحميلي کرښه ده او په ۱۹۴۷م کال کې د پاکستان د تشکيليدو په وخت کې د پښتونخوا او بلوچستان خلکو ته د آزادۍ حق ور نه کړل شو.۱۴ – ضيا الحق د نورمحمد تره کي د خبرو له اوريدلو څخه ورسته د نړۍ خوړونکې امپرياليزم سره لاس يو کړ، هغه ورته وويل چې: بايد له افغاني ضد انقلابيونو سره هر ډول مرستې وکړو که نه شوروی اتحاد به د هند بحر ته خپل ځان ورسوي. ۱۵ – د ډاکتر نجيب الله تر سقوط پورې تقريباً ۵۵ کاله په افغانستان کې په کال يو وار د (سنبلې د مياشتې نهمه) د پښتونستان د ورځې په نامه نمانځله کيده او د پښتونستان مبارزينو ته په کابل کې د افغانستان د پخوانيو حکومتونو لخوا پناه وي، کورونه او وظيفې ورکولې کيدلې.

## ۵۴ – په افغانستان کې د مرتد کاوتسکي ملګري ملي دموکراسي څنګه تبليغوي؟

بورژوازي او د هغوی نمايندګان هميشه غواړي چې بورژوازي دموکراسي تش په الفاظو کې دموکراتيکه او ډيره ښه څرګنده کړي يا دا چې زيارايستونکي په دې وغولوي چې بورژوازي دموکراسي ستاسې ژوند او ستاسې غوښتنې تائيدوي نو پدې ترتيب سره بورژوازي خپل استثمار او ظلم د دموکراسي په الفاظو کې نغاړي او زيارايستونکي خلک د خپلې دموکراسي د لاسته راوستلو په لاره کې ځند وي. بورژوازي تل د دموکراسي چيغې او لافې وهي او د قانون په وړاندې د مساوات نعرې پورته کوي او شعارونه ورکوي خو د دوی دموکراسي او قانون که څه هم ظاهراً دموکراتيک په نظر راشي په نهايي تحليل کې د بورژوازي په ګټه ده. <u>مثلاً:</u> د فرانسې په قانون کې وايي چې: (هيڅوک بايد د پل لاندې بيده نشي) د فرانسې د بورژوازي دموکراسي دا خبره که تحليل کړو ظاهراً داسې معلوميږي چې نه بورژوازان کولای شي چې د پل لاندې بيده شي او نه زيارايستونکي او هغوی ته وفادار خلک، خو په حقيقت کې هغه زيارايستونکي چې د هوټل او د کوټې د کرايې پيسې نلري مجبور دي چې د ږلې د اووريدو يا د ديرې ګرمۍ په وخت کې د پل لاندې بيده شي او ځانونه د مرګ او سختۍ څخه بچ کړي لاکن بورژوازي هيڅوخت دې ته نه مجبوريږي چې د پل لاندې بيده شي ځکه چې د ښو قصرونو او موټرو خاوندان دي، له دې خبرې څخه دې نتيجې ته رسيږو چې: بورژوازي دموکراسي که هرڅومره ظاهراً د دوی نمايندګانو لخوا دموکراتيکه تبليغ شي بيا هم د بورژوازي په ګټه ده او هيڅکله د پرولتاريا له ديکتاتورۍ او سوسيالستي دموکراسي سره نشي برابريدلای، <u>لکه چې لنين په دې باب داسې ويلي دي:</u> « د پرولتاريا دموکراسي له هرې بورژوازي دموکراسي څخه يو مليون واره دموکراتيکه ده، شوروی حکومت له هر دموکراتيک ترين بورژوازي دولت څخه يو مليون واره دموکراتيک دی. <u>همدا رنګه</u> د بورژوازي طبقې مبلغين په بورژوازي دموکراسي کې له بورژوازي ديکتاتورۍ څخه انکار کوي، دوی دا تبليغوي چې زمونږ په دموکراسي کې هرې طبقې ته مساوي حقوق ورکړل شوي دي او ټول اداري قانوني او قضايي مقامات په دموکراتيک او انتخابي شکل د ټولنې په ټولو اوسيدونکو پورې ارتباط لري يعنې زمونږ دولت د يوې طبقې د ګټو ساتندوی نه دی بلکې د ټولو طبقاتو له ګټو څخه په مساوي ډول دفاع کوي، لکه چې کاوتسکي د (خالص دموکراسي) لپاره په دفاع راپورته شو او هر ډول ديکتاتوري يې ردوله او سوسيالستي دموکراسي د پرولتاريا ديکتاتورۍ په مقابل کې يې د بورژوازي دموکراسي تعريف او ستاينه کوله او په بورژوازي دموکراسي کې د کاوتسکي په عقيده استثمارګر او استثمار کيدونکي مساوي او برابر دي.

د مارکسيستي آيډيولوژۍ پر اساس پوهيږو چې دموکراسي او ديکتاتوري د يوې سکې دوه مخونه تشکيلوي، هر چيرته چې دموکراسي وي هلته بايد ديکتاتوري هم موجوده وي، د هرې طبقې چې سياسي قدرت پلاس کې وي، د هغې لپاره دموکراسي او د نورو لپاره ديکتاتوري ده، پخپله د دولت ماهيت او تعريف هم همداسې دی، <u>لکه چې انګلس پدې باب داسې ليکلي دي چې:</u> « دولت د يوې طبقې لخوا دبلې طبقې د ټکولو له ماشين څخه پرته بل شی ندی، په دموکراتيکه جمهوري کې هم د دولت دغه نقش د سلطنتي رژيم له نقش څخه کم ندی». نو له دې کبله هيڅکله داسې دولت نشي جوړيدلای چې په هغه کې استثمارګران او استثمارکيدونکي سره برابر وي او يا داسې دموکراسي نشي راتلای چې دښمن طبقات په مساوي ډول له هغې څخه مستفيد شي، لکه چې لنين کاوتسکي ته ذاسې خوله ماتوونکې ځواب ورکړ: <u>« استثمارګران نشي کولای چې له استثمار شويو سره برابر شي، تر هغه وخته پورې چې د يوې طبقې د هر ډول استثمار امکان په کلي ډول سره له منځه نه وي تللي عملي او واقعي برابري هم وجود نه لري.</u>

**په افغانستان کی هم د کاوتسکی ملګری ملی دموکراسی داسی تبلیغوی چی:** (په ملی دموکراسی کی بورژوازی او پرولتاریا مساوی برخه لری او داوړه په برابر ډول سره دموکراسی څخه بهره مند دی، په رښتیا سره چی د لنین خبره یو ځل بیا ښه ثابتوی چی (ټول رویزیونستان د یوی کورنی غړی دی او یو له بل څخه زده کړه کوی) زمونږ وطنی رویزیونستان هم له خپلو استادانو څخه الهام اخلی په ملی دموکراسی کی استثمارګران او استثمار کیدونکی سره برابر وی په داسی حال کی چی پوهیږی چی په ملی او دموکراتیک دولت کی ډیر قدرت د استثمار کیدونکو خلکو پلاس کی ندی بلکی د استثمارګرانو په لاس کی متمرکز دی نو له دی کبله په ملی دموکراتیک دولت کی د استثمارګرانو لپاره د استثمار شرایط کاملاً موجود دی او عملاً زیارایستونکی استثماریږی څنګه کیدای شی چی دلته استثمارګران او استثمارکیدونکی سره برابر شی او یا څنګه کیدای شی چی په ملی دموکراسی کی کمونستی ګوند او بورژوازی ګوند سره مساوی برخی ولری؟ دا څرګنده ده چی د فیودالیزم او امپریالیزم پرضد د ملی دموکراسی دولت ټول غړی په ګډه عمل کوی ولی په جبهه کی د ټولو غړیو تر منځ مساوی قدرت ندی تقسیم شوی نو له دی کبله ملی دموکراسی دولت نشی کولای چی د بورژوازی او پرولتاریا یعنی د استثمارګرو او استثمار کیدونکو ګټی په مساوی ډول سره منعکس کړی، همدا رنګه مونږ پوهیږو چی د طبقاتی ټولنو په تاریخ کی په طبقاتی ټولنو کی یعنی په هغو ټولنو کی چی د یوه انسان استثمار د بل انسان په واسطه سره سره صورت نیسی دری ډوله دولتونه یعنی د مریتوب دولت، فیوډالی دولت او سرمایه داری دولت موجود دی چی د ماهیت په لحاظ سره یو شی دی نو ملی دموکراسی دولت هم د پرتنیو دولتنونو څخه یو باید وشمیرل شی ځکه چی د فیودالیزم پرضد یی انقلاب سرته رسولی دی او فیودالیزم یی مات کړی دی نو له دی سببه په هغه باندی د فیوډالی دولت اطلاق نشو کولای او څرنګه چی په نوموړی دولت کی عمده قواوی د کارګرانو او بزګرانو په لاس کی ندی نو: سوسیالستی دولت هم هغه بللی نشو. زمونږ وطنی رویزیونستان هم ملی دموکراسی د خلقی دموکراسی په مقابل کی تبلیغوی او یا داسی پوښتنی کوی چی ستاسو مرام ملی دموکراسی دی او که خلقی دموکراسی؟ حتی په بعضی ځایونو کی ملی دموکراسی د خلقی دموکراسی په نسبت زیارایستونکو لپاره ګټوره ګڼی او ورته وایی چی: د زیارایستونکو ژوند یوازی په ملی دموکراسی کی خوشبخت کیدای شی په داسی حال کی چی د یوه کمونست ګوند د مرام عمده ټکی د پرولتاریا د دیکتاتوری پخاطر مبارزه ده او ملی دموکراتیک دولت په هغو شرایطو کی تائید وی او د هغه لپاره مبارزه کوی چی کارګران او بزګران په ملی او دموکراتیک انقلاب کښی د هیواد د مشخصو شرایطو پر اساس نشی کولای چی عمده سیاسی قدرت په لاس راوړی. ( شهید داکتر عبدالکریم زرغون، مستربل، ۸۲ – ۸۸ مخونه)

**۵۵ – د فراکسیون یعنی ډله جوړوونکو عناصرو په مقابل کی د کمونست ګوند وظیفه کومه ده؟** د فراکسیون (ډله) جوړوونکو عناصرو په مقابل کی د کمونست ګوند وظیفه دا ده چی د هغوی پرضد سرسختانه مبارزه وکړی، تجرید یی کړی او له ګوند څخه لیری وغورځوی، د کمونستی ګوندونو په تاریخ کی دا ثابته شوی ده چی تر څو پوری چی کارګری ګوند ځان له اپورتونستانو څخه پاک کړی نه دی خپل بریالیتوب ته ندی رسیدلی، د مثال په توګه: د بلشویک ګوند په تاریخ کی هغه وخت چی منشویکانو په ۱۹۱۲ م کی د پراګ په کنفرانس کی د تل لپاره له ګوند څخه خارج کړل نو په رښتیا سره یی د یوه مستقل ګوند حیثیت غوره کړ. <u>لنین د پراګ د کنفرانس</u> د نتایجو په باب ګورکی ته داسی ولیکل چی: « بالآخره له رزیلو انحلال طلبو سره سره د ګوند او د هغه د مرکزی کمیتی ژوند کول حاصل شول امید لرم چی په دی کار کی تاسی هم له ما سره د خوشحالی اظهار وکړی» لنین منتخبات، ۲۹ جلد، ۱۹ مخ، روسی چاپ

همدا رنګه د بلشویک ګوند په تاریخ کی د دی تصفیی په باب داسی لیکی چی « که چیری اپورتونستان د پرولتاری ګوند په صفوفو کی پاتی شوی وای د بلشویک ګوند نشول کولای چی په لویه لار باندی روان شی او پرولتاریا پخپل ځان بسی روان کړی، نه یی شول کولای چی حاکمیت په لاس کی ونیسی او د پرولتاریا دیکتاتوری تشکیل کړی، په داخلی جنګی کی غالب کیدای نشول، د دی توان یی نه درلود چی سوسیالیزم بنا کړی» بلشویک ګوند تاریخ، فارسی چاپ، ۲۳۲ مخ – شهید داکتر عبدالکریم زرغون، مستربل، ۱۰۳ – ۱۰۴ مخونه.

**۵۶ – ۱. امپریالستی او ارتجاعی دولتونه د کمونستی ګوند د تضعیف کولو په خاطر څه کوی او د خپلو چټلو آرزوګانو د سرته رسولو په خاطر خصوصاً کوم وخت ډیره بده ګټه کولای شی او څه باید پع یاد ولرو؟** امپریالستی او ارتجاعی دولتونه د کمونستی ګوند تضعیف کولو او د هغه د جذب د کموالی او له خلکو څخه د بیلوالی په منظور یو تعداد ځوانان د مختلفو وسایلو په واسطه سره تطمیع کوی او د خپلو چټلو آرزوګانو د سرته رسولو په خاطر خصوصاً په هغه وخت کی ډیره بده ګټه کولای شی چی یو وار یی د مبارزی، مبارزی چیغی وهلی وی او په خلکو کی یی شهرت او نفوذ پیدا کړی وی خو د ارتجاع لخوا: د تطمیع او نورو وسیلو پواسطه سره د ظالمانو تر څنګ ودریږی او د خلکو او د هغو د رهبرانو او لارښوونکی ګوند پرضد له خپلو یارانو سره یو ځای څنګ په څنګ او اوږه په اوږه جنګیږی نو له دی موقع نه سو استفاده کوی او خلکو ته ښیی چی (فلانی هم پرون مبارز وو وګوری چی اوس یی څنګه خپله سمه لاره وپیژندله ، بنا پردی ستاسو بری امکان نلری نو ځکه باید له دولت سره سازش وکړی تر څو چی امتیازات ترلاسه کړی، دا وه زمونږ پورتنی خبره چی استثمارګران او ظالمان هغو کسانو ته ډیر متوجه وی چی د طبقاتی مبارزی په جریان کی یی یو څه شهرت پیدا کړی وی او له هغه شهرت څخه پخپله نفع او د زحمتکشانو د نفعی پرضد استفاده وکړی خو دا باید په یاد ولرو چی « تودی او خلک دی چی شخصیتونه روزی او شهرت ورکوی خو د شخصیت او شهرت

لپاره نه بلکی د خلکو د طبقاتی مبارزی د ښي رهبری او د هغه پر طبقاتی دښمنانو باندی یی د غلبی لپاره منځ ته را باسی او اعتماد پری کوی، خو کله چی اشخاص او رهبران له خپلی لاری څخه انحراف وکړی او د خلکو پرضد حرکت شروع کړی دا وخت دی چی د خلکو لخوا ورکړی شوی کریدت او اعتماد بیرته تری سلبیږی او په خپلو صفونو کی یی د ارتجاع د تالي ښتی په حیث چی د هغی نوکر ګرځی مشهور وی.

**۲ – په لنده ډول سره به د ارتجاعی حاکمه طبقاتو ځینی امتیازات کوم کوم وی؟:** باید وویل شی چی لکه څنګه چی خلک دوستان ساتی او امتیازات ورکوی، ارتجاعی حاکمه طبقات هم غواړی چی ځوانان د خپلی مزدوری او ارتجاعی نوکری لپاره استخدام کړی، نو ځکه یو لړ مادی او معنوی امتیازات باید دضد خلقی عمل په مقابل کی ورکړی چی په لند دول سره ځینی امتیازات به دا وی:

خارج ته چانس ورکول، په پوهنتون او عالی مکاتبو کی شاملول، کار ورته پیدا کول، د کارګرانو په منځ کی د ځینی معاش دیرول، د مزدور په باشی بدلول، په کلیو کی د دعوو لپاره د ملک لخوا وظیفه ورکول تر څو چی له مدعیانو څخه پیسی واخلی او حاکم ته یی وروړی او ملک ته هم په کی برخه ورکړی، اداری مقام ورکول لکه سرمعلمیت، معاونیت، لوی مدیریت، ریاست او وزارت چی دا هر یو امتیاز، امتیاز اخیستونکی ته د ده دضد خلقی موقف د درجی پر اساس ورکوی. دا هم د یادولو وړ ده چی په عمومی ډول سره په طبقاتی ټولنو کی د ټیټی رتبی مامورین د خلقی جنبش سره یوځای د ارتجاعی او استثمارګرو طبقاتو پرضد مبارزه کوی خو کومه برخه یی د یو لړ امتیازاتو په مقابل کی چی پورته ذکر شول د خلکو پرضد دریږی. شهید داکتر عبدالکریم زرغون، مستربل، ۱۲ – ۱۷ مخونه.

**۳ – د طبقاتی مبارزی په تاریخ کی کوم اصل ثابت شویدی؟ او هغه عناصر چی ارتجاع ته د هغوی د تطمیع ګانو او تهدیدونو په مقابل کی تسلیمیږی لاندنی صفتونه لری:**

دا مشهوره خبره ده چی وایی: « د استثمارګرانو په یوه لاس کی زر او په بل لاس کی زهر دی»، د طبقاتی مبارزی په تاریخ کی دا اصل ثابت شوی دی چی: استثمارګران هیڅکله په ښکاره دا اعلان نه کوی چی مونږ د زحمتکشانو د ستر اکثریت دښمنان یو بلکی تل د ټولنی د خدمتګاری تر شعار لاندی ولسونه او یا د ولسونو نمایندګان ځپی، یعنی: کله چی د خلکو د ګتو ساتونکی ګوند منځ ته راشی نو په لومړی وختونو کی د هغه ګوند یو تعداد غړی او خوشبینان د زرو په واسطه سره تطمیع کوی لکه چی په پورتنی توګه سره د تطمیع کولو په باب یادونه وشوه او که په نوموړی وسیله یی ونه کولای شول نو د خپل جبر او استبداد توره څیره راڅرګند وی او د خلکو واقعی نمایندګان تر مختلفو تهدیدونو لاندی راولی لکه: قصداً د کارګرانو له کاره ویستل، په ښونځیو کی د مبارزو شاګردانو ناکامول، د خلقی معلمینو او مامورینو نا مناسبو ځایونو ته تبدیلول، د هغوی کسر معاش کول، ترفیع ګرځول، له وظیفو څخه شړل، له ښونځیو څخه د زده کونکو اخراج، تعطیل، بندی کول، او بالآخره ترور او پانسی (اعدام) کول دی چی په نهایی تحلیل کښی د استثمارګرو حاکمه طبقاتو لخوا تطمیع (زر ورکول) او تهدید (زهر ورکول) دواړه یو مفهوم لری.

دا هم ښکاره ده چی استثمارګرو طبقو د دی ډول وسلی د پکار اچولو سره یو تعداد هغه عناصر ډیر ښه ښکار کوی چی لاندینی صفات ولری او ارتجاع ته د لوړو امتیازاتو او تهدیدونو په مقابل کی تسلیمیږی:

**<u>الف :</u>** په طبقاتی لحاظ له استثمارګرو طبقو سره نیږدیوالی لرل، **<u>ب :</u>** د خلقی مبارزاتو په بریالیتوب ایمان نه لرل او په عملی او نظری مسئلو کی له ځانه تردد او تزلزل ښودل، **<u>ج :</u>** په مارکسیستی او لنینستی آیدیولوژی مجهز نه وی، سیاسی او طبقاتی شعور یي ښه وده نه وی کړی.

**۴ – لاکن په عمومی ډول سره د کارګری طبقی وفادار نمایندګان د حاکمه طبقاتو د تهدیدونو په مقابل کی څه کوی او حتی د پانسی په وخت کی څه ورته وایی؟** لاکن په عمومی ډول سره د کارګری طبقی وفادار نمایندګان د حاکمه طبقاتو د هر ډول تطمیع ګانو او تهدیدونو په وړاندی نه تسلیمیږی او حتی د پانسی په وخت کی ورته داسی وایی چی:

**<u>الف:</u>** دا منم چی ما به اعدام کړی ولی نشی کولای چی ټول کارګران، بزګران او نور زیارایستونکی اعدام کړی او یا یی په پانسی وخیژی. **<u>ب :</u>** زه په دی افتخار کوم چی ټولو زیارایستونکو خلکو د ګټو د ساتلو په خاطر د اعدام حلقی ته غاړه ورکوم. **<u>ت :</u>** دا منم چی زما وینی به تویی کړی خو پدی پوه شه چی زما د وینو هر څاڅکی به د نورو سلهاوو انقلابی ځوانانو د بیداری، ودی او تکامل سبب شی، **<u>ث :</u>** زما ورونه اولاد، مور او پلار او بالآخره دوستان شاید زما د خلاصون په انتظار کښی وی ځکه چی زما په شان د ډیرو مود، پلار، اولادونه او دوستان په انتظار کی دی هغوی محروم دی، محرومان همیشه په انتظار کی وی. **<u>ج :</u>** که چیری ژوند د خوندورو او بوخښل او یا د ځو پسونو د غوښو خوړل وی، زه یی له شته نه په نه شته راضی یم، ځکه چی زه د مصنوعی پارو ماشین کیدای نشم چی یوازی وخورم او پارو تولید کړم بلکی زه دا ډول ژوند هغه چاته وربخښم چی غواړی په هرقیمت حتی په بیشرافتی او بی ناموسی ژوندی پاتی شی، زه دا نه غواړم چی وایی: (سپی دی وم خو ژوندی دي وم)، **<u>ح :</u>** تاسی کولای شی چی ما بندی کړی، تاسی کولای شی چی ما اعدام کړی او یا ډیره ډیره بی عزتی راکړی ولی هیڅوک نشی کولای چی حقیقت بندی کړی او د اعدام حلقی ته یی پورته کړی، حقیقت ژوندی دی او ژوندی به وی. **<u>خ :</u>** تاسی باور وکړی لکه څومره چی تاسی زما د اعدام د حکم په ورکولو او بندی کولو آرام او بی تفاوته یاست، زه هم په هماغه اندازه بی تفاوته یم، هغه وخت شاید زه وارخطا شوی وای چی خپل ځان راته خائین او ګنهګار ښکاره شوی وای، زه خپل اعدام ته وارخطا نه یم، آرام یم او آرامی حس کوم ولی نشم کولای چی د خپل ملت د مظلومو خلکو د لوږی، بی کوری،

بی لباسی او نور بدبختیو په هکله بی تفاوته پاتی شم. **د :** زه دا نشم منلای چی یوه دی دلسو جریبو ځمکی څخه دیوالونه چاپیر کړی او د خپل نوم او ځان لپاره دی پکی د هستوګنی تعمیرونه او د ساعت تیری ځایونه جوړ کړی خو د خلکو اکثریت دی بیا حتی د بیده کیدو له پاره یو لویشت ځای هم ونه لری. **ذ :**زه ستا دار او زندان منم خو دا نشم منلای چی زمونږ د هیواد خلک ډیر شمیره دی د ژمی په سختو څپلیو کی د سړکو غاړی ته لکه مجسمی ناست وی او هډوکو بی غوښو لوڅ لاسونه یی د سړک د تیریدونکو خوا ته د سوال په منظور نیولی وی. **ر :** ظالمه! زه ستا په دی دلیل کله قانع کیدای شم چی لکه د یوه لاس ګوتی چی سره برابری نه دی نو د یوی ټولنی خلک هم داسی سره نشی برابریدلای. **ز :** که دوه زامن چی یو د بدای او ثروتمند او بل د غریب او نادار په کور کی تولد شی د دوی په تولد او دارایی که څه فرق موجود دی آیا هغه چی د بدای په کور کی تولد شوی دی له ځان سره یی د ثروت کومه پانګه راوړی ده؟ **س :** ظالمه! ته کولای شی چی ما بندی کړی ولی لوږه، بی کوری او دردونه نه شی بندی کولای او هغه طبعاً زه غوښتونکی یم نه یوازی زه بلکی زما په څیر به ډیر دی کارته دوام ورکړی. **ش :** زه دا څنګه ومنم چی خلک او د خلکو لوڼه او زامن دی د شفاخانی مخی ته له ناروغی مری خو هغوی ته د ډاکتر د ورتلو نوبت او چانس نه شته. **ص :** لنډه دا چی زه ستا دار او زندان منم خو د خپل رنځور ملت او غم ځپلو خلکو دا ډول دربدری او بدبختی نشم منلای، **ض :** راشی! داسی، دا مو قضاوت او دا مو بندی خانه او اعدام ! خو زه په دی عقیده یم او تاسی هم په دی پوه شی چی خلک به حتماً راپاڅیږی، سره یوه به شی او بیا به هیڅ‌ته دا موقع په لاس ور نه کړی چی د خلکو د عدالت، برابری او د ورورولی غوښتونکی او د خلکو واقعی نمایندګان دی د محاکمی میز او یا اعدام ته پورته کړی، **ط :** د دی ظلمونه او بیرحمانه ربړونو انتقام به خلک واخلی او دا یو حامی کار دی. **ظ :** زما هډوکی، وینه او د بدن ټولی حجری خلقی دی، ز د خلقی جنبش او کمونیزم صادق او وفادار عاشق یم او په دی لاره کی هر ډول قربانی ته په ورین تندی سره ولاړ یم او پری افتخار کوم. **ع :**زما هیواد ستاسو له لاسه د ټولو خلکو لپاره زندان دی او تاسی د دی زندان د دروازو څوکیداران یاست، زما چیغه، زما فریاد، زما زګیروی او زما اسویلی به د دی زندان له دروازو څخه هغه نورو زندانیانو ته ور ورسیږی، هغوی به په یوه زور را پاڅیږی او ددی زندان قلفونه به مات کړی او ستاسو په راپرزولو سره دا زندان په جنت بدل کړی.

تاریخی تجربو ښودلی او اجتماعی تکامل په وار وار ثابته کړیده چی د تهدید د وسیلی پر اساس که هر څومره ارتجاعی او استثمارګر طبقات خلک او د دوی واقعی نمایندګان تر فشار لاندی ونیسی بیا هم نشی کولای چی د تکامل د اجتماعی پروسی او د مترقی قوتونو د پرمختګ مخنیوی وکړی. شهید داکتر عبدالکریم زرغون. مستربل، ۱۷ – ۲۴ مخونه.

**خاطره:** «مونږ حتماً او حتماً بریالی کیږو ځکه چی زمونږ لاره زرغونه خلقی لاره ده، زرغونه خلقی لاره د نړیوال امپریالیزم، فیودالیزم، ملی بورژوازی او دهغوی شعوری نمایندګانو ضد لاره ده، زرغونه خلقی لاره اصلاً او ماهیتاً یوه مارکسیستی – لنینستی – استالینستی انقلابی لاره ده، زرغونه خلقی لاره د هر ډول استعمار، استثمار او ستم له جغ څخه د افغانستان د کارګرانو، بزګرانو او نورو زیارایستونکو او ترستم لاندی خلکو د خلاصون یوازینی او حقه لاره ده نو: مونږ واقعی زرغون صفته خلقیان په خپله منتخبه زرغونه خلقی لاره باندی سوګند خورو چی، مونږ به له خپلی منتخبی زرغونی خلقی لاری څخه وانه وړو».

«استعمارګران، استثمارګران او دوی شعوری نمایندګان کولای شی چی ټول خلک د یو څه مؤقتی مودی لپاره وغولوی او یو شمیر خلک د تل لپاره وغولوی خو هیڅکله او هیڅکله دا نشی کولای او نه به وکولای شی چی ټول خلک د تل لپاره وغولوی»، « دسیند په اوبو کی پورته تګ قوت او جرئت غواړی او د اوبو له جریان سره موافق تګ مړه کبان هم کولای شی».

**(ملګرو)**

د ستر زرغون د میرسردار او لعل پاچا ملګرو د آقاګل، محمد حنیف او ذکـریا ملګرو

د نیک محمد، عبدالسلام سردار وفا ملګـرو د انور شاه، عزیز بسام، اصیل پادشاه ملګرو

تل په زرغونه خلقی لاره باید کلک ووسو

تری خپل سرونه او مالونه کړو فدا ملګرو

## پای

**۲۸ / ۵ / ۱۳۸۲ هجری شمسی مطابق ۲۴ / ۷ / ۲۰۰۳ میلادی**

**په انترنیت کی د نشر تاریخ: ۷ / ۵ / ۱۳۹۵ لمریز مطابق ۲۸ / ۷ / ۲۰۱۶ میلادی د پنجشنبی ورځ**